الصرف ام العلوم والنحو ابوها

# زاد الطلاب

## فی شرح قوانین الارشاد

مؤلف: الحاج مولوي عبدالحنان ديوبندي
فاضل جامعة العلوم الاسلاميه بنوري تاون كراچي

معاون: احمد یاسین عفی الله عنه

مدرسه عربیه اسلامیه جامع مسجد رحمانی
هلمند لښکرګاه شهید غلتان

Download from:aghalibrary.com

الصرف ام العلوم والنحو ابوها

# زاد الطلاب

## فی شرح قوانین الارشاد

مؤلف: الحاج مولوي عبدالحنان ديوبندي
فاضل جامعة العلوم الاسلاميه بنوري تاون کراچي

معاون: احمد یاسین عفی الله عنه

مدرسه عربیه اسلامیه جامع مسجد رحمانی
هلمند لښکرګاه شهید غلتان

Download from:aghalibrary.com

www.jamairahmani.org

# د کتاب پېژندنه

دکتاب نوم.............. زاد الطلاب (فی شرح قوانین الارشاد)
مؤلف................. الحاج مولوي عبد الحنان ديوبندي
معاون................ احمد یاسین عفی الله عنه
دچاپ شمیر............. یوولس سوه (۱۱۰۰) ټوکه
د چاپ نیټه............. ۱۴۳۳-۸-۲۵ شعبان طبع اول (رنګه)

ادرس................. مدرسه عربیه اسلامیه جامع مسجد رحماني
هلمند لښکرګاه شهید غلتان
داړیکو شمیره.......... ۰۷۰۴۹۶۲۱۶۳

مکتبه حبیبیه کندهار

Download from:aghalibrary.com

www.jamairahmani.org

# مقدمة المؤلف

**الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله محمد وآله وصحبه اجمعين.**

عزتمندو طلبه کرامو کوم کتاب چي ستاسي په لاسونو کښې د**(زاد الطلاب فی شـرح قوانین الارشـاد)** پـه نامـه سره وجود لري . داخه نوی او ناولده کتاب نه دی بلکه دارشاد الصرف دقوانينو مختصر وضاحت دی . کوم چي احقر بنده دارشاد الصرف ددورې پر موقع باندي و شاګردانو ته روزانه درس ليکی او بيا به يې ورته وايه نو دا په حقيقت کښې ددغه دورې ددرسونو يوه مجموعه ده چي بنده د طلبه کرامو په غوښتنه سره بيا دغه ليکل سوي درسونه راجمع کړل او يو داسي کتاب يا شرح ځيني جوړه سوه . ترتيب موږ ودې شرحې ته داسي ورکړی دی

**(اول)** دهر قانون فارسي عبارت مو ذکر کړی دی چي شاګرد په شرح کښې هم فارسي قانون زده کړي .

**(دوهم)** دهر قانون ترجمه يا خلاصه مو تر هغه قانون لاندي (دقانون خلاصه) په نامه سره په آسانه پښتو سره ليکلې ده.

**(دريم)** دهرقانون نوم ، حکم او شرطونه مو دقانون تر خلاصې لاندي د (قانون شرح او تفصيل) تر عنوان لاندي ليکلي دي .دهر شرط سره مو احترازي مثال ذکر کړی دی او په آخره کښې مو اتفاقي يا مطابقي مثال هم ذکر کړی دی .

**(څلورم)** دهر قانون تر ختميدو وروسته مو دهغه قانون داجرآء دپاره يو جدول هم جوړ کړی دی او په هغه کښې مو دهغه قانون تقريباً لس يا څه کمي صيغې دشاګردانو دآسانی او تشويق دپاره ذکر کړي دي او هرکله چي دکتاب دارشاد الصرف يوه مستقله او مکمله او مستوعبه شرحه نه ده نو ځکه مو دبابونو او تعليلاتو ذکر نه دی کړی ځکه

www.jamairahmani.org

چي مشکل شی په ارشاد الصرف کښې قوانین او دهغوی توضیح ده نو مو فقط ددغه مشکل حل په کښې کړی دی.

الله جل جلاله دي زما احقر بنده او زموږ دمدرسې دټولو اساتذه کرامو څخه او خصوصاً زما دمخلص او محبوب دوست او ورور احمد یاسین دیوبندي څخه چي ددې شرحې دچاپ او ترتیب په سلسله کښې زموږ سره غیر معمولي کوښښ کړی دی قبول او مقبول وګرځوي. آمین.

**حرّره العبدالاحقر عبدالحنان خادم الطلبة**

**فی المدرسة العربیة الاسلامیه شهید غلتان هلمند لښکرګاه.**

**۱۸ / ۸ / ۱۴۳۳ شعبان المعظم دیکشنبې ورځ دسهار نهه بجې او درې بالا**

www.jamairahmani.org

# فهرست



| دقانون نمبر | دقانون نوم | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د ضَرَبَنَ اول قانون | ۷ |
| ۲ | د ضَرَبَنَ دوهم قانون | ۷ |
| ۳ | دضربتم قانون | ۹ |
| ۴ | دماضي مجهول قانون | ۱۰ |
| ۵ | دمضارع مجهول دقانون | ۱۱ |
| ۶ | داسم فاعل قانون | ۱۱ |
| ۷ | دمده زائده دقانون | ۱۳ |
| ۸ | د اسم مفعول قانون | ۱۴ |
| ۹ | دنون تثنيه او جمع والا قانون | ۱۵ |
| ۱۰ | دنون تنوين او خفيفه والا دقانون | ۱۶ |
| ۱۱ | دنون اعرابي قانون | ۱۸ |
| ۱۲ | ديرملُونَ قانون | ۱۹ |
| ۱۳ | داقلاب اظهار اخفاء قانون | ۲۱ |
| ۱۴ | دامر حاضر قانون | ۲۲ |
| ۱۵ | دالف فاصله قانون | ۲۴ |
| ۱۶ | دظرف قانون | ۲۵ |
| ۱۷ | د ضُورِبَ او مَضَارِيبُ قانون | ۲۷ |
| ۱۸ | دالف مقصوره او ممدوده قانون | ۲۸ |
| ۱۹ | د حلقى العين قانون | ۳۱ |
| ۲۰ | د (اِعلَمُ ، تِعلَمُ ، نِعلَمُ) قانون | ۳۳ |
| ۲۱ | د شَرآبِفُ دقانون | ۳۴ |
| ۲۲ | د همزه وصلي او همزه قطعي قانون | ۳۶ |



www.jamairahmani.org

| دقانون نمبر | دقانون نوم | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳ | د يُكرمُ او يُصَرفُ قانون | ۳۸ |
| ۲۴ | دباب (تفعل، او تفعلل او تفاعل دماضي مجهولي) قانون | ۳۹ |
| ۲۵ | د يُكرمُ او يَتَصَرّفُ قانون | ۴۰ |
| ۲۶ | د (تصرّفُ ، تضاربُ او تَدَحرجُ ) قانون | ۴۲ |
| ۲۷ | د (ماضي مجهولي) دريم قانون | ۴۳ |
| ۲۸ | د (اِتَّعَد او اِتَّسَرَ ) قانون | ۴۴ |
| ۲۹ | د (اِسَّمَعَ او اِشَّبَهَ ) قانون اجراء | ۴۶ |
| ۳۰ | د اِطَّلَمَ، اِظّلَمَ قانون | ۴۷ |
| ۳۱ | د اِدَّغَمَ ،اِذَّكَرَ، اِزَّجَرَ قانون | ۴۸ |
| ۳۲ | داِثَّبَتَ قانون | ۵۰ |
| ۳۳ | د (خَصّمَ او كَظّمَ )قانون | ۵۱ |
| ۳۴ | د (حروف شمسي او قمري )قانون | ۵۳ |
| ۳۵ | د اِحمَرَّ قانون | ۵۵ |
| ۳۶ | د عِدةٌ قانون | ۵۶ |
| ۳۷ | د اقامةٌ او استقامةٌ قانون | ۵۸ |
| ۳۸ | د مِيعَادٌ قانون | ۶۰ |
| ۳۹ | د وَعَدتَ قانون | ۶۱ |
| ۴۰ | د (اُعِدَ او اِشَاحٌ) قانون | ۶۲ |
| ۴۱ | د (يَعِدُ )قانون | ۶۴ |
| ۴۲ | د (اَوَاعِدُ او اُوَيعِدُ )قانون | ۶۵ |
| ۴۳ | د (ياَجَلُ، يَيجَلُ، ييجَلُ ) قانون | ۶۷ |
| ۴۴ | د يُيسَرُ قانون | ۶۸ |
| ۴۵ | د (قَالَ او بَاعَ )قانون | ۷۱ |


www.jamairahmani.org

| دقانون نمبر | دقانون نوم | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۶ | د (التقاء ساكنينو ) قانون | ۷۴ |
| ۴۷ | د ( قُلنَ طُلنَ ) قانون | ۷۸ |
| ۴۸ | د ( خِفنَ، بِعنَ ) قانون | ۷۹ |
| ۴۹ | د (يقُولُ او يَبِيعُ ) قانون | ۸۱ |
| ۵۰ | د ( يُقَالُ او يُبَاعُ ) قانون | ۸۵ |
| ۵۱ | د ( قَائِلٌ او بَائِعٌ) قانون | ۸۷ |
| ۵۲ | د (قِيَامٌ، قِيَالٌ، حِيَاضٌ ) قانون | ۸۸ |
| ۵۳ | د (قُوَيّلٌ، قُوَيِّلَةٌ ) قانون | ۹۱ |
| ۵۴ | د (قوُلَنّ ) قانون | ۹۳ |
| ۵۵ | د (دُعاءٌ اوبِناءٌ ) قانون | ۹۴ |
| ۵۶ | د (دُعِيَ ) قانون | ۹۶ |
| ۵۷ | د (دُعَى ) قانون | ۹۷ |
| ۵۸ | د ( يَدعُو او يَرمِي) قانون | ۹۸ |
| ۵۹ | د ( يُدعَى ) قانون | ۱۰۰ |
| ۶۰ | د (اَدلٍ تبَنٍ) قانون | ۱۰۱ |
| ۶۱ | د (دِعِيٌ ) قانون | ۱۰۴ |
| ۶۲ | د (لَم يَدعُ او لَم يَرمِ ) قانون اجراء | ۱۰۶ |
| ۶۳ | د (لَتُدعوُنّ او لتُدَعِنَّ ) قانون | ۱۰۷ |
| ۶۴ | د ( تَقوَاى فَتوَى اودُعيَا ) قانون | ۱۰۹ |
| ۶۵ | د (رَخَايَا او خَطَاياَ )انون | ۱۱۰ |
| ۶۶ | د ( رُخَيٌّ، رُخَيَّةٌ ) قانون | ۱۱۲ |
| ۶۷ | د (قَوِيةٌ، قَوِيَانِ ) قانون | ۱۱۴ |
| ۶۸ | د (رَمُو ) دقانون | ۱۱۵ |
| ۶۹ | د (يَامَنُ، يُؤمِنُ ) قانون | ۱۱۷ |


www.jamairahmani.org

| دقانون نمبر | دقانون نوم | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۷۰ | د (اَمَنَ اُومِنَ) قانون | ۱۱۸ |
| ۷۱ | د (سُولٌ، مِيرٌ) قانون | ۱۲۰ |
| ۷۲ | د (جاءٍ ، شاءٍ) قانون | ۱۲۲ |
| ۷۳ | د (يَسئَلُ) قانون | ۱۲۳ |
| ۷۴ | د (خَطيّةٌ مَقروّةٌ) قانون | ۱۲۵ |
| ۷۵ | د (قِرَءیٌ) قانون | ۱۲۶ |
| ۷۶ | د (سَالَ) قانون | ۱۲۷ |
| ۷۷ | د (سُولَ مُستَهزِئُونَ) قانون | ۱۲۹ |
| ۷۸ | د (آلآنَ، آلحَسَنُ) قانون | ۱۳۰ |
| ۷۹ | د (اَوءَیَ ءٌ) قانون | ۱۳۱ |
| ۸۰ | دمضاعف اول قانون | ۱۳۲ |
| ۸۱ | دمضاعف دوهم قانون | ۱۳۳ |
| ۸۲ | د (مضاعف دقوانینو) مختصره قانون | ۱۳۵ |
| ۸۳ | د (دِينَارٌ او شِيرَازٌ) قانون | ۱۳۸ |


www.jamairahmani.org

# دصرفودفن مقدماتي او ابتدايې خبري

## دهرعلم ترشروع کولو مخکښې دځو شيانو پيژندل ضروري دي:

دهغه علم نوم، تعريف دعلم، موضوع دعلم، غرض دعلم، دهغه علم مقام، دهغه علم تدوين، دهغه علم وجه تسميه، دکتاب دمصنف نوم

### نوم دعلم:

ددغه علم پنځه نومونه دي : **علم الصرف، علم التصريف، علم الصيغه، علم الاشتقاق، علم الميزان .**

### دعلم الصرف تعريف:

**تحويل الاصل الواحد الى امثلة مختلفة لمعان مقصودة** (زنجاني) يعني علم الصرف هغه علم دی په کوم کښې چي اصل واحد يعني (مصدر يا فعل) دمختلفو مثالونو طرف ته وګرځول سي او په دې سره مقصودي معناوي حاصلي سي لکه دضرباً ځخه موږ ضَرَبَ او يَضْرِبُ جوړوو ددې دپاره چي (ضَرَبَ) پر تيري زمانې دلالت وکړي او مضارع پر راتلونکي زمانې دلالت وکړي يعني دماضي ځخه به دماضيت او دمضارع ځخه به دمضارعيت دفاعل ځخه دفاعليت او دمفعول ځخه دمفعوليت او دظرف ځخه دظرفيت معناوي حاصليږي نو دغه يې معاني مقصوده سوله .

### دعلم الصرف موضوع:

**الكلمة من حيث الصيغة والبناء.** کلمه په اعتبار دصيغې او بنا سره .

### دعلم الصرف غايت او غرض:

**صيانة الذهن عن الخطاء فى الصيغة** (يعني په صيغه کښي دغلطی ځخه دخپل ذهن او فکرحفاظت کول)

**دعلم الصرف مقام او مرتبه په نورو علومو کښي:** يعني په تمامو علومو کښې وعلم الصرف ته کوم مقام حاصل دی .په دې باره کښې دصرفيانو يوه مقوله مشهوره ده

www.jamairahmani.org

چي :(الصرف ام العلوم والنحو ابوها) يعني علم الصرف وتمامو علومو ته په منزله او مرتبه کښې دمور حيثيت لري او علم النحو دټول علومو دپاره په حيثيت او مرتبه دپلار کښې ده . څرنګه چي مور دانساني نسل دتوليد او پيدا کولو ذريعه ده همدا شان علم الصرف دعربو دلغت دکلماتو دپيدا کولو ذريعه ده ، او څرنګه چي اول وار دماشوم پرورش او تربيه مور کوي همدا شان د طالب العلم رهنمايي دعلومو عاليه دحصول طرفته علم الصرف کوي . او په دې باره کښې علماء کرامو نور اشعار هم سته .

النحو فی الکلام کالملح فی الطعام والصرف للمرام کالعین للانام

النحو للعلوم کالضوء للنجوم والصرف فی العلوم کالبدرفی النجوم

## دعلم الصرف مبادی:

(المقدمات المستنبطة من تتبع ا ستعمال کل العرب) يعني دعلم الصرف مبادي هغه مقدماتي دي کومي چي د عربو دکلام د استعمال او تتبع وتلاش څخه را ايستل سوي وي .

## دعلم الصرف مدون او جوړوونکی

په دې باره کښې دعلماء کرامو مختلف قولونه دي . **اول:** دعلم الصرف موجد او واضع علامه معاذ بن مسلم هروي رحمة الله عليه دی . **دوهم:** دعلم الصرف مدون اول ابوعثمان بکر بن حبيب المازني رحمة الله عليه دی کوم چي تبع تابعي دی.

## وجه تسميه کتاب

ددغه کتاب نوم ارشاد الصرف دی. ارشاد دباب افعال څخه مصدر دی چي په معنی د اسم فاعل مرشِدٌ دی او دالصرف لفظ مضاف چي (عِلم) دی هغه محذوف دی اصلي عبارت داسي دی (مرشد علم الصرف) يعني دعلم الصرف لاره ښوونکی .

## دکتاب دمصنف نوم

دارشاد الصرف دمصنف دنوم په باره کښې دعلماء کرامو اختلاف دی . ليکن حقيقت دادی چي ددغه کتاب دمصنف نوم حضرت مولانا خدابخش صاحب دی چي انتهايي

www.jamairahmani.org

متقي او ديندار ه شخص وو تر دې پوري چي ده تر آخر پوري خپل نوم هم ښکاره نه کړی او همدغه دده داخلاص علامه ده چي تر ننه پوري دده کتاب په ټوله عربي او ديني مدارسو کښې درسيږي .

**سه اقسام :** اسم، فعل، حرف

**شش اقسام:** ثلاثي مجرد ، ثلاثي مزيد فيه، رباعي مجرد ، رباعي مزيد فيه ، خماسي مجرد ، خماسي مزيد فيه .

**هفت اقسام:** صحيح ،مثال ، مهموز، اجوف، ناقص، مضاعف، لفيف.

**دوازده اقسام:** ماضي، مضارع، اسم فاعل، اسم مفعول، فعل جحد ، فعل نفی، فعل امر، فعل نهی، اسم زمان ، اسم مکان، اسم آله، اسم تفضيل.

## دقوانينو ترشروع کولو مخکښې يو څو فوائد

### دهر مبتدي طالب العلم دپاره دقوانينو تر شروع کولو مخکښې ديو څو فائدو پيژندل ضروري دي .

**اولـه فائـده:** دقانون لغوي معنی. قانون په لغت کښې (مسطرة الکتاب) يعني دليکو دجوړوولو آلې ته ويل کيږي . او په اصطلاح کښې داهل لغت يې تعريف دادی : (القانون قاعدة کلية تشمل علی جميع جزئيات موضوعها) يعني قانون هر هغه کلي قاعده ده چي د خپلي موضوع ټولو جزئياتو ته شامل وي . مثلا موږ وايو (کل فاعل مرفوع ) دايوه قاعده ده او په دې قاعده کښې فاعل موضوع دی . او مرفوع يو حکم دی اوس نو چي هرچيري فاعل موجود وي هغه ددغي قاعدې دموضوع جز دی او هغه به مرفوع وي په دغه قاعدې او حکم سره .

**دوهمه فائده:** لفظ دقانون دسرياني ژبي يا ديوناني ژبي لفظ دی نه دعربي ژبي .

**دريمه فائده:** دقانون نوم دقانون دموافق مثال سره سم ياديږي نه دمخالف او احترازي مثال سره مثلا موږ وايو داد ضربن قانون دی او ضربن ددغه قانون اتفاقي او مطابقي مثال دی .

www.jamairahmani.org

**ثلورمه فائده:** يو څه الفاظ داسي نور هم په عربي ژبه کښې سته چي د قانون سره هم معنی او همډوله دي لکه ضابطه، قاعده، اصل، میزان، کلیه.

**پنځمه فائده: دقانون دحکم او دشرطونومعنی او مقصد:**

حکم په معنی د فیصلې کولو راځي نو څنګه چي د حکم په ذریعه د قانون د جواز او دوجوب فیصله کیږي ځکه دغه فیصلې ته حکم وایې. بعضي قوانین جوازي دي چي دهغو جاري کول جائز دي او بعضي بیا وجوبي دي چي دهغو جاري کول واجب دي.

**شپږمه فائده:** شرائط جمع دشرط ده. شرط داسي شي ته ویل کیږي چي دهغه دموجودیدلو په صورت کښې قانون جاري کیږي. شرط پر دوه قسمه دی: شرط وجودي، او شرط عدمي. شرط وجودي هر هغه شرط ته ویل کیږي چي دده په موجودیدلو سره قانون جاري سي. او شرط عدمي هر هغه شرط ته ویل کیږي چي دده په نه موجودیدلو سره قانون جاري سي که چیري دی موجود وي بیا قانون نه جاري کیږي.

شرط وجودي بیا پر دوه قسمه دی:

شرط وجودي کامل ــــــ شرط وجودي ناقص

شرط وجودي کامل هر هغه شرط دی چي یوازي دده په وجود سره د قانون حکم جاري سي. او شرط وجودي ناقص هر هغه شرط دی چي یوازي دده په وجود سره د قانون حکم نه سي جاري کېدای تر څو ټوله شرطونه پوره نه سي.

**اوومه فائده:** د قانون مثال. هغه مثال چي موږ یې قانون لره بیانوو هغه پر دوه قسمه دی: مطابقي، احترازي. مطابقي مثال هغه دی چي په هغه کښې د قانون حکم جاري سي. او احترازي مثال هغه دی چي په هغه کښې د قانون حکم جاري نه سي.

**اتمه فائده:**

**داسم فاعل تعریف:** اسم فاعل هر هغه اسم دی چي پر معنی مصدري دلالت کوي او دغه معنی مصدري دده سره په طور دحدوث (اونوي والي) قائمه وي نه په طور ددوام او همېشه توب لکه (زید ضاربٌ).

www.jamairahmani.org

**دصفت مشبه تعريف :** صفت مشبه هر هغه اسم دی چي پر معنی مصدري دلالت کوي او دغه معنی مصدري دده سره په طور دثبوت او دوام قائمه وي لکه (زيدٌ حسِينٌ) زيد ښائسته دی.

**داسم تفضيل تعريف:** اسم تفضيل هر هغه اسم دی په کوم کښې چي دزيادتی او بهتری والا معنی موجود وي نسبت وغير ته لکه (زيد اضربُ مِن عمروٍ).

**داسم مبالغې تعريف :** اسم مبالغه هر هغه اسم چي دزيادتی او بهتری معنی فی نفسه په کښې وي نه نسبت وغير ته لکه ( ضرّابٌ )ډيرو هونکی....

## دقوانينوشروع او ابتداء

حضرت مولانا عبدالقيوم قاسمي صاحب دامت برکاته (صاحب معارف الصرف رادو شرح دارشادالصرف ) دارشاد الصرف ټول قوانين يواتيا (۸۱ )داني ګرځولي دي .خو موږ بيا ټوله دطلبه کرامو دآسانی دپاره درو اتيا (۸۳ ) دانې کړل .خومولوی حکمت الله راغب سابق ناظم مدرسه عربيه اسلاميه هذا بيا په بيان الصرف کښې ليکلي دي چي د ارشاد الصرف ټول قوانين نه اويا (۷۹)دي او هغه بياپرهفت اقسام باندي داسي ويشل سويدي چي څلورديرش( ۳۴) دصحيح مجرد اومزيد دي، اونه(۹ )دمثال دي، لس(۱۰) داجوف دي، څوارلس( ۱۴) دناقص دي، لس (۱۰ دمهموزدي، دوه(۲) دمضاعف دي چي ټول نه اويا(۷۹) قانونه کيږي خو په بعضوشروحاتو کښې کم يازيات تردي ښودل سوي دي هغه په دي معنی چه څه قوانين ئي سره ګډ کړي وي او ځنی يې بيا سره جلا کړي په حقيقت کښې کوم خاص ټکر نسته په دغه باب کښې .

## دطلبه کرامو دپاره يوه خيرخواهانه مشوره او توصيه

هر هغه شاګرد چي دصرفو په فن کښې مهارت غواړي نو دي دصيغو اجراء ددغه لاندي ليکل سوي جدول په ترتيب سره وکړي ان شآء الله عنقريب به په دي فن کښې ورته مهارت تامه او سربېره پر دې به ورته دصيغو دحل ملکه ورته حاصله سي

www.jamairahmani.org

# نقشه اجراء صيغ

| شماره | موزون | وزن | اصل | سہ اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | ماده | باب | قانون | صيغه | نظير | حروف اصلی | حروف زوائد |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | بلغن | فعلن | بلغتن | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | ب ل غ | نصر | ١،٢ ضربن | صيغه جمع مونث غائب فعل ماضي معلوم | خرجن | بلغ | نسته |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |

www.jamairahmani.org

## د ضَرَبنَ اول (۱) قانون

احتماع دو علامت تانیث در فعل مطلقا ممنوع است
و در اسم وقتیکے از یک جنس باشد

**دقانون خلاصه:** دوې علامې دتانیث په فعل کښې مطلقا یوځای کیدل منع دي یعني که دیوه جنسه څخه وي او که دجلا جلا جنسه څخه وي او په اسم کښې بیا هغه وخت منع دي چې دواړي دیوه جنسه څخه وي.

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (ضَرَبنَ ) اول قانون دی. په دغه قانون کښې یو حکم او درې شرطونه دي یو شرط دفعل دپاره دی او دوه شرطونه بیاداسم لپاره دي. **حکم** یې دادی چې دوې علامې دتانیث که په فعل کښې وي او که په اسم کښې وي یوه حذف کول واجب ده. **دفعل شرط** دادی چې دوې علامې دتانیث به په کښې جمع وي احترازیې د (ضَرَبَت ) څخه وکړی ځکه چې دلته یوه علامه دتانیث ده هغه (تا ) ده. **دفعل مطابقي مثال:** د (ضَرَبتَنَ څخه ضَرَبنَ ) ویل واجب دي.

## داسم دوه شرطونه

**اول شرط:** دوې علامې دتانیث که په اسم کښې وي یو ځای والی یې منع دی احترازیې د (ضَارِبةٌ ) څخه وکړی ولې چې دلته یوه علامه دتانیث راغلې ده.

**دوهم شرط:** دادی چې دغه دوې علامې به دیوه جنسه څخه وي احترازیې د (ضُربیَاتٌ ) څخه وکړی ځکه چې دلته دوې علامې دیوه جنسه څخه نه دي دجلا جلا جنسه څخه راغلي دي. **داسم مطابقي مثال:** د ( ضَارِبَتَاتٌ څخه ضَارِبَاتٌ ) ویل واجب دي.

## د ضَرَبنَ دوهم (۲) قانون

احتماع اربع حرکات متوالیات دریک کلمه

www.jamairahmani.org

وحکم وے ممنوع است

**دقانون خلاصه:** يو ځای کيدل دڅلورو حرکتونو پرله پسي په يوه کلمه کښي يا په داسي موقع کښي چي په حکم کښي ديوې کلمې وي منع دي.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (ضَرَبْنَ) دوهم قانون دی، ددې دپاره يو حکم دی درې شرطونه دي. **حکم** يې دادی چي دڅلورو حرکاتو څخه ديوه حذف کول واجب دي. **اول شرط** يې دادی چي څلور حرکتونه به وي . احترازي مثال يې لکه (ضَرَبَ) دلته درې حرکتونه دي. **دوهم شرط** يې دادی چي داحرکات به پرله پسې وي يعني په مينځ کښې به يې ساکن نه وي . احترازي مثال يې لکه (تَدَحرَجَ) دلته (حا) په مينځ کښې ساکنه ده . **دريم شرط** دادی چي څلور حرکتونه به په يوه کلمه کښې وي که حقيقة يوه کلمه وي او که حکما يوه کلمه وي احترازي مثال يې لکه (ضَرَبَکَ) دغه کلمه نه حقيقة يوه ده او نه هم حکما يوه ده. **اتفاقي مثال** چي حقيقة يوه کلمه وي لکه د (دَحَرَجَ)څخه دَحرَجَ ويل واجب دي .او دحکماً مثال يې لکه د( ضَرَبَنَ ) څخه (ضَرَبنَ ) ويل واجب دي.

## (دضربن داول او دوهم قانون اجراء)

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اَکرَمنَ | اَکرَمَتنَ | دضربن ( ۱ ) |
| وَجَلنَ | وَجَلَتنَ | دضربن ( ۱ ) |
| صَرّفنَ | صَرَفَتنَ | دضربن ( ۱ ) |
| صَادِقَاتٌ | صَادقَتَاتٌ | دضربن ( ۲ ) |
| مُکرِمَاتٌ | مُکرِمَتَاتٌ | دضربن ( ۲ ) |
| مُنصَرِفَاتٌ | مُنصَرِفَتَاتٌ | دضربن ( ۲ ) |
| جَنَّاتٌ | جَنَتَاتٌ | دضربن ( ۲ ) |

www.jamairahmani.org

## دريم (۳) قانون

هر واوے کہ واقع شود درآخر اسم غیر متمکن ماقبلش مضموم آن و اورا حذف کنند وجوباً وماقبلش راساکن می کنند وجوباً مگر واوھو.

**دقانون خلاصه:** هر هغه واو چي په اخر کښې د اسم متمکن راغلی وي او ماقبل يې مضموم وي نو هغه واو حذف کول واجب دي خو واو د (هُوَ) د دي حکم څخه مستثنی دی يعني د غه واو نه حذف کيږي.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (ضَرَبْتُم او اَنتُم) قانون دی، د دې قانون دپاره يو حکم او شپږ شرطونه دي. **حکم** يې دادی چي واو حذف کول او ماقبل يې ساکن کول واجب دي. **اول شرط** دادی چي (واو) به وي احترازي مثال يې لکه (حَيٌّ) دلته يا ده. **دوهم شرط** دادی چي واو به په آخر کښې وي احترازي مثال يې لکه (اَنزَلتُمُوهُ) دلته په مينځ کښې دی. **دريم شرط** دای چي د اسم په آخر کښې به وي احترازي مثال يې لکه (يَدعُو) دلته د فعل په آخر کښې دی. **څلورم شرط** دادی چي اسم به غير متمکن وي احترازي مثال يې لکه (اَدلُوٌ) دغه اسم متمکن دی. **پنځم شرط** دادی چي دواو ماقبل به مضموم وي احترازي مثال يې لکه (ضَرَبتَو) **شپږم شرط** دادی چي دغه کلمه به دبنا صلاحيت لري احترازي مثال يې لکه (هُوَ) ځکه چي دغه لفظ دبنا صلاحيت نه لري. **فائده:** دبنا صلاحيت په اسم او فعل کښې دغه ته وايې چي کم ترکمه به ددغي کلمې د وضع په وخت کښې درې حروفه وي. **اتفاقي مثال:** د (ضربتُمُوُ او انتُمُوُ څخه ضربتُم او انتُم) ويل واجب دي.

## دضربتم دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| اَكرَمتُم | اكرَمتُمُو | ضربتم |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| عَلِمتُم | عَلِمتُمُو | === |
| غَنِمتُم | غَنِمتُمو | === |
| سَمِعتُم | سَمِعتُمُو | === |

## څلورم(۴) قانون

در هر ماضی مجهول حروف متحرکه را حرکت ضمه
وماقبل آخر را کسره باقي را بر حال خود مي دارند وجوباً

**دقانون خلاصه:** په هري ماضي مجهولي کښې که دمجرد دبابه څخه وي اوکه دمزيد دبابه څخه وي ومتحرکو حروفو ته دضمي حرکت وماقبل آخرته دکسرې حرکت اوپاته حروف پر خپل حال پريښوول واجب دي.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دماضی مجهول قانون دی. ددې قانون دپاره يو حکم او يو شرط دی.
**حکم** دادی چې حروف متحرکه وو ته ضمه اوماقبل آخر ته کسره ورکول او پاته حروف پر خپل حالت پرېښوول واجب دي. **شرط:** دادی چې دماضي معلوم څخه به دي دماضي مجهول دجوړولو اراده وي احترازي مثال يې لکه (ضَرَبَ).
**اتفاقي مثال** د (ضَرَبَ او اِحدَودَبَ څخه ضُرِبَ او اُحدُودِبَ ) ويل واجب دي.

## دماضي مجهول دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| اُنصُرِف | اِنصَرَفَ | ماضی مجهول |
| اُکتُسِبَ | اکتَسَبَ | === |
| غُنِمتُم | غَنِمتُم | === |
| سُمِعتُم | سَمِعتُم | === |

www.jamairahmani.org

# پنځم (۵) قانون

در هر مضارع مجهول بر حرف اول ضمه
وما قبل آخر را فتحه خواندن واجب است.

**دقانون خلاصه :** په هره مضارع مجهول کې پر اول حرف باندي ضمه او پر ما قبل اخر باندي فتحه ويل واجب دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دمضارع مجهول قانون دی . ددې قانون دپاره يو حکم او يو شرط دی. **حکم** دادی چي اول حرف ته ضمه ورکول او ما قبل آخر ته فتحه ورکول واجب دي .**شرط** دادی چي دمضارع معلوم څخه به دي دمضارع مجهول دجوړولو اراده وي احترازي مثال يې لکه يَضرِبُ **اتفاقي مثال** لکه ديَضرِبُ څخه يُضرَبُ ، د (يَعلمُ څخه يُعلمُ او ديُكرِمُ څخه يُكرَمُ )ويل واجب دي .

## دمضارع مجهول دقانون اجراء

| قوانين | اصل | موزون |
|---|---|---|
| دمضارع مجهول قانون | يَلبِثُ | يُلبث |
| === | يَفسُقُ | يُفسَقُ |
| === | يَرفَعُ | يُرفَعُ |
| === | يُحرِمُ | يُحرَمُ |

# شپږم (۶) قانون

هر اسم فاعل ثلاثی مجرد غالبا بروزن فاعل می آید واز غیر ثلاثی
مجرد بروزن فعل مضارع معلوم آن باب می آید بآوردن میم مضمومه بجاي

www.jamairahmani.org

حرف اتین وکسره دادن ماقبل آخر را اگر نباشد وتنوین تمکن در آخرش

در آرند وجوبا.

**دقانون خلاصه:** دثلاثي مجرد دباب هر اسم فاعل اکثرو ختونه **دفاعِلٌ** پروزن راځي او دغیرثلاثي مجرد دباب څخه پروزن دخپل باب دفعل مضارع معلوم څخه راځي خود حروف اتین پرځاي باندي میم مضمومه راوړل او ماقبل اخر ته کسره ورکول واجب ده که چیري مخکښې کسره نه وي اوپه اخر کې تنوین تمکن راوړل هم واجب دي.

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم دی داسم فاعل قانون. ددې قانون دوه حکمونه دي دهر یوه حکم دپاره یو یو شرط دی. **اول حکم** دادی چي اسم فاعل پر وزن دفاعِلٌ باندي غالبا ویل واجب دی. **شرط** دادی چي دثلاثي مجرد باب به وي. احترازي مثال یې (یُکرِمُ) دی ځکه چي دامزید فیه دی. **اتفاقي مثال:** د (یَضرِبُ څخه ضَارِبٌ) ویل واجب دي.

**دوهم حکم:** دادی چي اسم فاعل ددغه باب دفعل مضارع معلوم پر وزن ویل واجب دي سره دلږ تغیر او تبدیلی. هغه داچي دحرف مضارعت پر ځای به مضموم میم، ماقبل آخر ته به کسره او په آخره کښې به تنوین تمکن چي علامه داسم ده راوړو. **شرط** دادی چي باب به دثلاثي مجرد څخه نه وي احترازي مثال یې لکه یَضربُ: **اتفاقي مثال** د (یُصَرِّفُ څخه مُصَرِّفٌ او دیُدَحرِجُ څخه مُدَحرِجٌ) ویل واجب دي.

## داسم فاعل دقانون اجراء

| قوانین | اصل | موزون |
|---|---|---|
| داسم فاعل قانون | + | وَاجِلُونَ |
| === | + | مُزدَجَرٌ |
| === | + | نَاصِرُونَ |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| === | + | فَاکِهُونَ |

## اووم(۷) قانون

هر مده زایده که واقع شود در مفرد مکبر بدوم حاوقت بنا کردن جمع اقصی و تصغیر ان را بواو مفتوح بدل کنند وجوبا.

**دقانون خلاصه:** هرمده زائده چې په مفرد مکبر کې پردوم ځاي راغلې وي په وخت کې دجمع اقصٰی او تصغیر دجوړولو هغه مده زائده په واو مفتوحه سره بدلول واجب دي .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم دمده زائده قانون دی . ددې قانون دپېژندلو څخه مخکې ددوو فایدو پېژندل ضروري دي. **اوله فائده:** د(واو) تقاضا داده چې زما ماقبل دې ضمه وي . دیا تقاضا داده چې زما ماقبل دې کسره وي . دالف تقاضا داده چې زما ماقبل دې فتحه وي . ددغه درو سره حروفو څخه کله په مده سره کله په علت تام سره او دواو او یا څخه په حروف لین سره تعبیر کولای سو . مده په هغه وخت کښې ورته ویلای سو چې کله دغه حروف ساکن وي او دماقبل حرکت یې موافق وي لکه ( أُوتِینَا ) . لین ورته هغه وخت ویلای سو چې کله دغه حروف ساکن وي او دماقبل حرکت یې موافق نه وي بلکې زور وي لکه ( خَوفٌ ، او سَیفٌ ) او علت تام په ټولو حالاتو کښې ورته ویلای سو .

**دوهمه فائده:** تصغیر هغه کلمې ته وایې چې په هغه کښې تبدیلي دمحبت ، قلت ، حقارت، او شفقت دمعنی دحاصلولو دپاره وسي . لکه ( قُرَیشٌ ، رُجَیلٌ ، ضُوَیرِبٌ ، بُنَيٌّ ) . ددې قانون دپاره یو حکم او څلور شرطونه دي. **حکم** دادی چې حرف مده په واو مفتوحه سره بدلول واجب دی. **اول شرط:** دادی چې مده به وي احترازي مثال لکه ( قولٌ او بیعٌ ) **دوهم شرط:** دادی چې مده زائده به وي احترازي مثال یې لکه ( بابٌ بیرٌ بُوسٌ ) چې دلته زایده نه دی. **دریم شرط:** دادی چې مده به په دوهم ځای کښې وي احترازي مثال یې لکه (ضُربَی، مضرُوبٌ، شریفٌ ) **څلورم شرط:** دادی چې دجمع اقصی او

www.jamairahmani.org

دتصغير دجوړولو اراده به دي وي احترازي مثال يې لکه (ضاربٌ او ضَارِبَةٌ) **پنځم شرط:** دادی چې په مفرد کښې به وي احترازي مثال ضَارِبَانِ و ضَارِبُون. **اتفاقي مثالونه:** دالف مده : د (ضَارِبةٌ څخه ضَوَارِبُ او ضُوَيرِبَةٌ) ديا مده مثال : د (ضِيرَابٌ څخه ضَوَارِيبُ ، ضُوَيرِيبٌ) دواو مده مثال د (طُومَارٌ څخه طَوَاميرُ او طُوَيمِيرٌ) ويل واجب دي .

## دمده زائده دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| فَوَاكِهُ | فَاكِهَةٌ | دمده زائده قانون |
| نَوَاصِرُ | نَاصِرَةٌ | === |
| شَوَاهِدُ | شَاهِدَةٌ | === |
| دُوَيجِرٌ | دَاجِرٌ | === |
| كَوَارِرُ | كَارِرَةٌ | === |

## اتم (٨) قانون

هر اسم مفعول از ثلاثي مجرد بروزن مفعول می ايد واز غير ثلاثي مجرد بروزن فعل مضارع مجهول آن باب می آيد بآوردن ميم مضمومه بجاي حروف اتين تنوين تم كن در آخرش در آورد ندوجوبا.

**دقانون خلاصه:** هر اسم مفعول دثلاثي مجرد دباب څخه پروزن **دمفْعُولٌ** راځي او دغير ثلاثي مجرد دباب څخه پروزن دفعل مضارع مجهول دخپل بابه څخه راځي خو دحروف اتين پرځاي به ميم مضمومه او په اخركي تنوين تمكن راوړل واجب دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دی داسم مفعول قانون . ددې قانون دوه حكمونه دي دهريوه حكم دپاره

يو يو شرط دى .اول حکم دادى چي اسم مفعول پر وزن د(مَفْعُولٌ) باندي ويل واجب دى .شرط دادى چي دثلاثي مجرد باب به وي . احترازي مثال يې (يُكرِمُ) دى ځكه چي دامزيد فيه دى .اتفاقي مثال: د (يُضْرَبُ ښخه مَضرُوبٌ ) ويل واجب دي .

دوهم حکم دادى چي اسم مفعول ددغه باب دفعل مضارع مجهول پر وزن ويل واجب دي سره دلږ تغير او تبديلى .هغه داچي دحرف مضارعت پر ځاى به مضموم ميم ، او په آخره كښې به تنوين تمكن چي علامه داسم ده راوړو . شرط دادى چي باب به دثلاثي مجرد ښخه نه وي احترازي مثال يې لكه يُضرَبُ .اتفاقي مثال د (يُصَرَّ فُ ښخه مُصَرَّفٌ او دِيُدَحرَجُ ښخه مُدَحرَجٌ ) ويل واجب دي .

## داسم مفعول دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| مسْفُوحٌ | يُسْفَحُ | داسم مفعول قانون |
| مَرجُومَانِ | يُرجَمُ | === |
| مَسطُورٌ | يُسطَرُ | === |
| مَبعُوثٌ | يُبعَثُ | === |
| مُكرمٌ | يُكرَمُ | === |

# نهم (۹) قانون

*هر نون تنوين وقت دخول الف ولام واضافت ونون تثنيه*
*وجمع در وقت اضافت حذف كرده شود وجوباً*

**دقانون خلاصه:** هرنون دتنوين په وخت كښې دداخليدو دالف لام او په وخت كښې داضافت ، او نون د تثنيې و جمعې بيا په وخت كښې داضافت حذف كيږي وجوباً .

www.jamairahmani.org

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دنون تنوين او تثنيه او جمع قانون دی. ددې قانون دپاره يو حکم او درې کامل شرطونه دي. **حکم** دادی چې نون تنوين او نون تثنيه او نون جمع حذف کول واجب دی. **اول شرط:** دادی چې په کومه کلمه کښې تنوين وي پر هغې باندې به الف ولام داخل سوی وي احترازي مثال يې لکه (حَمدٌ) اتفاقي مثال يې لکه (اَلحَمدُ) **دوهم شرط:** دادی دکومې کلمې په آخر کښې چې تنوين وي دهغې کلمې اضافت به بلې کلمې ته سوی وي احترازي مثال يې لکه (غُلامٌ) اتفاقي مثال لکه (غُلامُ زَيدٍ). **دريم شرط:** يې دادی چې په کومه کلمه کښې نون تثنيه او نون جمع وي دهغې کلمې اضافت به بلې کلمې ته سوی وي احترازي مثال يې لکه (ضَارِبَان ضَاربُونَ) **اتفاقي مثال** يې لکه (ضَارِبازَيدٍ ،ضاربُوزَيدٍ ).

## دنون تثنيه او جمع والا قانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| مَرجِعُکُم | مرجعٌ ، کم | دنون تنوين او تثنيه والا قانون |
| عَلَّامُ الغُيُوبِ | علامٌ ، الغيوُبِ | === |
| الوَدُودُ | وَدُودٌ | === |
| ضاربُو زيدٍ | ضاربون ،زيد | === |
| العَالِمُ | عَالِمٌ | === |
| قلمُ بَکرٍ | قلمٌ ،بَکرٌ | === |

## لسم(١٠) قانون

هر نون تنوين وخفيفه رابموافق حـــرکت ماقبـل بحــرف علت بدل ميکنند جوازادر حـــالت وقف.

**دقانون خلاصه:** هر نون تنوين او خفيفه په داسي حرف علت سره چې د ماقبل حركت يي ورسره موافق وي بدلول جائزدي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دنون تنوين وخفيفه قانون دى .ددې قانون دپاره دوه حكمونه دي د هر حكم دپاره درې درې شرطونه دي . **اول حكم** دادى چې نون تنوين په الف سره بدلول كثير دى او ساقطول يې قليل دي. **اول شرط** يې دادى چې نون تنوين به وي . احترازي مثال يې لكه( ضَارِبَانِ) دانون دتثنيې دى. **دوهم شرط** دادى چې دنون تنوين ماقبل به يې مفتوح وي احترازي مثال يې لكه (غَفُورٌ) دلته مضموم دى . **دريم شرط** دادى چې په حالت دوقف كښې به وي .**احترازي مثال** يې لكه (حَكِيمًا نِ الذى) داحالت دوقف نه دى . اتفاقي مثال : دحَكِيمٌ څخه حَكِيماْ ويل كثير دي او حَكِيمُ ويل قليل دي. **دوهم حكم:** دادى چې نون تنوين په حرف علت سره بدلول قليل دي او ساقطول يې كثير دي . **اول شرط** دادى چې نون تنوين به وي احترازي مثال يې لكه ( ضَارِبَانِ ) داتثنيه ده . **دوهم شرط** دادى چې دنون تنوين ماقبل به مضموم يا مكسور وي احترازي مثال يې لكه (حَكِيماً) دلته مفتوح دى . **دريم شرط** دادى چې په حالت دوقف كښې به وي احترازي مثال يې لكه قَدِيرُ نِ الذى )داحالت دوقف نه دى .**اتفاقي مثال** يې د (غَفُورٌ الى حِينٍ) څخه (غَفُورُو الى حِينِي) ويل قليل (غَفُورٌ اِلى حِينِ) ويل كثير دى .

## دنون تنوين او خفيفه والا دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| حَكِيماْ | حَكِيماً | دنون تنوين او خفيفه والا قانون |
| عزيزُو الى حَميدىِ | عزيزٌ الى حميدٍ | === |
| اَكرِمَا | اَكرِمَن | === |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| قاسِمِي | قاسِمٍ | === |
| اِضرِبَا | اضرِبَن | === |
| اِنصرِفا | انصرِفَن | === |
| اِرحما | اِرحَمَن | === |
| اِعلمُوا | اِعلَمُن | === |
| عزيزُو | عزيزٌ | === |

## يوولسم(۱۱) قانون

هر نون اعـــرابي وقت دخول جوازم ونواصـــب ولحوق نون ثقيله وخفيفه وبنـا كردن امر حــاضر معـــلوم حذفـــ كرده شود وجوبا.

**دقانون خلاصه:** هر نون اعرابي دحروف جوازم او نواصب دداخلېدو په وخت كښې او دنون ثقيله او خفيفه دجفتوالي په وخت كښې او دامر حاضر معلوم دجوړولو په وخت كښې حذف كول واجب دي .

## دقانون شرح او تفصيل .

ددې قانون نوم دى دنون اعرابي قانون . ددې قانون يو حكم او پنځه كامل شرطونه دي. **حكم:** دادى چې نون اعرابي حذف كول واجب دي. **اول شرط:** دادى چې په كومه كلمه كښې نون اعرابي راغلى وي پر هغې به دحروفو جوازمو څخه يو حرف داخل سوى وي احترازي مثال : لكه (يَضرِبانِ ، يضرِبُون ) اتفاقي مثال لكه ( لم يضرِبَا ، لم يَضرِبُوا ) . **دوهم شرط:** دادى چې په كومه كلمه كښې نون اعرابي وي پر هغې باندې به دحروفو نواصبو څخه يو حرف داخل سوى وي احترازي مثال : لكه (يَضرِبانِ ، يضرِبُون ) اتفاقي مثال :( لن يَضرِبَا ، لن يضرِبُوا ) . **دريم شرط:** دادى چې په كومه كلمه كښې نون اعرابي وي دهغې په آخر كښې به نون ثقيله لاحق سوى وي احترازي مثال لكه :

(يَضرِبانِ، يضرِبُون) اتفاقي مثال :(لَيَضرِبانِّ ، لَيَضرِبُنّ). **ثلورم شرط** دادى چي په كومه كلمه كي نون اعرابي وي دهغې په آخر كښې به نون خفيفه لاحق سوى وي احترازي مثال : ( تضرِبِينَ ، يَضرِبُونَ ) اتفاقي مثال : لَيَضرِبُن ، لتَضرِبِن ) **پنځم شرط** دادى چي ستا به دامر حاضر دجوړولو اراده وي احترازي مثال يې ( تَضرِبَانِ تَضرِبُونَ ) اتفاقي مثال ( اِضرِبَا ، اِضرِبُوا ) . **فائده:** نون اعرابي هغه نون ته ويل كيږي چي د فعل مضارع په آخر كښې دضمې په عوض كښې راغلى وي .

## دنون اعرابي دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| لن يُكرِما | يُكرِمانِ | دنون اعرابي قانون |
| لم يُدَحرِجُوا | يُدَحرِجُونَ | === |
| اَكرِمُوا | تُكرِمُون | === |
| لَم يَعلَمَا | يعلمان | === |
| لَيَستَخرِجُنّ | يَستَخرِجُونَ | === |

## دوولسم(۱۲) قانون

هر نون ساكن و تنوين را در حروف يرملون ادغام مى كنند
وجوباً ونون متحرك را جوازا بشرطيكه در يك كلمه نباشد
در حروف يمون بغنه و در لر بغير غنه .

**دقانون خلاصه:** دهرنون ساكن او تنوين وروسته چي يو دحروف يرملون څخه راسي نو دغه نون ساكن او تنوين په حروف يرملون كښې مدغم كول واجب دي . او نون متحرك په كښې مدغم كول جائز دي . دادغام وروسته د (يمون) په حروفو كښې غنه كول واجب ده او په (لر) كښې غنه نه كيږي .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم دیرملون قانون .ددې قانون دوه حکمه دي د هرحکم دپاره دوه دوه شرطونه دي .**اول حکم:** دادی چي نون ساکن او تنوین په حروف یرملون سره بدلول او بیا مدغم کول واجب دي .**اول شرط:** دادی چي دنون ساکن او تنوین وروسته به یو حرف دحروف یرملون څخه راغلی وي .احترازي مثال لکه : من کریمٍ ، عزیزٌ قَدِیرٌ.

**دوهم شرط:** دادی چي نون ساکن او نون تنوین او حروف یرملون به په جلا جلا کلمو کښې وي. احترازي مثال : لکه (بُنیانٌ، قِنوانٌ) اتفاقي مثال: د (لَن یَضرِبَ څخه لنّ یضربَ) او د (دافِقٍ یخرُجُ) څخه (دافق یَّخرُجُ) ویل واجب دي .**د وهم حکم** دادی چي نون متحرکه دمابعد په جنس سره کول جائز دي او جنس په جنس کښې مدغم کول واجب دي. **اول شرط:** دادی چي دنون متحرکه وروسته به دحروف یرملون څخه یو حرف وي احترازي مثال لکه : (الذِینَ جَاهَدُوا) دلته دنون څخه وروسته جیم دی.**دوهم شرط:** دادی چي نون متحرکه او ددې څخه وروسته حروف یرملون به په جلا جلا کلمو کښې راغلي وي احترازي مثال لکه (فُنِیَ اتفاقي مثال د (آمَنَ یَزِیدُ څخه آمَن یَّزِیدُ) ویل جائز دي.

## دیرملُونَ دقانون اجراء

| قوانین | اصل | موزون |
| --- | --- | --- |
| دیرملون قانون | لن یُؤمَنَ | لَن یُّؤ مِنَ |
| === | اَن لِبستُم | الّبِستُم |
| === | ان لاتتوکلُ | اَلاّ تَتوَکَلُ |
| === | اَن لاتعبُدُوا | الاّ تعبُدُوا |
| === | من لَدُنهُ | منّ لَدُنه |
| === | رَسولٌ منَ اللهِ | رسُول مّن الله |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| منّ نبی | من نبی | === |

## دیارلسم(١٣) قانون

قانون: هر نون ساکن و تنوین که واقع شود قبل از باء مطلقا آن را بمیم بدل میکنند وجوبًا و قبل از حروف حلقیه ظاهر خوانده میشوند وجوبًا و قبل از الف نمي آیند ودر باقي حروف اخفا کرده آیند

**دقانون خلاصه:** هرځاي چې نون ساکن او تنوین تر (ب) مخکي راسي بیانو که په یوه کلمه کې د (ب) سره وي او که په جلا جلا کلمه کې وي هغه نون ساکن او تنوین په میم سره بدلول واجب دي او که ترحروف حلقیه وو مخکي راسي نو دغه نون ساکن او تنوین بیانېکاره ویل واجب دي او ترالف مخکي نه راځي. او په پاته حروفو کښې به اخفا په کښې کیږي.

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم داقلاب اظهار اخفاء قانون دی. ددې قانون لپاره دري حکمونه او دهر حکم لپاره یویو شرط دی **اول حکم** دادي چې نون ساکن او نون تنوین په میم سره بدلول واجب دي **شرط** دادي چې دنون ساکن او نون تنوین وروسته به حرف (ب) راغلې وي احترازي مثال: مِن رَّبِهِم، غَفورٌ رَحِیمٌ. **اتفاقي مثال** دَینبغیَ اومِن بَعدِ څخه یَنمَبغِي مِنم بعدِ ویل واجب دي **دوهم حکم** یې دادي چې نون ساکن او تنوین ښکاره ویل واجب دي **شرط** یې دادي چې دنون ساکن او تنوین وروسته به یو حرف دحروف حلقیه وو څخه راغلي وي احترازي مثال: من بعد، لفي شقاقٍ بعید. دلته حرف با راغلې ده. **اتفاقي مثال** من حاکمٍ، انعمتَ، علیمٌ حکیمٌ **دریم حکم** دادي چې په نون ساکن او تنوین کښې اخفاء کول واجب ده **شرط** یې دادي چې دنون ساکن او تنوین وروسته به یو حرف دحروفو اخفاء څخه راغلی وي احترازي مثال: مِن حمدٍ، علیمٌ حکیمٌ. **اتفاقي مثال** مَن ثَقُلَت، کُنتُم، زیدٌ کریمٌ.

**فائـده:** حروف هجاء اتـه ويشت دانـيږ دي .شپږ حروف يرملـون دي .او شپږ بيا حروف حلقي دي .يو حرف با ده .او پنځلس حروف اخفاء دي . **حروف يرملون:** خپله ديرملون پـه لفظ کښې معلوم دي . **حـروف حلقـي** پـه دي بيت کی راتـول سـوي دي : حروف حلقي شش بودای نـورعين===همزه، ها وحا، وخا، عين ، وغيـن **حـروف اخفا** پـه لانـدي ډول دي : تـاء وثـاء وجيم ودال وذال وزا وسين وشين صاد وضاد وطا وظا وفا وقاف وكاف بيـن .داظهار ، اقلاب ، اخفاءَ دقانون اجراء پـه تلفظ سره بايد وسـي .

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| يَنبُتُ | يَنبُتُ | نون ساکن پـه با سره بدل سوی دی |
| مَنبَعُ العُلوم | مَنبَعُ العُلوم | === |
| قوماً طَاغينَ | قوماً طَاغينَ | دلته اخفاء كيږي |
| قوماً صَالِحينَ | قوماً صَالِحينَ | === |
| رسولٌ كريمٌ | رسولٌ كريمٌ | === |
| رجُلٌ هاجِرٌ | رجُلٌ هاجِرٌ | دلته اظهار کيږي |
| زيدٌ غَافلٌ | زيدٌ غَافلٌ | === |

## خوارلسم(۱۴) قانون

هرامرحـاضررااز فعـل مضـارع مخـاطـب معـلوم باین طوربنـامی کی کننـدکه اگربعـدازحذف کردن حـرف مضـارعت مابعـدش سـاکن مانده همزه وصلی مضموم دراولش درآورندوجوبابشرطیکه مضـارع نیز مضموم العین باشـدوگرنه مکسوروا گرمابعـدش متحـرک ماندامرهمون شدبوقت اخر.

**دقانون خلاصه:** هرامرحاضرمعلوم دفعـل مضارع معلوم مخاطب څخه پـه داسي ډول جوړيږي كه چيري وروستـه ترحذف كولـو دحرف مضارعت مابعـدد دي حرف مضـارعت ساكن پاتـه سونو همزه وصلي مضمومه يې پـه شروع کي راوړل واجب ده خوپـه دي شرط

چې مضارع به يې هم مضموم العين وي. او که چيرې مضموم العين نه وي نو همزه به مکسوره راوړوا او که چيرې يې مابعد متحرک پاتـه سـونو امر بيا داوخت فقط داخري توري په ساکنولو سره جوړيږي .

## دقانون شرح او تفصيل

داقانون دامر حاضر پـه نامـه سره يـاديږي ددي لپـاره دري حکمـه او دهـر حکـم لپـاره يـي يويو شرط دی خو اول دوه حکمونه هلته جاري کيږي چې دحرف مضارعت وروسته حرف ساکن وي **اول حکم:** دادی چې دحرف مضارعت ترحذف کولو وروسته په شروع کې همزه وصلي مضمومه راوړل او په اخر کې وقف کول واجب دی **شرط** دادی چې هغه مضارع چې امر ځيني جوړيږي مضموم العين به وي احترازي مثال تَصَرّفُ داتـه متحـرک دی . **اتفاقي مثال** دتَنصُرُ څخه اُنصُر ويل واجب دي **دوهم حکم** دادی چې دحرف مضارعت ترحذف کولو وروسته په شروع کې همزه وصلي مکسوره راوړل او په اخرکې وقف کول واجب دي. **شرط** دادي چې مضارع به مضموم العين نه وي احترازي مثال تنصُرُ. **اتفاقي مثال** دتَضرِب وتعلَمُ څخه اِضرِب واِعلَم ويل واجب دي **دريم حکم** دادی چې دحرف مضارعت ترحذف کولو وروسته دامر په آخر کښې وقف کول واجب دی **شرط** دادي چې ترحرف مضارعت وروسته حرف به متحرک وي احترازي مثال تَضرَبُ تنصُرُ **اتفاقي مثال** دتُصرِّفُ څخه صَرِّف او د تُدَحرَجُ څخه دَحرِج ويل واجب دي.

## دامر حاضر دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| اِعلَمُوا | تَعلَمُونَ | دامرحاضر قانون |
| افتَحُوا | تَفتَحُونَ | === |
| اُنصُرُوا | تَنصُرُونَ | ===== |
| ضَارِب | تُضَارِبُ | === |

| | | |
|---|---|---|
| ارغَب | تَرغَبُ | === |
| ارجِعُوا | تَرجِعُونَ | ====== |
| أُسجُدُوْا | تَسجُدُونَ | ===== |

## پنځلسم(١٥) قانون

چون نون تاکید ثقیله بانون ضمیری متصل شود الف فاصله میان ایشان در آرند وجوبا

**دقانون خلاصه:** هرکله چې نون تاکيد ثقيله دنون ضميري سره يوځاي سي نو الف دفاصلې يې په مينځ کښې راوړل واجب دی .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دالف فاصله قانون دی ددې لپاره يو حکم اويو شرط دی **حکم** دادی چې دنون ضميري او نون تاکيد ثقيله په مينځ کښې الف فاصله راوړل واجب دی.

**شرط:** دادی چې نون تاکيد ثقيله به د نون ضميري سره متصل وي .احترازي مثال (لَيَكُونَنّ) دلته نون تاکيد دنون اصلي سره متصل سوی دی **اتفاقي مثال** دِاضرِبَنَنّ څخه اِضرِبنانِّ ويل واجب دي .

## دالف فاصله دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| لَتَسمَعنَانِّ | لَتَسمَعنَنّ | دالف فاصله قانون |
| اِرجِعنَانِّ | ارجِعنَنّ | === |
| دَحرَجنَانِّ | دحرَجنَنّ | === |
| اَكرِمنانِّ | اَكرِمننّ | === |
| لَيَفعَلنَانِّ | ليفعلنَنّ | === |
| اُقْتُلنَانِّ | اُقتُلنَنّ | === |

www.jamairahmani.org

| لتدخُلنَانِّ | لتدخُلنَنّ | === |
| --- | --- | --- |

## شپاړسم(۱۶) قانون

ظـرف صحیح ومھموزواجوف که مضارع او بروزن یَفْعِلُ ومثال مطلقاپروزن مَفعِلٌ می آید وظـرف صحیح ومھموزواجوف که مضارع اواز غیر (یَفعِلُ) وناقص ولفیف ومضاعف مطلقا بروزن مَفْعَلٌ می آید وماسوائی ایشان شاذاست واز غیر ثلاثی مجرد بروزن اسم مفعول آن باب می آید وجوبا.

**دقانون خلاصه:** اسم ظرف دصحیح اومهموزاو اجوف دباب څخه چې کله يي مضارع د**يَفْعِلُ** پر وزن وي (يعنى مكسورالعين وي) او دمثال دباب څخه مطلقا كه ئي مضارع د**يَفعِلُ** پروزن وي اوكه نه وي د**مَفْعِلٌ** پروزن راځي . اودصحيح او مهموز اواجوف باب چي كله يې مضارع ديفٰعِلُ پروزن نه وي اودناقص او لفيف اومضاعف دباب څخه مطلقا پروزن د**مَفْعَلٌ** راځي اوماسوى ددې اوزانو څخه نوروزنونه بيا دظرف شاذ دي . اودغير ثلاثي مجرددباب څخه اسم ظرف دخپل باب داسم مفعول پروزن راځي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دظرف قانون دی . ددې قانون څخه مخکې ددوو فائدوپيژندل ضروري دي.

**اوله فائده:** داده چې اسم ظرف په ثلاثي مجرد کښې پردوه وزنه راځي د (مَفعِلٌ) پر وزن په کسره دعين سره . او د(مَفعَلٌ) پروزن په فتحه دعين سره اوپه غير ثلاثي مجرد کې پروزن داسم مفعول دخپل باب راځي .

**دوهمه فائده:** داده چې شاذ پردري قسمه دي شاذ احسن، شاذحسن، شاذقبيح – **شاذاحسن** دې ته وايې چې دقاعدې مخالف وي خو داستعمال موافق وي او **شاذحسن** دې ته وايې چې دقاعدې موافق اوداستعمال مخالف وي او **شاذقبيح** دې ته وايې چې

ددواړو مخالف وي ددروسرو مثالونه دلته وګوری . دسَجَدَ يَسجُدُ څخه (مسجِدُ اومسجَدٌ و مسجُدٌ) ويل . ددي قانون لپاره دري حکمه دی داولو دوو حکمونو لپاره دوه دوه کامل شرطونه دي ددريم حکم لپاره يو شرط دي **اول حکم** دادی چې اسم ظرف پروزن دمفعِلٌ ويل واجب دي **اول شرط** دادی چې باب به دصحيح مهموز او اجوف وي او مضارع به يي ديفعِلُ پروزن وي احترازي مثال ينصُرُ **اتفاقي مثالونه** دصحيح اتفاقي مثال د (ضَرَبَ يضرِبُ څخه مضرِبٌ ) ويل .دمهموز اتفاقي مثال د (اَزَدَ يأزِدُ څخه مأزِدٌ) ويل داجوف اتفاقي مثال د (طَوَحَ يطوِحُ څخه مَطوِحٌ ) ويل واجب دي **دوهم شرط** دادی چې دثلاثي مجردد باب څخه به مثال وي مطلقا احترازي مثال (نَصَرَ ينصُرُ ) **اتفاقي مثال** د (وَعَدَ يعِدُ څخه مَوعِدٌ )او د (يَسَرَ ييسِرُ څخه مَيسِرٌ ) ويل واجب دي

**دوهم حکم:** دادی چې اسم ظرف دمَفعَلٌ پروزن ويل واجب دی.

**اول شرط** دادي چې باب به دصحيح مهموز او اجوف وي او مضارع به يي دغير يَفعِلُ پروزن وي يعني ديَفعِلُ پر وزنه به نه وي احترازي مثال ضَرَبَ يضرِبُ **اتفاقي مثالونه:** د صحيح اتفاقي مثال د (نَصَرَ ينصُرُ څخه مَنصَرٌ ) ويل دمهموز اتفاقي مثال د (امَرَ يأمُرُ څخه مأمَرٌ ) ويل واجب دي. داجوف اتفاقي مثال د(قالَ يَقُولُ څخه مَقوَلٌ ويل ) **دوهم شرط** دادی چې دلفيف او مضاعف باب به وي مطلقا احترازي مثال ضَرَبَ يضرِبُ **اتفاقي مثالونه** دناقص اتفاقي مثال د (دَعَا يدعُو څخه مَدعَىً ) دلفيف اتفاقي مثال د (وَقَىَ يَوقِي څخه مَوقىً )دمضاعف اتفاقي مثال د (مَدَّ يمُدّ څخه مَمَدٌّ ويل واجب دي .

**دريم حکم** دادی چې ظرف دخپل باب داسم مفعول پروزن ويل واجب دي **شرط** دادی چې باب به دغير ثلاثي مجرد څخه وي احترازي مثال ضَرَبَ يضرِبُ اتفاقي مثال د (اکرَمَ يُکرِمُ څخه مُکرَمٌ )او د (يُدحرِجُ څخه مُدحرَجٌ ) ويل واجب دي .

www.jamairahmani.org

## دظرف دقانون اجراء

| موزون | باب | قوانین |
|---|---|---|
| مَنسَكٌ | نَصَرَ ينَصُرُ | دظرف قانون |
| مَعبَدٌ | ==== | === |
| مَعلَمٌ | سَمِع يَسمَعُ | === |
| مَحمَدٌ | ==== | === |
| مَغسِلٌ | ضربَ يضربُ | === |
| مَرجِعٌ | ===== | === |
| مَوجِلٌ | ==== | === |
| مُدَحرَجٌ | رباعي مجرد | === |

## اوو لسم(۱۷) قانون

ھر الف کہ حـــرکت ماقبلش مخـــالفش شود آن رابو فق حـــرکت ماقبــل بحـــرفـــــ علـــت بدل کننـــد وجوبا.

**دقانون خلاصه:** هركله چې دالف دماقبل حركت دده څخه مخالف سو نوهغه الف په داسي حرف علت سره بدلول چې دالف دماقبل د حركت د جنس څخه وي واجب دی .

## دقانون شرح او تفصيل

**تفصيل:** ددې قانون نوم د (ضُورِبَ، مضاَرِيبُ) قانون دی ددې قانون لپاره يو حكم او دوه شرطونه دي **حكم** دادی چي الف دماقبل حركت موافق په حرف علت سره بدلول واجب دی **اول شرط** دادی چي الف به وي احترازي مثال لكه (قَولٌ ، بَيعٌ) دلته الف نسته . **دوهم شرط** چي دماقبل حركت به دده سره مخالف وي احترازي مثال لكه (قالَ

www.jamairahmani.org

باع) اتفاقي مثال دضَارَبَ او مِضرابٌ څخه ضُورِبَ اومَضارِيبُ او مُضَيرِيبُ ويل واجب دي.

## د ضُورِبَ او مَضَارِيبُ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| قُووِلتُم | قاولتُم | دضُورِبَ او مَضَارِيبُ قانون |
| ضُورِبتُم | ضَارَبتُم | === |
| مضَارِيبُ | مِضرَابٌ | === |
| لُومِستُم | لامَستُم | === |
| مَصَابِيحُ | مِصبَاحٌ | === |
| سُوفِرَ | سَافَرَ | === |
| مَسَامِرُ | مِسمَارٌ | === |

## اتلسم(۱۸) قانون

هر الف مقصوره سیوم جا بدل از واویا اصلي که اماله کرده نشود وقت بنا کردن تثنیه وجمع مونث سالم آن را بواو مفتوحه بدل کنند و جوباً وغیر ش را یا ممدوده اصلي را ثابت دارند و تانیث را بواو بدل کنند وجوباً در غیر ایشان هر دو وجه خواندن جائز است.

**دقانون خلاصه:** هرهغه الف مقصوره چې دريم ځاي بدل دواو څخه راغلی وي يااصلي وي خو اماله نه وي پکښې سوې دتثنيي اوجمع مؤنث سالم جوړولو په وخت کښې په واو مفتوحه سره بدلول واجب دی. اوماسوی ددې څخه په (يا) سره بدليږي. اوالف ممدوده که اصلي وو ثابت او پر خپل ځای پريښوول کيږي اوتانيثي په واو سره بدلول واجب دی اوماسوی ددغه دوو قسمو څخه چې وي په هغه کښې دواړي وجې رواه دي يعنی ثابت پريښوول هم اوپه واو سره بدلول هم.

www.jamairahmani.org

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم دالف مقصوره او الف ممدوده قانون دی ددي ترمخه ددوو فائدوپيژندل ضروري دي .

**اولـه فايـده:** کوم الف چې داسم متمکن په آخرکښې راځي هغه پردوه قسمه دی . **مقصوره ، ممدوده.** الف مقصوره هغه الف دي چې ترهغه وروسته همزه نه وي او لنډ اداکيږي لکه (عصا اوحُبلی) اوالف ممدوده هغه الف دي چې تر هغه وروسته همزه وي اواوږد اداء کيږي . لکه (قُرّاءُ حَمراءُ) اوالف مقصوره بيا پردوه قسمه دی . **اصلي او غير اصلي** . اصلي هغه الف دي چي بدل دواواويا ء څخه نه وي راغلی لکه (ضُربی) اوغيراصلي هغه الف دي چې بدل دواواويا ء څخه راغلی وي لکه (عَصاوَرحَا) چې په اصل کې عَصَوَ اورَحَیَ وو . اوالف ممدوده پرڅلورقسمه دی .

**(۱)اصلي (۲) تانيثي (۳) مبدل (۴) الحاقي**

**اصــلي:** هغـه الـف ممـدوده دی چـي دلام کلمـي پـه مقابـل کـې راغلـي وي خـو بـدل دواواويا څخه نه وي لکه (قُرَّآءُ)

**تانيثي:** هغه الف ممدوده دی چي دمؤنث لپاره راغلي وي لکه (حَمرآءٌ) **مبدل** هغه الف ممدوده دی چي بدل دواواويا ء څخه راغلی وي لکه (کِسَاءٌ) چې په اصل کښې کسَوٌ . **الحاقی:** هغه الف ممدوده دی چي دکوچني کلمي په پاي کښې راغلی وي ددي لپاره چې دغه کوچنی دبلي لوی کلمې سره هم وزنه سي لکه **د**عِلبَاءٌ الف چې **د**قِرطاسٌ سره دهم وزنه جوړيدو لپاره زيات سوی دی .

**دوهمه فائده:** اماله څه ته وايي ؟ يعني کږيدل او مائل کېدل دالف دی د (يا) خواته او مائله کېدل دفتحي دکسري وطرفته .

ددي قانون لپاره پنځه حکمونه دي اول دوه حکمونه دالف مقصوره لپاره دي . اوهغه نوردرې بيا دالف ممدوده لپاره دي داولودوو حکمولپاره دوه دوه کامل شرطونه دي

www.jamairahmani.org

اودهغه نورودروحکمو لپاره يويوشرط دى . دالف مقصوره اول حکم: الف مقصوره دتثنيې اوجمع مؤنث سالم جوړولو په وخت کښې په واومفتوحه سره بدلول واجب دى .
اول شرط دادى چې دريم ځاي به بدل دواوڅخه راغلى وي احترازي مثال ضُربى اتفاقي مثال دعَصَا څخه عَصَوانِ ، عَصَوَاتٌ ويل واجب دي .
دوهم شرط دادى چې اماله به نه وي پکښې سوې احترازي مثال (بَلىَ) دلته اماله په کښې سوې ده . اتفاقي مثال دالَیً څخه اِلَوَانِ اِلوَاتٌ ويل واجب دي.
دوهم حکم دادي چې الف مقصوره دتثنيې اوجمع مؤنث سالم جوړولو په وخت کښې په (يا) سره بدلول واجب دى اول شرط: چې دريم ځاي به بدل دواوڅخه نه وي احترازي مثال عَصَا اتفاقي مثال دضُربىَ او مُصطَفى څخه ضُربَيَاَنِ وضُربيَاتٌ مُصطَفيانِ مُصْطفياتٌ ويل واجب دي دوهم شرط چې اماله به پکښې سوې وي احترازي مثال (اِلیً ) دلته اماله نه کيږي اتفاقي مثال دبلی څخه بلَيَانِ بلَيَاتٌ ويل واجب دي.
دريم حکم الف ممدوده دتثنيې اوجمع مؤنث سالم په وخت کښې پر خپل حال ثابت پريښوول واجب دى شرط چې الف ممدوده به اصلي وي احترازي مثال حَمرَاءُ دلته تانيثي دى اتفاقي مثال دقُرَاءٌ څخه قُراءَانِ قُراءَاتٌ ويل واجب دى.
څلورم حکم الف ممدوده دتثنيه اوجمع مونث سالم جوړولو په وخت کښې په واو مفتوحه سره بدلول واجب دي شرط دادي چې الف ممدوده تا نيثي به وي احترازي مثال قُرّاءُ دلته اصلي دى . اتفاقي مثال دحمْراءٌ څخه حَمُرَاوَانِ حَمْروَاتٌ ويل واجب دى .
پنځم حکم الف ممدوده دتثنيې اوجمع جوړولو په وخت کښې هم ثابت پريښودل اوهم په واوسره بدلول دواړه جائز دي شرط الف ممدوده به نه اصلي وي نه به تانيثي وي احترازي مثال قُراءً حَمراءً اتفاقي مثال دکِساءٌ عِلباءٌ څخه کِساوَانِ ، کِساَواتٌ-عِلباوَانِ، عِلباوَاتٌ او کِسَاءآنِ او کساءَ اتٌ او عِلبا ءَانِ عِلبا ءَاتٌ ويل جائزدي .

www.jamairahmani.org

## دالف مقصوره او ممدوده دقانون اجراء

| موزون | باب | قوانین |
|---|---|---|
| مُهلیانِ | مُهلی | دالف مقصوره او ممدوده قانون |
| صحراوَانِ | صَحرآءُ | === |
| مُستعلَیَانِ | مُستَعلی | === |
| مُستقصَیاَن | مُستَقصی | === |
| خِفاَءانِ | خِفآءٌ | ثابت او بدلول دواړه راوه دي |
| رِشاَءانِ | رِشَآءُ | === |
| فَتَیانِ | فَتَی | === |
| خضراَوَاتٌ | خَضرَآءُ | === |

## نو لسم (۱۹) قانون

هر کلمه حلقي العین که بروزن فَعِلَ باشد سوای اصل درآن سه وجه خواندن جائز آند چنانچه درشهِد شَهْدَ شِهْدَ شِهِدَ ودر فَخِذٌ فَخْذٌ فِخْذٌ فِخِذٌ خواندن جائزاست واگر حلقي العين نباشد در فعل سوای اصلي یک وجه ودر اسم سوای این دو وجه خواندن جائزاند چنانچه درعَلِمَ عَلْمَ ودر كَتِفٌ كَتْفٌ كِتْفٌ جائزاست ودروزن فَعُلٌ فَعْلٌ– وفِعِلٌ فِعْلٌ– وفُعُلٌ فُعْلٌ –ودرفُعْلٌ فُعُلٌ خواندن جائزاست.

**دقانون خلاصه:** هرهغه کلمه چې پرعين کلمه باندي حروف حلقي وي اوپروزن باندي دفَعِلَ وي په هغه کې ماسوا دخپل اصل وزن څخه دري طريقې ويل رواه دي لکه په شَهِدَ کې شَهْدَ شِهْدَ شِهِدَاوپه فَخِذٌ کي فَخْذٌ فِخْذٌفِخِذٌ ويل رواه دي اوکه چيري هغه کلمه حلقي العين نه وي نوپه فعل کي ماسوا تراصل يوه وجه اوپه اسم کي دوې وجي ويل رواه

دي لکه په عَلِمَ کی عَلمَ اوپه کَتِفٌ کې کَتْفٌ کِتْفٌ ويل رواه دي اوپه دې اوزانوکې دفَعُلٌ څخه فَعْلٌ اودفِعِلٌ څخه فِعْلٌ او دفُعُلٌ څخه فُعْلٌ او دفُعْلٌ څخه فُعُلٌ ويل رواه دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دحلقي العين قانون دی . ددي قانون لپاره دري حکمونه دي داولو دوو حکمونو لپاره دوه دوه شرطونه دي اوددريم حکم لپاره يوشرط دی . **اول حکم:** چې ماسوادا اصل څخه دري وجي ويل جائز دي **اول شرط** داسي کلمه به وي چې يوحرف دحروف حلقي وو څخه به يې دعين کلمې پربرابری راغلی وي احترازي مثال ( عَلِمَ) **دوهم شرط** پروزن به دفَعِلَ وي احترازي مثال( ذَهَبَ) **اتفاقي مثال** د شَهِدَ څخه شَهدَ شِهدَ شِهِدَاوده فَخذٌ څخه فَخِذٌ فِخذٌفِخِذٌ ويل رواه دي. **دوهم حکم:** په فعل کې ماسوای داصل څخه يوه وجه اوپه اسم کښې ماسوای داصل څخه دوې وجي ويل رواه دي **اول شرط** هغه کلمه به حلقي العين نه وي احترازي مثال (شَهِدَ).

**دوهم شرط:** پروزن به **دفَعِلَ** وي احترازي مثال ضَرَبَ **اتفاقي مثال** دعَلِمَ څخه عَلمَ اودکَتِفٌ څخه کَتفٌ، کِتفٌ ويل رواه دي **دريم حکم** ماسواد اصل څخه يوه وجه ويل رواه ده **شرط** په دغه څلورو اوزانو کښې به يووزن وي لکه ( فَعُلٌ ، فِعِلٌ ، فُعُلٌ ،فُعلٌ ) احترازي مثال (فَرَسٌ ) **اتفاقي** مثال هغه څلور اوزان دي چې مثالونه يې دادي **دعَضُدٌ** څخه عَضدٌ دإبِلٌ څخه إبلٌ دعُنُقٌ څخه عُنقٌ دقُفلٌ څخه قُفُلٌ ويل رواه دي .

## د حلقي العين دقانون اجراء

| موزون | وجوهات | قوانين |
|---|---|---|
| وَهِمَ | دري وجي رواه دي | دحلقي العين قانون |
| يَنتَهِبُ | يَنتَهبُ | حکماً دفعِلَ وزن دی |
| نعِمَ | دري وجي رواه دي | دحلقي العين قانون |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| شَرِبَ | شَرَبَ | === |
| لَبِثَ | لَبَثَ | === |
| وَرِمَ | وَرَمَ | === |
| مُستَعِدٌ | مُستَعَدٌ | حكماً دفعِلَ وزن دی |

## شلم (٢٠) قانون

هر بابے کہ ماضي او مکسور العین و مضارع او مفتوح العین یا در اول ماضي او همزه وصلي یا تاء زائده مطرده باشد در مضارع معلوم او غیر اهل حجاز حرف اتین را بغیر یاء حرکت کسره می دهند جواز او در مضارع معلوم ابی یأبی یاء را نیز.

**دقانون خلاصه:** هرهغه باب چې ماضي يې مكسور العين وي او مضارع يې مفتوح العين وي او يايې په اول كې دماضي همزه وصلي وي يا تاء زائده مطرده وي په مضارع معلوم كې دهغه باب دعربو داهل حجاز د قبيلي څخه ماسوا نورتهوله قبيلې حروف اتين ته ماسوا تريا حركت دكسرې وركول جائز بولي . او په خصوصي ډول بيآ دابٰى يابى دباب په مضارع معلوم كې وياء ته هم دكسرې د حركت جواز او ركوي.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (اِعلَمُ ، تِعلَمُ ، نِعلَمُ ) قانون دى . ددې قانون ترمخه ديوې فائدې پيژندل ضروري دي.

**فائده:** تا زائده مطرده هغه (تا) ته وايي چې پرمجرد دي صيغې باندې داخل كړل سي دپاره دمزيد د جوړولو هغه دمزيد په دروبابو كښې راځي لكه تفعّلٌ، تَفاعُلٌ، تَفعلُلٌ ددې قانون لپاره يو حكم او درې شرطونه دي **حكم** په مضارع معلوم كې ماسوا ديا څخه ونورو حروف اتين ته حركت دكسرې وركول جائز دي **اول شرط** داسې باب به وي چې

ماضي يې مكسور العين او مضارع يې مفتوح العين وي احترازي مثال ضَرَبَ يضرِبُ **اتفاقي مثال** داَعلَمُ تَعلَمُ نعلَمُ شخه اِعلمُ تِعلمُ نِعلمُ ويل جائزدي

**دوهم شرط** داسي باب به وي چې په اول سركې همزه وصلي راغلي وي احترازي مثال اكرَمَ **اتفاقي مثال** لكه اَكتَسِبُ، نَكتَسِبُ شخه اِكتَسِبُ نِكتَسِبُ ويل رواه دي.

**دريم شرط** داسي باب به وي چې په اول سركې تا زائده مطرده وي احترازي مثال تَبعَ، چې داتا اصلي ده **اتفاقي مثال** د تَتَصرّفُ، و تتَضارَبُ و تتَد حرَجُ شخه تِتَصرفُ و تِتَضارَبُ وتِتَدحرَجُ ويل رواه دي.

## د (اِعلَمُ، تِعلَمُ، نِعلَمُ) دقانون اجراء

| موزون | وجوهات | قوانين |
|---|---|---|
| اَعلَمُ | اِعلَمُ | د (اِعلَمُ ، تِعلَمُ ، نِعلَمُ ) قانون |
| تتَشَرّبُ | تِتَشَرّبُ | === |
| تكتسِبُ | تِكتسِبُ | === |
| تَفهَمُ | تِفهَمُ | === |
| تَتَشَارَبُ | تِتَشَارَبُ | ===== |
| تَقتَرِحُ | تِقتَرِحُ | === |
| تَتَدَحرَجُ | تِتَدَحرَجُ | === |
| تَتَجَاهَرُ | تِتَجَاهَرُ | === |

## يوويشتم (٢١) قانون

هر حرف علت كه واقع شود بعد از الف مفاعل آن را به همزه بدل كنند وجوبا زائده را مطلقا و اصلي را بالشرط تقديم حرف علت بر الف مفاعل.

www.jamairahmani.org

**دقانون خلاصه:** هرحرف علت چې تر الف مفاعل وروسته راسي هغه په همزه سره بدلول واجب دي که زائد وو خو په هر حال کښې بدليږي او که اصلي وو په دي شرط به بدليږي چې دمفاعل تر الف مخکې بل حرف علت هم راغلی وی.

## دقانون شرح تفصيل

ددې قانون نوم **دشرآئفُ** قانون دی . ددې تر مخه ديوې فائدي پيژندل ضروري دي

**فائده:** داده چې وزن پردري ډوله دي : ۱ صرفي ۲ صوري ۳ عروضي

**صرفي** وزن دې ته وايې چې متحرک حرف دمتحرک حرف او ساکن حرف دساکن په مقابله کښې راغلی وي او دحرف اصلي او حرف زاېد لحاظ هم په کښې سوی وي يعني اصلي داصلي په مقابل کښې راغلی وي او زاېد دزاېد په مقابل کښې راغلی وي لکه دشرائف وزن **فَعائِلُ** دی داوزن صرفيان استعمالوي. **وزن صوري** دې ته وايې چې ساکن دساکن او متحرک دمتحرک په مقابله کې وي بيله لحاظه دحروفو زائده وو او اصلي لکه **دشرائفُ** وزن چې **مَفاعِلُ** راځي داوزن بيا نحويان استعمالوي.

**وزن عروضي** دې ته وايې چې متحرک دمتحرک او ساکن دساکن په مقابله کښې وي مګر دحرکت اعتبار نه وي په کښې سوی يعني په وزن کښې بعينه هغه حرکت نه وي کوم چې په موزون کښې وي لکه **دشَرِيفٌ** وزن چې **فَعُولٌ** راوباسي داوزن شاعره طبقه استعمالوي.

ددې قانون يو حکم دی که حرف علت اصلي وي نو يې دوه شرطونه دي . او که حرف علت زاېد وي نو يې يو شرط دی . **حکم**: حرف علت په همزه سره بدلول واجب دي.

**شرط** حرف علت به دالف مفاعِلُ وروسته راغلی وي احترازي مثال **ضَوارِبُ** پر وزن **دمَفاعِلُ** په وزن صوري سره دلته حرف علت نسته **اتفاقي**: مثال د (يا) لکه **دشرايفُ** څخه شرائِفُ او د (واو) مثال لکه **عجاوِزُ** څخه **عجائِزُ** دالف مثال لکه **درَسَاالُ** څخه رَسائِلٌ ويل واجب دي . او که چيري اصلي وو ددې لپاره دوه شرطونه دي **اول شرط** چې حرف علت

به دالف مفاعِلُ وروسته راغلی وي احترازي مثال مَوَاعِدُ دلته دالف مفاعلُ ځخه وروسته حرف علت نسته **دوهم شرط** چې دالف مَفاعِلُ دمخه به هم حرف علت راغلي وي احترازي مثال مَقاوِلُ دلته دالف ځخه مخکې حرف علت نسته .**اتفاقي مثال** دقَواوِلُ بَوَايِعُ ځخه قَوَائِلُ بَوَائِعُ ويل واجب دي . **فائده :** په دغه قانون کښې وزن صوري استعمال سوی دی او نور ځايونه بيا وزن صرفي استعماليږي .

## د شَرآيِفُ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| طَوَائفُ | طواوِفُ | دشرائفُ قانون |
| صَحائِفُ | صَحايِفُ | ===== |
| نَصائِحُ | نَصايِحُ | ===== |
| مَوَائِلُ | مَوَايِلُ | === |
| حَوائِرُ | حَواوِرُ | === |
| وَظَائِفُ | وَظَايِفُ | === |
| طَوَائِشُ | طَوَاوِشُ | ===== |
| عَمَائِمُ | عَمَايِمُ | ===== |
| مَصَائِبُ | مَصَايِبُ | ===== |

## دوويشتم (٢٢) قانون

هر همزه زائده که واقع شود دراول کلمه وصلي باشد يا قطعي حکم وصلي اينکه دردرج کلام وبمتحرک شدن مابعد بيفتد و حکم قطعي عکس اين است همزه قطعي نه قسم است همزه باب افعال وواحد متکلم واسم تفضيل وجمع واعلام وبناء وفعل تعجب واستفهام

وندا،وماسوایٔ ایشان وصلی اند.

**دقانون خلاصه:** هرهغه همزه چي زائده وي او په اول کي دکلمي راسي يابه وصلي وي يابه قطعي که وصلي وو نو يې حکم دادی چي کله دکلام په مينځ کښي راسی اويادد غه همزه ځخه وروسته حرف متحرک وي نوهمزه غور ځي اودقطعي همزه حکم دادی : چي په داسی ځاي کښي نه غورځيږي . همزءِ قطعی پر نه قسمه ده –۱– دباب افعال همزه–۲–دواحد متکلم همزه–۳–داسم تفضيل همزه–۴–دجمعي همزه–۵– دنومونو په اول کښي چي کومه همزه راځي–۶–دمبنی والی همزه–۷–دفعل تعجب همزه–۸– داستفهام همزه–۹– دنداء همزه. او ددې څخه علاوه ټولي وصلي دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دهمزه وصلي او همزه قطعي قانون دی .ددې قانون لپاره دوه حکمه دي داول حکم لپاره دوه شرطونه دي ددوهم حکم لپاره يوشرط دی. خو تر ټولو دمخه يوه فائده . **فائده:** کومه همزه چي دکلمې په اول سرکښي راځي اوزائده وي هغه پردوه ډوله ده : ۱ وصلي۲–قطعي **وصلي همزه** هغه همزه ده چي دساکن توري دويلو او متحرک کولو دپاره راسي اوپه مينځ کښې دکلام لويږي او حذف کيږي . **قطعي** هغه همزه ده چې په مينځ کښيې د کلام نه لويږي او نه هم حذف کيږي .**اول حکم** دادی چي همزه وصلي حذف کول واجب ده . **اول شرط** دادی چي همزه وصلي به په درج يعني مينځ کښي دکلام راغلې وي احترازي مثال اِضرِب **اتفاقي مثال** دإضرِب څخه وَاضرِب **دويم شرط** دادی چي دهمزه وصلي وروسته حرف به متحرک وي احترازي مثال اِضرِب **اتفاقي مثال** قُل چي په اصل کي اُقوُل وو بيا دواو حرکت وماقبل ته نقل کړه شو ( اُقُول) سو ( واو ) دالتقاء ساکينين په وجه ولويدي اوهمزه وصلي هم حذف سوه ددي قانون په وجه آخر (قُل) پاته سو **دوهم حکم** دادي چي همزه ثابته ويل واجب ده **شرط** همزه قطعي به وي احترازي مثال اِضرِب **اتفاقي مثال** لکه أَءَنذرتهُم

www.jamairahmani.org

## د همزه وصلي او همزه قطعي دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانين |
|---|---|---|
| وَامُر | همزه وصلي ده | دهمزه وصلی او قطعي قانون |
| فَاصفَح | ===== | ===== |
| فَاعلَم | ===== | ===== |
| فَاعبُدُوهُ | ===== | === |
| فَادخُلِي | ===== | === |
| فَاَكرِمِي | همزه قطعي ده | === |
| مااَضرَبَهُ | ===== | ===== |
| اَشرَفُ | ===== | ===== |
| اَمسِكِي | ===== | ===== |

## درويشتم(۲۳) قانون

هر بابے کہ ماضي او چهار حرفي بود در مضارع معلوم او حرف اتين

را حرکت ضمے می دهند وجوباً.

**دقانون خلاصه :** هرباب چي ماضي يې څلور حرفيزه وي (لکه دحرَج يا اکرَم) دهغه په مضارع معلوم کښې و حروف اتين ته حرکت د ضمي ورکول واجب دی .

## دقانون شرح تفصيل

ددې قانون نوم د (يُكرِمُ او يُصَرِّفُ) قانون دی ددې قانون لپاره يوحکم او يوشرط دی

**حکم** دادی چي په مضارع معلوم کښې وحروف اتين ته حرکت دضمی ورکول واجب دی

**شرط** دادی چي مضارع معلوم به دداسي بابه څخه وي چي ماضي ئې څلورحرفيزه وي

www.jamairahmani.org

احترازي مثال ضَرَبَ اتفاقي مثال دصرَّف ودَحرج شخه يُصَرِّفُ يُدَحرِجُ ويل واجب دي

## د يُكرمُ او يُصَرفُ دقانون اجراء

| موزون | باب | قوانين |
| --- | --- | --- |
| يُقِيمُ | باب افعال | ديُصَرفُ او يُكرِمُ قانون |
| يُنعِمُ | ===== | |
| نُبَاعِدُ | باب مفاعله | ===== |
| يُعاقِبُ | === | ===== |
| يُفَكِّرُ | باب تفعيل | === |
| يُقَتِّلُ | === | === |
| يُخرِجُ | باب افعال | === |
| يُنفِقُ | ===== | ===== |
| يُصَالِحُ | باب مفاعله | ===== |
| يُشَقِّقُ | باب تفعيل | ===== |

## خليرويشتم (۲۴) قانون

هر بابے کہ دراول ماضي اوتاێ زائدہ مطردہ باشد درماضی مجهول او حرف اول
وثانی راضمہ وماقبل آخرارا کسرہ می دهند وجوباً

**دقانون خلاصه:** دهر باب دماضي په اول کښې چې ( تا ) زائده مطرده وي نو دهغه باب دماضي مجهولي واول او دوهم حرف ته ضمه او ما قبل آخر ته کسره ورکول واجب ده .

## دقانون شرح او تفصيل

د دې قانون نوم دثلاثي مزيد فيه دباب (تفعل ، او تفعلل او تفاعل دماضي مجهولي )

قانون دی ددي لپاره يو حكم او يو شرط دی .

**حكم:** دماضي مجهولي اول او دوهم حرف ته ضمه او ماقبل اخر ته كسره وركول واجب ده **شرط** داسی باب به وي چي په اول كي د ماضي به يې ( تا ) زائده مطرده وي يعنی داسی ( تا ) چي د باب په ټولو گردانونو كښې وي او دا په دري بابو كښې راځي لكه د تفعُّل تَفَعلُل، تَفَاعُل بابونه احترازي مثال اَ كرَمَ . اتفاقي مثال د تَصَرَّفَ، تَضَارَبَ تَدَحرَجَ څخه تُصُرِّفَ ،تُدُحرِجَ ،تُضُورِبَ ويل واجب دي .

## دباب (تفعل ، او تفعلل او تفاعل دماضي مجهولي) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قوانین |
|---|---|---|
| تُدُحرِجَ | تَدَحرَجَ | دماضي مجهولي قانون |
| تُشُرِّبَ | تَشَرَّبَ | ====== |
| تُشُورِبَ | تَشَارَبَ | ===== |
| تُجُرِّبَ | تَجَرَّبَ | ===== |
| تُعُوِنَ | تَعَاوَنَ | === |
| تُجُوِّلَ | تَجَوّلَ | === |
| تُوُورِثَ | تَوَارَثَ | === |
| تُحُكِّمَ | تَحَكَّمَ | ===== |

## پنځه ويشتم (۲۵) قانون

هر بابے کہ دراول ماضي اوتائي زائدہ مطردہ باشد در مضارع معلوم اوما قبل اخر رابرحال خود می دارند وجوباوا گر تائي زائدہ مطردہ نباشد کسرہ می دھند سوائي ابواب ثلاثي مجرد.

**دقانون خلاصه:** دهر باب دماضي په اول كښې چي ( تا ) زائده مطرده وي په مضارع

معلوم کي ماقبل اخرخپل پرحال پريښوول واجب دي اوکه چيري (تا) زائده مطرده نه وي نو ماسوی د ثلاثي مجرد د بابو څخه هغه نوروته په مضارع معلوم کښې و مقابل اخرته کسره ورکول واجب ده ،ماسوا دثلاثي مجرد څخه.

## دقانون شرح او تفصيل

د دې قانون نوم د (يُكرِمُ او يَتَصَرّفُ) قانون دی ددي لپاره دوه حکمه دي او د هر حکم لپاره يو يو شرط دی .

**اول حکم:** دمضارع معلوم ماقبل اخر خپل پر حال باندی پر يښوول واجب دی **شرط** داسی باب به وي چي په اول کي د ماضي به يې ( تا ) زائده مطرده وي يعنی داسی( تا ) چې د باب په ټوله ګردانونو کښې وي او دا په دريو بابو کښې راځي لکه د تفَعُّل تَفَعلُل،تَفَاعُل بابونه احترازي مثال اَكرَمَ .اتفاقي مثال د تَصَرَّفَ، تَضَارَبَ تَدَحرَجَ څخه يَتصَرَّفُ ،يَتَدَ حرَجُ ،يَتَضَارَبُ ويل واجب دي .

**دوهم حکم** دادی چي د مضارع معلوم و ماقبل اخرته حرکت د کسري ورکول واجب دي **شرط** د ماضي په اول کي به يې (تا) زائده مطرده نه وي احترازي مثال تَصَرَّفً تَضَارَبَ **اتفاقي مثال** د اَكرَمَ و دَحرَجَ څخه يُكرِمُ يُدَحرِجُ ويل واجب دي .

**نوټ :** ددي قانون څخه د ثلاثي مجرد بابونه وتلي دي .

## د يُكرِمُ او يَتَصَرّفُ دقانون اجراء

| موزون | باب | قوانين |
|---|---|---|
| تَتَدَحرَجُ | باب تفعلل | ديَتصَرّفُ او يُكرِمُ قانون |
| يَتَدمّرُ | باب تفعل | |
| يَتَجَرّدُ | ==== | ===== |
| يَتَنَعّمُ | === | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| تَتَعَاوَنُونَ | باب تفاعل | === |
| تَتَوَارَثُونَ | === | === |
| تَتَشَارَبُونَ | ===== | === |
| يُنفِقُ | ===== | ===== |
| يُصلِحُ | باب افعال | ===== |
| يُشَفِقُ | ==== | ===== |

## شپږويشتم (۲۶) قانون

ھر تای مضارعت کہ داخل شود بر تای تفعل یا تفاعل یا تفعلل
در مضارع معلوم او حذف یکی جائز است.

**دقانون خلاصه:** هرچيري چي (تا) دمضارع داخله سي پر (تا) دباب **تفَعُّل** **ياتَفَاعُل** **ياتَفَعلُل** نو دهغه باب په مضارع معلوم كښي ديوې تاحذف كول رواه دي .

## دقانون شرح اوتفصيل

ددې قانون نوم د (تصرّفُ ، تضاربُ او تَدَحرجُ) قانون دی. ددې لپاره يو حکم اويو شرط دی. **حکم** په مضارع معلوم كښې (تا) د مضارعت حذف کول جائز ده **شرط** (تا) دمضارعت به داخله سوي وي پر تاء دتفعل يا تفاعل يا تفعلل باندي احترازي مثال (تَترُكُ) **اتفاقي مثال** دَتَتَصرّفُ، تَتَضَارَبُ ،تَتَدَحرجُ څخه تَصَرّفُ تَضَارَبُ تَدَحرَجُ ويل روادي

## د (تصرّفُ، تضاربُ او تَدَحرجُ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| تواعَدُ | تَتَواعَدُ | د تصرّفُ ، تضاربُ او تَدَحرجُ قانون |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| تَوَغّلُونَ | تَتوُغّلُون | ===== |
| تَظَاهَرُونَ | تَتظَاهَرُونَ | ===== |
| تَداخَلُ | تَتَداخَلُ | ===== |
| تَسَاوَيَانِ | تَتَسَاوَيَانِ | === |
| تَكَاثَرُ | تَتَكاثَرُ | === |
| تَواَقَدُونَ | تَتَواقدُونَ | === |
| تَجَاهَرُونَ | تَتَجَاهَرُونَ | ===== |
| تَصَالَحُونَ | تَتَصَالَحُونَ | ===== |
| تَخَافُونَ | تَتَخَافُونَ | ===== |

## اوه ویشتم(۲۷) قانون

هر بابــــ کہ دراول ماضي او همزه وصــــلی باشــد در ماضی مجهول او حــــرفـــــ اول وثالث راضمــــه وماقبــل آخر را کســره می دهند وجوبا.

**دقانون خلاصه:** هر هغه باب چي د ماضي په شروع کښې يې همزه وصلي وي کله چي دهغه باب ماضي مجهوله جوړوو نو اول او دريم حرف ته ضمه او ما قبل آخر ته کسره ورکول واجب دي لکه د اجتنب څخه اُجتُنِبَ.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم دماضي مجهولي دريم قانون دی. ددغه قانون يو حکم او دوه شرطونه دي. **حکـم** حرف اول او دريم ته ضمه او ماقبل آخر ته کسره ورکول واجب ده.

**اول شرط** دماضي په شروع کښې به همزه وصلي راغلی وي احترازي مثال (تَصَرّفَ)

**دوهم شرط:** دغه ماضي به ماضي مجهوله وي احترازي مثال: (اِكتَسَبَ) دی ځکه چي دامعلومه ده. اتفاقي مثال: د (اِكتَسَبَ څخه اُكتُسِبَ ويل او د (اِحرَنجَمَ څخه اُحرُنجِمَ)

www.jamairahmani.org

ويل واجب دي .

## د(ماضي مجهولي) ددريم قانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| اُكتُسِبَ | اِكتَسَبَ | د ماضي مجهولي دريم قانون |
| اُقتُحِمَ | اِقتَحَمَ | ===== |
| اُنصُرِفَ | اِنصَرَفَ | ===== |
| اُحرُنجِمَ | اِحرَنجَمَ | ===== |
| اُنتُصِرَ | اِنتَصَرَ | === |
| اُجتُهِدَ | اِجتَهَدَ | === |
| اُنتُقِلَ | اِنتَقَلَ | === |
| اُنكُسِرَ | اِنكَسَرَ | ===== |
| اُتُّخِذَ | اِتَّخَذَ | ===== |

## اته ويشتم(٢٨) قانون

هر واو و يائ غیر بدل از همزه كه واقع شود مقابل فا كلمه باب افتعال يا تفاعل يا تفعل آن را تا كرده در تا ادغام می كنند وجوباً برا كثر لغت اهل حجاز در افتعال و بر بعض لغت اهل حجاز در تفعل و تفاعل مكر اِتَّخَذَ يَتَّخِذُ شاذ است

**دقانون خلاصه:** هر هغه واو اوياءچي بدل دهمزي څخه نه وي راغلي كه چيري دباب افتعال ياتفاعل ياتفعل دفاكلمي په مقابله كښي راسي نو هغه په تاءسره بدلول اوتاپه تاكښي مدغمول واجب ده دااكثراهل حجازو په لغت كښي خاص دافتعال په باب كښي اودبعضى اهل حجاز و په لغت بيا د تفعّل اوتفاعل په باب كښي هم واجب دي مگر په

www.jamairahmani.org

اِتَّخَذ يَتَّخِذُ کښې د دې قانون جاري کېدل شاذ دي ځکه چې شرطونه د قانون پکښې نيستې دي .

## دقانون شرح اوتفصيل

دا قانون د (اِتَّعَد او اِتَّسَرَ) دی . د دې لپاره يو حکم او دوه شرطونه دي . **حکم** چې واو اويا په تا سره بدلول او تا په تا کې مدغمول واجب دي **اول شرط** واو اويا به بدل د همزې څخه نه وي راغلی احترازي مثال اِيتَمَر،اُوْتُمِرَ دلته واو او يا بدل د همزه څخه راغلی دی **دوهم شرط** واو اويا به په مقابله کې د فاکلمې د باب افتعال، تفاعل، يا تفعل راغلي وي احترازي مثال وَحَّد،يُوَحِّدُ دا د تفعيل باب دی . **اتفاقي مثال** داوِتَعَدَ،اِيتَسَرَ څخه اِتَّعَدَ،اِتّسَرَ اودتَوَاعَدَ،تَيَاسَرَ څخه اِتّاعَدَ او اِتّاسرَ اودتَوَحّدَ څخه اِتّحَّدَويل واجب دی .

**فايده:** په اِتَّخَذَ، يَتّخِذُ کښې شرطونه د قانون موجود نه دي ځکه چې دا مهموز دی واو او يا بدل د همزه څخه نه دي راغلي بلکې اصلي دي بيا هم قانون پکښې جاري سوی دی نو مورږ دا وايو چې دا شاذ دی .

## د(اِتَّعَد او اِتَّسَرَ ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اِتّقَد | اِوتَقَدَ | د (اِتَّعَدَ او اِتّسَرَ ) قانون |
| اِتّزَنَ | اِوتَزَنَ | ===== |
| مُتّفِقٌ | مُوتَفِقٌ | ===== |
| مُتّحِدٌ | مُوتَحِدٌ | ===== |
| لِلمُتَعِطِينَ | لِلمُوتَعِطِينَ | === |
| مُتّصِلٌ | مُوتَصِلٌ | === |
| اِتّهَمَ | اِوتَهَمَ | === |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| مُتّهِمٌ | مُوتَهِمٌ | ===== |
| اِتّجَلَ | اِوتَجَلَ | ===== |
| مُتّرِثُ | مُوتَرِثُ | ===== |

## نهه ویشتم(۲۹) قانون

اگر یکی از سین وشین که واقع شود مقابله فا کلمه باب افتعال تا یٔ وي را
جنس فا کلمه کرده جوازا جنس را در جنس ادغام کرده شود وجوبا.

**دقانون خلاصه :** که چیري سین یا شین په مقابله کي د فا کلمي د باب افتعال را غلی وو نو تاء د دي باب په جنس سره د فاء کلمي اړول جایز ده او جنس په جنس کي مدغمول واجب دی (یعني چي کله تاء په فاء کلمي سره واړول سوه دهغه وروسته بیا ادغام واجب دی )

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (اِسَّمَع او اِشَّبَهَ )قانون دی . ددي یو حکم اویو شرط دی

**حکم** دباب افتعال تا په فاکلمه سره بدلول جائزده اوبیا جنس په جنس کښې مدغمول واجب دي **شرط** پر فا کلمه دباب افتعال به سین یا شین راغلی وي احترازي مثال (اِجتَهَدَ ) **اتفاقي مثال** داِستَمَعَ ،اِشتَبَهَ څخه اِسَّمَع ،اِشَّبهَ ویل جایزدي .

## د (اِسَّمَعَ او اِشَّبَهَ )دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اِسّلَمَ | اِستَلَمَ | د اِسَّمَع او اِشَّبَهَ قانون |
| اِشّبَعَ | اِشتَبَعَ | ===== |
| اِشّمَتَ | اِشتَمَتَ | ===== |
| اِشّغَلَ | اِشتَغَلَ | ===== |
| مُسّلِمٌ | مُستَلِمٌ | === |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| مُشَّغِلٌ | مُشتَغِلٌ | === |
| اِسّنَدَ | اِستَنَدَ | === |
| مُسَّمِعاَنِ | مُستَمِعاَنِ | ===== |
| اشَّهَدَ | اِشتَهِدَ | ===== |

## دیرشم(۳۰) قانون

اگر یکی از صاد، ضاد، وطا، ظا، که واقع شود مقابله فا کلمه باب افتعال تای وی را طا کنند وجوبا پس اگر مقابله فا کلمه طا است ادغام واجب است اگر ظا است اظهار وادغام دو طرفه یعني طا را ظا کردن و عکس او جائز است اگر صاد، ضاد باشد اظهار وادغام یک طرفه یعني طا را صاد ضاد کردن جائز است نه عکس او.

**دقانون خلاصه:** کچیري صاد یاضاد طا یاظا دباب افتعال دفا کلمي په مقابله کښېي راسي .نو تا ددې باب په طا سره بدلول واجب ده اوس نو که چیري دفا کلمي پربرابري هم طا راغلي وي نو ادغام واجب دي او که چیري ظا راغلي وه نو اظهار او ادغام دوطرفه رواه دی اظهار وادغام دوطرفه دادی طاظاګرځول اویا ظاطاګرځول بیایوپه بل کي مدغمول دواړه روادي او که چیري پرفا کلمي صادیاضاد وي نو اظهار یعني هریو جلاجلا اکول اوهم ادغام یک طرفه رواه دي یعني طا په صاد یاضاد سره بدلول جائز دي خو عکس ددې بیاآ نه دی رواه یعني چي صاد یاضادپه طا سره بدل کړل سي

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم دِاطَّلَم ،اِظّلَم قانون دی ددې لپاره یوحکم او یوشرط دی البته په اتفاقي مثال کښېي یې څه تفصیل سته **حکم** تا دباب افتعال په طا سره بدلول واجب ده

**شرط** پر فا کلمه دباب افتعال به یودصاد ، ضاد ،طا ،ظا څخه راغلي وي احترازي مثال اِجتَهَدَ **اتفاقي مثال:** چي پر فا کلمې طا راغلې وي نوبیا ادغام واجب دي لکه اِطتَلَمَ څخه اِطَّلَمَ او که ظا راغلې وه نوبیا بنکاره ویل کیږي لکه اِظطلم او دوه طرفه ادغام هم

www.jamairahmani.org

رواه دی یعني چي ظا، طا کړي اویاطا،ظا کړي لکه اِطَّلمَ، اِظّلَمَ اوکه ضاد یاصاد راغلی وي نو ښکاره ویل کیږي لکه اِصطبر، اِضطَرب او ادغام یوطرف هم رواه دي یعني چي طا په ضاد اوصاد بدله کړي لکه اِصَّبَر،اِضَّرَبَ لیکن صاد وضاد په طانه سي بدلیږلاي چي اِطبر او اِطّرَبَ یي ثوک ووائي.

## د اِطَّلَمَ، اِظّلَمَ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اِطّلَعَ | اِطتَلَعَ | داِطَّلَم ،اِظّلَم د قانون |
| مُصَّفی | مُصطفی | ===== |
| اِ صَّلَحَ | اِصطَلَحَ | ===== |
| مُطَّهِرَاتٌ | مطتَهِراتٌ | ===== |
| اِطَّهَرَ | اِطتَهَرَ | === |
| يَضَّرِبُ | يَضطَرِبُ | === |
| اِظَّهَرَ | اِظطَهَرَ | === |
| اِضّجاعٌ | اضطِجَاعٌ | ===== |
| ثُمَّ اَضَرّهُ | ثُمَّ اضطَرّهُ | ===== |
| مُصَّلِحٌ | مُصطَلِحٌ | ===== |

## یودیرشم(٣١) قانون

اگر یکی از دال وذال وزا واقع شود مقابله فا کلمه باب افتعال تائی وی را دال کرده وجوبا در دال ادغام می کنند وجوبا وذال مثل ظا وزا مثل صاد است.

www.jamairahmani.org

**دقـانون خلاصــه:** کـه چيـري دبـاب افتعـال دفـاکلمي پربرابـري دال يـاذال يازاراسـي نوتاددې

باب په دال سره بدلول واجب ده اوس نو ییاکه چيري پر فاکلمې دال وو ادغام واجب دى په قانون دمتجانسينو . اوکه ذال وو دظا په شان دى (يعني اظهـار جائزدى او ادغـام بـه دو طرفه وي) اوزاپه مثل دصاداوضادده (يعني اظهار او بيا ادغام يو طرفه) رواه دى .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د ( اِدَّغَمَ ،اِذَّكَرَ، اِزَّجَرَ ) قانون دى . ددې لپاره يو حکم او يو شرط دې خوپه اتفاقي مثال کښې څه تفصيل سته . **حکم** (تا)دبـاب افتعـال پـه دال سره بدلول واجب ده **شـرط** پرفاءکلمه دباب افتعـال بـه يـوددې درې حرفونو څخـه لکـه (دال ،ذال، زا) راغلى وي احترازي مثال اِجتهَدَ **اتفاقي مثـال** داِد تَغَمَ ،اِذتَكرَ اِزتَجَرَ څخه اِدّغم اِذَّكَّرَ اِزَّجَرَ ويل واجب دي البته که دال راغلى وو ادغـام واجب دى او کـه ذال راغلى وو بيابنکاره ويل لکه اِذدكَرَ او ادغـام دوه طرفه چي ذال دال او يـادال ذال کړل سي لکه د اِذدكَرَ څخه اِدّكَرَ يااِذّكَرَ ويل رواه دي اوکه زا راغلې وه بيابنکاره ويل رواه دي لکه دازتَجَرَ څخه (اِزدَجَرَ) اوادغـام يـک طرفه هم روادى چي دال پـه زا سره بـدل کـړل سـي و زا په زا کښې مدغم کړل سي لکه (اِزَّجَرَ ) .

## د اِدَّغَمَ، اِذَّكَرَ، اِزَّجَرَ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| اِدّهَمَ | اِدتَهَمَ | د اِدَّغَمَ ، اِذَّكَرَ، اِزَّجَرَ قانون |
| اِدَّخَرَ | اِدتَخَرَ | ===== |
| اُزدُجِر | اُزتُجِر | ===== |
| مدّكِر | مُذتَكِرٌ | ===== |
| مُدَّغِمَانِ | مُدتَغِمَانِ | === |

| | | |
|---|---|---|
| اِزَّعَمَ | اِزدَعَمَ | === |
| مُزدَجِرٌ | مُزتَجِرٌ | === |
| يَدَّكِرُونَ | يَذدَكِرُونَ | ===== |
| لَن يَذَّكَّرُوا | لَن يَذتكِرُوا | ===== |

## دوو ديرشم(۳۲) قانون

اگرثاواقع شود مقابله فاکلمه باب افتعال اظهار وادغام دوطرفه جائزاست مکرتاراثاکردن اولی است.

**دقانون خلاصه:** که چيري دباب افتعال دفاکلمي پربرابری باندي ثاراسي نو(دتااوثا) په منځ کي اظهاراوهم ادغام دوه طرفه رواه دی مګرتاپه ثاسره بدلول ډيربنه دی.

## دقانون شرح اوتفصيل

ددې قانون نوم **داِثَّبَتَ** قانون دی ددې لپاره يوحکم اويوشرط دی **حکم** اظهاريک طرفه او **اِدغام** دوطرفه رواه دی. **شرط** پرفاکلمه دباب افتعال به حرف دثاراغلی وي احترازي مثال ثبَتَ دامجرددی **اتفاقي مثال** اِثتبَثَ يعني ښکاره ويل اوثا په تا سره بدلول اوتاپه ثا سره بدلول لکه اِتَّبَتَ و اِثَّبَتَ ويل رواه دی.

## داِثَّبَتَ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اِثّلَغَ | اِثتَلَغَ | داِثَّبَتَ قانون |
| اِثّلَجَ | اِثتَلِجَ | ===== |
| اِثّوَبَ | اِثتَوَبَ | ===== |
| اِتَّقَبُوْا | اِثتَقَبُوْا | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| اِثّارَ | اِثتَیَرَ | === |
| اِثّابَ | اِثتَوَبَ | === |
| مُثّنٍ | مُثتَنِيٌ | ===== |
| اِثّوٰی | اِثتَوَیُ | ===== |
| مُثّلِمٌ | مُثتَلِمٌ | ===== |

## درو دیرشم (۳۳) قانون

اگر یکی از دہ حروف مذکورہ بالاواقع شود مقابلہ عین کلمہ باب افتعال تائي وي را جنس عین کلمہ کردہ جوازًا ادغام میکنند وجوبًا اگر تا واقع شود ادغام جائزاست واگر یکی از حروف مذکورہ واقع شود مقابلہ فا کلمہ باب تفعل یا تفاعل تائي آنھارا جنس فا کلمہ کردہ جوازًا ادغام می کنند وجوبًا اگر تا باشد ادغام جائزاست.

**دقانون خلاصه:** که چیري د پورتنیو لسو ذکرسوو حروفو څخه (کوم چي په مخکي څلورو قوانینو کښې تیرسوه) یو پربرابری دعین کلمې دباب افتعال راسي نو تا دديې باب په جنس سره دعین کلمې بدلول جائزده او ادغام پکښې کول واجب دی او که چیري تا دعین کلمي پربرابری راسي بيا ادغام جائزدی . او که چیري یو ددې پورتنیو ذکرسوو لسو حروفو څخه پربرابري دفا کلمي دباب تفعل یاتفاعل راسي نو تا دهغه باب په جنس سره دفا کلمي اړول جائزدي ادغام کول يې بيا واجب دي او که چیري تا پربرابري دفا کلمې ددي بابونو راغلې وي نو بياپې ادغام جائزدی .

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم د ( خَصّمَ کَظّمَ ) قانون دی .ددي لپاره دري حکمه دي داول اودوهم حکم

www.jamairahmani.org

لپاره یویو شرط دي او دریم حکم لپاره دوه شرطونه دي **اول حکم** تادافتعال دعین کلمې د جنس څخه کول جائز او جنس په جنس کښې مدغمول واجب دی **شرط** په مخکي ثلورو قوانینو کي چي کم لس حروف تیرسوه **(د ذ ز ث س ش ص ض ط ظ)** دهغو څخه به یو په مقابله کښې دعین کلمې دباب افتعال راغلی وي احترازي مثال اِستمَع دلته میم راغلی دی **اتفاقي مثال** اِختَصمَ واِکتظمَ څخه اِخصَصَم او اِکظَظَمَ او بیا دادغام څخه او دهمزه ترسقوط وروسته خَصَّمَ کَظَّمَ ویل واجب دي **دوهم حکم** تادباب تفعل او تفاعل د جنس څخه دفاء کلمې کول جائز او ادغام واجب دی **شرط** پرفاء کلمه دباب تفعل یا تفاعل به یو حرف ددې لسو حروفو څخه راغلی وي احترازي مثال تَجَنَّبَ تجَانبَ دلته جیم راغلی دی. **اتفاقي مثال** دتَطهّراو تَثَاقلَ څخه وروسته تر ادغام او د همزه وصلي تر راوړلو اِطّهّرَ، اِثّاقلَ ویل واجب دي. **دریم حکم** تاپه تا کي مدغمول جائزدي ددي لپاره دوه کامل شرطونه دي **اول شرط** پرعین کلمې دباب افتعال به تا راغلې وي احترازي مثال اِجتَمعَ دلته میم راغلی دی **اتفاقي مثال** اِقتَتَلَ وروسته تر ادغام او وروسته تر لیري کولو دهمزه وصلي قتَّلَ ویل رواه دي **دوهم شرط** تابه پرفاکلمه دباب تفعل یا تفاعل راغلې وي احترازي مثال تجنّبَ تَجاَنَب دلته جیم راغلی دی. **اتفاقي مثال** دتَترَّك تتاَرَكَ څخه اتّرك اِتّارکَ ویل جائزدي **نوټ** همزه وصلي دلته دضرورت په وجه زیاته سوېده ځکه چي دادغام څخه وروسته که همزه وصلي زیاته نه کړو نو به ابتداء په ساکن سره لازمه سي کوم چي محاله دی. **کما عُرِف** وشُهِرَ فی قواعد الصرف.

## د (خَصّمَ او کَظّمَ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| یَزَّکّیَ | یَتَزَکّیَ | د (خَصّمَ کَظّمَ) قانون |
| مُکَظِّمْ | مُکتَظِمْ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| مُدَثِّرٌ | مُدتثِرٌ | ===== |
| اِطَّهَّرَ | تَطهَّرَ | ===== |
| خَصَّمَ | اِخصَصَمَ | === |
| كَظَّمَ | اِكظَظَمَ | === |
| قَتَّلَ | اِقتِتلَ | ===== |
| يخِصِّمُونَ | يَختَصِمُونَ | ===== |
| اِثّاقَلتُم | تَثاقَلتُم | ===== |

## ثلورديرشم (۳۴) قانون

اگریکی از یازده حـــروف مذکوره وراونون بعـد از لام تعـریف واقع شود لام را جنس ایشان کرده وجوباً واگر یکی از ایشان بعد از لام ساکن غیر تعریف واقع شود لام اجنس ایشان کرده جوازاً ادغام میکنند وجوباً سوائي راچراکي دراين حبا واجب است.

**دقانون خلاصه:** كه چيري يو ددي پورتنيو يوولسو حروفو څخه (د ذ ز ث س ش ص ض ط ظ ت) كوم چي مخكي په پنځو قوانينو كښې تيرسول اوهمدا شان د را اونون څخه يو دلام تعريف وروسته راسي نو لام په جنس سره دهغه بدلول واجب دي او ادغام هم په كښې واجب دى او كه چيري يو دهمدې حروفو څخه وروسته تر لام ساكن غير تعريف راسي نو لام په جنس سره ددوي كول جائزدي او ادغام يې كول واجب دي او پاته سوه را په را كښې په دواړو صورتونو كي بدلول (يعني لام په را سره بدلول ) او مدغمول واجب دي .

## دقانون شرح اوتفصيل

ددې قانون نوم د حروف شمسي او قمري قانون دى . ددې ترمخه ديوې فايدې پيژندل ضروري دي **فائده**: ټوله حروف هجاء ماسواي تر الف ولام ۲۷ دي ديارلس ۱۳ پكښې شمســـي دي هغـــه دادي **س ،ش ،ص، ض، ط، ظ، د، ذ، ر، ز، ث ،ت ،ن**

www.jamairahmani.org

اوپاته قمري دي اولام پردوه قسمه دی **لام تعريف ، لام غير تعريف:** لام تعريف هغه لام دی چي ديوشي دمعين كولو لپاره راوړل كيږي لكه الرجل . اولام غير تعريف : هغه لام دی چي ديو شي دمعين كولو لپاره نه راوړل كيږي لكه بل، هل. ددې قانون لپاره دوه حكمه دي او دهر حكم لپاره يويو شرط دی **اول حكم** لام تعريف په جنس سره دمابعد بدلول او جنس په جنس كښې مدغمول واجب دي **شرط** لام تعريف به د حروف شمسي وو ترمخه راغلی وي احترازي مثال **العلمُ**، **الحمدُ**دلته عين او حا قمري دي .

**اتفاقي مثال** السّميْعُ الشّفيْعُ . **دوهم حكم** لام غيرتعريف په جنس سره دمابعد بدلول جائز او جنس په جنس كښې مدغمول واجب دي **شرط** لام غير تعريفي به د حروفي شمسي وو ترمخه راغلی وي احترازي مثال ( **بَل قَالَ** ) دلته تر قمريه وو مخكښې راغلی دی . **اتفاقي مثال** دَبل سوّلت څخه بسّوّلت ويل رواه دي .

دارشاد الصرف دمصنف رحمة الله عليه دغه قول چي ( ماسوائي را ) دوه مقصده دي .

**اول** كله چي را دلام غير تعريفي وروسته راسي نو تبديل او ادغام دواړه په كښې واجب دي لكه نور حروف شمسي . **دوهم** داديو سوال جواب دی . **سوال:** هغه داچي په (بل رانَ) كښې دقانون ددوهم حكم شرط موجود دی ليكن بيا هم قانون نه دی په كښې جاري سوی **جواب** دادی چي په ( بل رانَ ) كي سكته كيږي سكته فرض ده او ادغام په را كښې دلام غيري تعريفي واجب دی نو فرض تر واجب په مرتبه كښې مقدم دی .

## د ( حروف شمسي او قمري ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| الَّرَ حمْنُ | الرَحمْنُ | د( حروف شمسي او قمري) قانون |
| الشّكُورُ | الشّكُورُ | ===== |
| الصَّبُورُ | الصَّبُورُ | ===== |
| الَّطالِبُ | الَّطالِبُ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| بل شّكر | بل شكر | === |
| بل ثّابتٌ | بل ثابتٌ | === |
| السَّاعِدُونَ | السَاعِدُون | ===== |
| بل رّافِعٌ | بل رافِعٌ | ===== |
| الظَّالِمُ | الظَالِمُ | ===== |

## پنځه ديرشم(۳۵) قانون

هر مضارع مشدد الاخر وقت دخول جوازم وبنا کردن امر حاضر معلوم در آن سه وجه خواندن جائزاست بشرطیکه مضارع مضموم العین نه باشد واگرنه در آن چهار وجه خواندن جائزاست

**دقانون خلاصه:** هرهغه مضارع چي اخرئي مشدّدوي په وخت كنبې دداخيليدو دحروف جوازمو پر هغي باندي اوپه وخت كنبې دامر حاضر معلوم دجوړولو دهغي ځخه په دغه مشددې مضارع كنبې دري وجي ويل رواه دي خوپه دي شرط چي دغه مضارع به مضموم العين نه وي اوكه چيري مضموم العين وه په هغې كنبې څلوروجي رواه دي .

## دقانون شرح اوتفصيل

ددې قانون نوم د ( لم يَحمرَّ لم يَحمرِّ  لم يَحمرِر) قانون دی ددې لپاره دوه حكمه دي او دهرحكم لپاره درې درې شرطونه دي . **اول حكم** په مضارع كنبې ماسواء داصل ځخه درې وجي ويل رواه دي **شرط:** دمضارع اخر به مشدّد وي احترازي مثال (لم يَضرِب) **دوهم شرط :** پر مضارع به يا دحروف جوازمو ځخه يوحرف داخل سوى وي اويابه امرحاضر ورځخه جوړسوى وي احترازي مثال يَحمرَّ دلته هيڅ شى نسته **دريم شرط** مضارع به مضموم العين نه وي احترازي مثال لمَ يَمُدّ **اتفاقي مثال:** لَمَ يَحّمرَّلَمَ يحمرِّ لَمَ يحمَرر اواِحمَرّ اِحمَرَّ اِحمَرِر ويل رواه دي . **دوهم حكم** په مضارع كنبې

www.jamairahmani.org

ماسواء داصل ثخه ثلوروجې ویل رواه دي ددې لپاره دري شرطونه دي خودوه شرطونه يې بعينه داول حکم دشرطونو په شان دی دریم شرط مضارع به يې مضموم العين وي احترازي مثال لَمّ یحمَرّ اتفاقی مثال دیَمُدُّ ثخه لم یَمُدَّ لَم یَمُدِّ لم یمَدُّ او لم یَمدُد ویل رواه دي.

## د اِحمَرَّ دقانون اجراء

| موزون | وجوهات | قانون |
|---|---|---|
| اصفَرّ | دري وجي ويل رواه دي | د( احمرَّ ) قانون |
| لم يُصحرَّ | === | ===== |
| اِخضَرَّ | === | ===== |
| اِصمَارَر | === | ===== |
| لم يَحضُرَّ | === | === |
| اِشهَابَّ | === | === |
| لم يَدهامَّ | === | ===== |
| لَم يَسمَارَّ | === | ===== |
| لِتُدهَامَّ | === | ===== |

## دمثال قوانین

## شپږ دیرشم (۳۶) قانون

هر واوي که واقع شود مقابله فا کلمه مصدری که بروزن( فِعلٌ یا فِعلَةٌ ) باشد بشرطیکه مضارع معلوم مش نیز معلل باشد، کسرش را نقل کرده بما بعد داده آن را حذف کرده وجوباً عوضش تاي متحرک در آخرش در آورند وجوباً بکلیة اِقَامَةٌ وآن این است.

**فائده:** دمعتل دقواعدو او قوانینو څخه مخکې دڅلوروامورو پېژندل ضروري دي .

**اول :** داعلال لغوي معنی . **دوهم:** اصطلاحي معنی . **دریم:** داعلال اقسام **څلورم:** حروف اعلال .

اعلال په لغت کښې تبدیلی ته وایې او په اصطلاح کښې اعلال تغییر دحرف علت ته وایي . اعلال پر درې قسمه دی . اعلال بالحذف و اعلال بالقلب ، اعلال بالاسکان ، داعلال درې حروف دي .واو ، الف ، یا .

**دقانون خلاصه:** هرهغه واوچې دفا کلمې پر برابرې دداسي مصدر راسي چې پروزن دفِعلٌ یا فِعلَةٌ )وي خوپه دې شرط چې په مضارع معلوم کښې ددغه مصدر به اعلال سوې وي نو دهغه واو کسره نقل کول ومابعد ته ورکول اوواو حذف کول واجب دي او په عوض کښې یې تا متحرکه په آخر کښې ددغه مصدر راوړل واجب دي په قانون د ( اِقَامَةٌ) سره او هغه دغه دی .

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم د (عِدَةٌ) قانون دی . ددي قانون یو حکم او څلورشرطونه دي **حکم** دواو حرکت رانقل کول ومابعد ته ورکول او واو حذف کول واجب دې . **اول شرط** واو به په مقابل کښې دفاء کلمې راغلی وي احترازي مثال قَولٌ . **دوهم شرط** واوبه په مصدر کښې وي احترازي مثال وِزرٌ وِترٌ دا مصادر نه دی . **دریم شرط** دغه مصدر به د فِعلٌ یا فِعلةٌ پروزن به وي احترازي مثال وَصلٌ، وَضعٌ . **څلورم شرط** ددغه مصدر په مضارع معلوم کښې به هم اعلال سوي وي (یعني واوبه یې په فعل مضارع معلوم کښې هم حذف سوی وي ) احترازي مثال وِجلٌ چې مضارع یې یَوجَلُ ده او دلته واو ثابته پاته دې **اتفاقي مثال** دوِعدٌ څخه عِدً ویل بیا داقامةٌ په قانون سره عِدةٌ ویل واجب دي .

www.jamairahmani.org

## د عِدةٌ دقانون اجراء

| قانون | اصل | موزون |
|---|---|---|
| د ( عِدَّةٌ ) قانون | وِعظٌ | عِظَةٌ |
| ===== | وِسعٌ | سِعَةٌ |
| ===== | وِزنٌ | زِنَةٌ |
| ===== | وِسطٌ | سِطةٌ |
| === | وِصلٌ | صِلَة |
| === | وِتنٌ | تِنةٌ |
| ===== | وِصفٌ | صِفَةٌ |
| ===== | وِحدٌ | حِدةٌ |
| ===== | وِرقٌ | رِقَةٌ |

## اووه دیرشم(۳۷) قانون

درمصدرهر حرفیکه بجز التقائی تنوین بیفتد عوضش تائی متحرک دراخرش درآرند وجوبامگر لغةٌ ومائةٌ شاذاست .

**دقانون خلاصه:** په مصدر کښې چې هر حرف بیله التقاء تنویني غورځول سوی وي (یعني دغورځیدو سبب ئي التقاء تنویني نه وي) دهغه حذف سوي حرف په عوض کښې متحرکه(تا) دهغه مصدر په اخرکښې راوړل واجب ده

مګرپه لغةً او مائةً کي که څه هم دقانون شرطونه وجود نه لري خو بیا هم جاري سوی دی نوداشاذ دي .

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم د (اِقامة ، اِستقامة) قانون دی .د قانون ترمخه دیوې فایدې پیژندل

www.jamairahmani.org

ضروري دي . **فائده:** التقائي ساکنين پر دوه قسمه ده التقائي تنويني او التقائي غير تنويني التقائي تنويني دې ته وائي چي دوه ساکنين يوځای راسي يوپکښي تنوين وي لکه (هُدًى) چي په اصل کښې (هُدَيٌ) وو ديا ثخه ضمه حذف کړل سوه دثقالت دوجي وروسته ديا او دتنوين په مينځ کښې التقائي ساکنين راغله يا هم حذف کړل سوه (هُدًا) پا ته سوه . او التقايې غير تنويني خو معلومه او مشهوره ده . ددي قانون دپاره يو حکم او دوه شرطونه دي **حکم:** دمحذوف سوي حرف په بدل کښې په اخر کښې متحرکه تا راوړل واجب ده .

**اول شرط:** په مصدر کښې به يو حرف حذف سوی وي احترازي مثال (يَعِدُ) دا مضارع ده **دوهم شرط:** دغه حذف به دالتقاء تنويني دوجي څخه نه وي سوی (يعني دوهم ساکن به نون تنوين نه وي) احترازي مثال : لکه هُدىً په اصل کښې هُدَيٌ وو اتفاقي مثال د اِقوَامٌ څخه اِقامةٌ اودإستِقوَامٌ څخه اِستِقامةٌ ويل واجب دی .

## د اقامةٌ او استقامةٌ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اِجابَةٌ | اِجوابًا | د( اقامَةٌ او استقامة ) قانون |
| اِجارَةٌ | اِجوَاراً | ===== |
| اِدامَةٌ | اِدواماً | ===== |
| اِشارَةٌ | اِشواراً | ===== |
| اِستِدامةٌ | اِستدواماً | === |
| اِستِفادةٌ | اِستِفواداً | === |
| اِفادَةٌ | اِفواداً | ===== |
| اِعارَةٌ | اِعواراً | ===== |
| اِمارَةٌ | اِموَاَراً | ===== |

www.jamairahmani.org

# اته دیرشم(۳۸) قانون

هر واو ساکن مظهر غیر واقع مقابله فاء کلمه باب افتعال ما قبلش مکسور، آن واو را به یا بدل کنند وجوبًا بشرطیکه باعث تحریکش موجود نباشد.

**دقانون خلاصه:** هرهغه واو چي ساکن وي اونښکاره وي (مدغم نه وي) اوپربرابري دفاکلمې دباب افتعال نه وي راغلی او ماقبل یې مکسور وي هغه واو په یا سره بدلول واجب دي خوپه دي شرط چي دمتحرک والي سبب یې موجود نه وي.

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم **دمیعادٌ** قانون دی. ددې لپاره یو حکم اوپنځه شرطونه دي **حکم** واوپه یاسره بدلول واجب دي. **اول شرط** واوبه ساکن وي احترازي مثال عِوَضٌ **دوهم شرط** مظهر(ښکاره) به وي احترازي مثال اِجلوَّاذٌ دلته مدغم دی **دریم شرط** په مقابله کښې دفاکلمې به دباب افتعال نه وي راغلی احترازي مثال اِتَّقَدَ چي په اصل کښې اِوتَقَدَ وو. ** څلورم شرط** ما قبل به ئې مکسور وي احترازي مثال قَولٌ **پنځم شرط** دواودحرکت والي سبب به نه وي احترازي مثال اِوَزَّةٌ چه په اصل چي اِوَزَزَةٌ وو زا چي په زا کښې مدغمه سول نو دواو دمتحرک کیدلو سبب موجود سو **اتفاقي مثال:** دموِعادٌ څخه **میعادٌ** ویل واجب دي.

## د مِیعَادٌ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| میلاذٌ | مِولاذٌ | د( مِیعادٌ ) قانون |
| مِیرامٌ | مِورامٌ | ===== |
| مِیضاعٌ | مِوضَاعٌ | ===== |
| مِیهابٌ | مِوهابٌ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| مِیحادٌ | مِوحادٌ | === |
| مِیراثٌ | مِوراثٌ | === |
| مِیثاقٌ | مِوثاقٌ | ===== |
| مِیزانٌ | مِوزانٌ | ===== |
| مِیقاتٌ | مِوقاتٌ | ===== |

## نهه دیرشم(۳۹) قانون

هر دال ساکن که مابعد ش تائ متحرک که غیر تاء افتعال باشد آن را تا کرده در تا ادغام می کنند وجوبًا بشرطیکه وحدت کلمه باشد و کرن جایز است .

**دقانون خلاصه:** هرهغه دال چي وروسته ترهغه (تا) متحرکه چي ماسوا دتا څخه دافتعال دباب وي راغلی وي هغه دال په تاسره بدلول او بیا تا په تا کښې مدغمول واجب ده خو په دې شرط چي دواړه په یوه کلمه کښې وي که چیري په جلا جلا کلمو کښې وي بیا ادغام جائزدی .

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم د ( وَعَدتَ ) قانون دی . ددې لپاره دوه حکمونه دي داول حکم دپاره دري شرطونه دي او د دوهم حکم دپاره دوه شرطونه دي . **حکم** دال په تاءسره بدلول اوتا په تا کښې مدغمول واجب ده په دې شرط چي په یوه کلمه کښې وي او که په دوو کلمو کښې وه نو بیا ادغام جائزدی **اول شرط** دال به ساکن وي احترازي مثال وَعَدَ.
**دوهم شرط** تر دال وروسته به تا متحرکه وي احترازي مثال وعَدنَ دلته نون راغلی دی
**دریم شرط** تر دال وروسته به تاد افتعال نه وي راغلي احترازي مثال اِدتَغَمَ **اتفاقي مثال دوجوب:** وعَدتَّ (مشدد) ویل واجب دي چي په اصل کښې وَعَدتَ وو .**او اتفاقي مثال دجواز** :قَدتَّبَیَنَ (مشدد ) ویل جائز دي چي په اصل کښې قَد تَبیّنَ وو .

**دوهم حکم:** تا په دال سره بدلول او دال په دال کښې مدغم کول واجب دي . که په یوه کلمه کښې وه او که په دوو کلمو کښې وه نو بیا مدغم کول جائز دي . **اول شرط:** تا به ساکنه وي احترازي مثال : سَکَتَ . **دوهم شرط**: دتا څخه وروسته دال به متحرک وي . احترازي مثال (قَالَتِ ادعُوا ) **اتفاقي مثال وجوب**: د( اَلمَتدُ ) څخه اَلمدُّ ) ویل واجب دي . **اتفاقي مثال دجواز:** د (اَثْقَلَت دَعَوُاللّٰه ) څخه ( اَثْقَلَت دّعَوُاللّٰه) ویل جائز دي

## د وَعَدتَ دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| رَقدتَّ | رَقَدتَ | د( وَعَدتَ ) قانون |
| مَدَتَّ | مَدَدتَ | ===== |
| جَحَدّتُم | جَحَدتُم | ===== |
| شَهِدْتُّم | شَهِدْتُم | ===== |
| قَد تّكُونُ | قَد تَكُونُ | === |
| حَسَدّتُهُ | حَسَدتُهُ | === |
| وَجَدّتُهَا | وَجَدتُهَا | ===== |
| قَدّ تَعلَمُونَ | قَد تَعلَمُونَ | ===== |
| تَوَاعدّتُم | تَوَاعدْتُم | ===== |

## څلویښتم(۴۰) قانون

هر واو مضموم یا مکسور که واقع شود، دراول کلمه که مابعد ش دیگر واو متحرک نباشد یا مضموم که مقابله عین کلمه باشد همزه می شود جوازاً بشرطیکه در مضارع معلوم نباشد .

www.jamairahmani.org

**دقانون خلاصه:** هرمضموم یامکسور واوچي دکلمې په شروع کښې راسي او ترهغه وروسته بل متحرک واونه وي یا داسي مضموم واوچي پربرابرې دعین کلمې راغلی وي په همزه سره بدلول جائزدي خو په دي شرط چي په مضارع معلوم کښي به نه وي .

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم د ( أُعِدَ او اِشاحٌ ) قانون دی . ددي لپاره یو حکم اود شرطونو لپاره دوه جماعته دي . **حکم** واو په همزه سره بدلول جائزدي داول جماعت درې شرطونه دي **اول شرط** واو به مضموم یامکسور وي احترازي مثال وَعَدَ . **دوهم شرط** واوبه په اول کښي دکلمې راغلی وي احترازي مثال دَلوٌ . دلته په آخره کښې راغلی دی . **دریم شرط** ددغه واومتحرکه وروسته به بل واو متحرکه نه وي راغلی احترازي مثال وُوَیعِدٌ **اتفاقي مثال** مثال ( اُعِدَ اِشاحٌ ) چي په اصل کښې وُعِدَ او وِشاحٌ وو دوُعِد ځخه اُعِد دوِشاحٌ ځخه اِشاحٌ ویل رواه دي .

ددوهم جماعت لپاره هم درې شرطونه دي **اول شرط** واو به مضموم وي احترازي مثال قُوِلَ دلته مکسوره دی **دوهم شرط** دعین کلمې پربرابري به راغلی وي احترازي مثال اَدْلُوٌ دلته دلام کلمې په مقابله کښې راغلی دی. **دریم شرط:** واو به مخفف وي احترازي مثال : لکه تُحُوِّلَ دلته مشدد دی . **اتفاقي مثال** دقَوُلَ ځخه قَؤُلَ ویل رواه دي .

## د ( اُعِدَاواِشَاحٌ ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اُضِعَ | وُضِعَ | د ( اُعِدَ او اِشَاحٌ ) قانون |
| اِصالٌ | وِصالٌ | ===== |
| اِراثَةٌ | وِراثَةٌ | ===== |
| اِفَاقٌ | وِفَاقٌ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| اُجِدَ | وُجِدَ | === |
| طَئُلَ | طَوُلَ | === |
| اِثَّابٌ | اِثَّابٌ | ===== |
| اُعِّدَ | وُعِّدَ | ===== |
| اِجَاهٌ | وِجَاهٌ | ===== |

## يوڅلويښتم (٤١) قانون

هر بابــــ مثال واوي برزون مَنَعَ يَمنَعُ ياكه ماضي او نيافتــه شده باشد يا مضــارع معــلو مش برزون يَفعِلُ باشد در مضــارع معــلوم اوفا كلمــه راحذفــــ كنند وجوبًا وازبابـــ فَعِلَ يفعَلُ دردو بابــــ وسِع يسعُ وَطِي يَطَئُ

**دقانون خلاصه:** هرهغه باب چې دمثال واوي څخه پروزن **دمَنَع يَمنعُ** وي او مثال يائي ماضي نه وي استعمال سوې اويائي مضارع معلومه پروزن **ديَفعِلُ** وي ده هغه باب په مضارع معلوم كي فا كلمه حذف كول واجب ده اود **فَعِلَ يَفعَلُ** دباب څخه په دووبابوكي لكه وسِعَ يَسَعُ اوَطِي يَطَئُ كې هم حذف كول واجب دي .

## دقانون شرح اوتفصيل

ددې قانون نوم ( **ديَعِدُ** ) قانون دی . ددې قانون لپاره يو حكم اودرې شرطونه دي-

**حكم** دفاء كلمې حذف كول واجب دي.

**اول شرط** باب به دمثال واوي وي احترازي مثال يَتِمُ **دوهم شرط** ددغو دروشيانو څخه به يو خامخاوي ياخوبه **دمَنَعَ يَمَنعُ** باب وي، يابه داسي مضارع وی چي ماضي ونه لري، يابه داسي باب وی چي مضارع معلوم ئي پروزن د **يَفعِلُ** وي احترازي مثال يَوجَلُ .

www.jamairahmani.org

**دريم شرط** مضارع معلوم به وي احترازي مثال **يُوعَدُ** **اتفاقي مثالونه** په لاندي ډول دي مثال دهغه صورت چې **دمَنعَ** ،**يَمنَعُ** دباب څخه وي لکه **يضَعُ** ويل واجب دي چې په اصل کښې **يَوضَعُ** وو. هغه مثال چې ماضي ئې نه وي پيدا سوي لکه د **يوذَرُ**،او **يودَعُ** څخه **يَذَرُ** او**يَدَعُ** ويل واجب دي .مثال دهغه صورت چې مضارع معلوم ئې پروزن د**يفَعِلُ** وي لکه **يَعِدُ** ويل واجب دي چې په اصل کښې **يوَعِدُ** وو. او**دعَلِمُ** په دوو بابو کښې هم دا قانون جاري کيږي لکه **يطَئُ**، **يسَعُ** ويل چې واجب دي.

## د (يَعِدُ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| يَذَرُ | يَوذَرُ | د( يَعِدُ ) قانون |
| يَلِدُ | يَولِدُ | ===== |
| يَصِبُ | يَوصِبُ | ===== |
| نَسِمُ | نَوسِمُ | ===== |
| لم يَلِد | لم يَولِد | === |
| نَثِقُ | نَوثِقُ | === |
| يَجِدُ | يَوجِدُ | ===== |
| يلِجُ | يَولِجُ | ===== |
| تَجدُنِي | تَوجِدُنِي | ===== |

## دوو څلويښتم (۴۲) قانون

هر دو واو متحرک کي جمع شوند دراول کلمه (واو )اولی را به همزه بدل کنند وجوبا

**دقانون خلاصه:** هرچيري چي په اول سرکښې دکلمې دوه واوه متحرک سره يوځاي سي نو اول واوپه همزه سره بدلول واجب دي.

www.jamairahmani.org

## دقانون شرح اوتفصيل

ددې قانون نوم د (اَوَاعِدُ او اُوَيعِدُ) قانون دی .ددې قانون لپاره يو حکم او پنځه شرطونه دي **حکم:** ددوو (واونو) ځخه اول واو په همزه سره بدلول واجب دی. **اول شرط:** دوه واوه به وي احترازي مثال (وَعَدَ) دلته يو واو دی. **دوهم شرط:** دواړه به متحرک وي احترازي مثال (وُورِیَ) دلته دوهم واو ساکن دی. **دريم شرط:** دواړه به سره يو ځای بغل پر بغل وي وي احترازي مثال (وَلوَلَ) دلته فاصله دلام راغلې ده. **ځلورم شرط:** دواړه به په يوه کلمه کښې وي احترازي مثال (وَوَجدَکَ) دلته په دوو کلمو کښې دي. **پنځم شرط:** دواړه به په اول سر کښې دکلمې وي .احترازي مثال (اِرعَوَوَ) دلته په اخر کښې دکلمې راغلي دي. **اتفاقي مثال:** د وَوَاعِدُ ځخه اَوَاعِدُ دوُوَيعِدٌ، او وُوَيَعِدَةٌ ځخه اَوُيَعِدٌ اُويعِدةٌ ويل واجب دي .

## د(اَوَاعِدُ او اُوَيعِدُ) دقانون اجراء .

| قانون | اصل | موزون |
|---|---|---|
| د (اَوَاعِدُ او اُوَيعِدٌ) قانون | وَوَاسِعُ | اَوَاسِعُ |
| ===== | وُوَيسِطٌ | اُوَيسِطٌ |
| ===== | وَوَاصِلُ | اَوَاصِلُ |
| ===== | وُوَيبِقٌ | اُوَيبِقٌ |
| === | وَوَاجِلُ | اَوَاجِلُ |
| === | وَوَاضِعُ | اَوَاضِعُ |
| ===== | وَوَارِثُ | اَوَارِثُ |
| ===== | وَوَادِمُ | اَوَادِمُ |
| ===== | وُوَيشِمَةٌ | اُوَيشِمَةٌ |

www.jamairahmani.org

# درو څلويښتم(۴۳) قانون

هر بابِ مثال واوي از بابِ عَلِم يَعلم كه غير محذوف الفاء باشد در مضارع معلوم او سوايي اصل سه وجه خواندن جائز است چنانچه در (يوجَلُ ياَجَلُ يَيْجَلُ يِيْجَلُ) خواندن جايز است .

**دقانون خلاصه:** هرهغه باب دمثال واوي چي دباب څخه د (عَلِمَ يَعلَمُ) پروزن راغلی وي او فاکلمه يې حذف سوې نه وي نوپه مضارع معلوم کښې دداسي باب ماسوا داصل څخه درې وجي ويل نوري هم رواه دي لکه په يوَجَلُ کښې چي ( ياَجَلُ، يَيجَلُ، يِيجَلُ ) ويل رواه دي .

## دقانون شرح اوتفصيل

ددې قانون نوم د ( ياَجَلُ، يَيجَلُ، يِيجَلُ ) قانون دی . ددې لپاره يوحکم او درې شرطونه دي . **حکم:** په مضارع معلوم کښې ماسوا داصل څخه درې نوري وجي ويل رواه دي. **اول شرط:** باب به دمثال واوي څخه وي احترازي مثال يَيسَرُ . دامثال يايي دی . **دوهم شرط:** باب به د (عَلِمَ ،يَعلَمُ)وي احترازي مثال وَعَدَ يَعِدُ ، دادضرب باب دی . **دريم شرط:** مضارع به ئي محذوف الفانه وي احترازي مثال (وَسَعَ ،يَسَعُ ) دلته مضارع محذوف االفا ده په اصل کښې( يَوسَعُ ) وو .**اتفاقي مثال:** ديَوجَلُ څخه (ياَجَلُ، يَيجَلُ ،يِيجَلُ ) ويل رواه دي.

## د(ياَجَلُ،يَيجَلُ،يِيجَلُ) دقانون اجراء .

| موزون | وجوهات | قانون |
|---|---|---|
| يَوبَقُ | درې وجي ويل رواه دي | د( ياَجَلُ، يَيجَلُ، يِيجَلُ ) قانون |
| يَوعَثُ | ===== | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| يَوسَخُ | ===== | ===== |
| يَورَبُ | ===== | ===== |
| يَوبَطُ | ===== | === |
| يَوجَعُ | ===== | === |
| يَورَسُ | ===== | ===== |
| يَوعَرُ | ===== | ===== |
| يَوءَبُ | ===== | ===== |

## ثلور ثلویښتم(۲۴) قانون

هر یایٔ سـاکن مظهر غیر واقع مقـابله فـا کلمـه بـاب افتعال ما قبلش مضموم آن را بواو بدل کننـد وجو با بشـرط یکه در جمع اَفعَلُ ،فَعْلآءُ صفتي وفُعْلٰی صفتي نبـاشـد واسـم مفعول ثلاثي مجـرد داجوف یاي نبـاشـد واگر باشـد ضمـه ما قبلش را بکسـره بدل کننـد وجو با

**دقانون خلاصه:** هرهغه (یا) چي ساکنه وي او ښکاره وي مدغمه نه وي دباب افتعال دفاء کلمي پربرابري هم نه وي راغلې او ماقبل يې هم مضموم وي هغه (یا) په واو سره بدلول واجب ده خو په دې شرط چي په اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يايې کښې به نه وي راغلې او د (اَفعَلُ ، فَعلآءُ )صفتي په جمعې کښې به نه وي راغلې او په نفس (فُعَلیْ) صفتي کښې به هم نه وي راغلې او که چیري راغلې وي نو دماقبل ضمه يې په کسره سره بدلول واجب ده.

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (يُوسَرُ) قانون دی ددې قانون دوه حکمه دي .داول حکم دپاره اووه شرطونه او ددوهم دپاره پنځه شرطونه دي . ددې تر مخه ديو څو فائدو پيژندل ضروري دي.

**اوله فائده:** هغه اسم چي پر وزن د (اَفعلُ) وي هغه پر درې قسمه دی:

(۱)اسمي (۲)تفضيلي (۳)صفتي.

**اسمي:** هغه ته ويل کيږي چي د (اَفعَلُ) پر وزن وي او ديو چا نوم وي. لکه (احمَدُ). او **تفضيلي:** هغه ته ويل کيږي چي د (اَفعَلُ) پر وزن خو وي مګر دزياتوالي معنی په کښې معتبره وي لکه (اَضرَبُ) په معنی دډير وهونکي سړي. **صفتي:** بيا هغه ته ويل کيږي چي د (اَفعَلُ) پر وزن خو وي مګر په هغه کښې صفتي معنی معتبره وي لکه (ابيَضُ) په معنی سره د هغه ذات چي په هغه کښې سپينوالی وي.

**دوهمه فائده:** وزن (فُعلَی) هم پر درې قسمه دی:

(۱)اسمي (۲)تفضيلي (۳)صفتي

**اسمي:** هغه ته ويل کيږي چي د (فُعلَی) پر وزن وي او ديوچانوم وي لکه (طُوبَی )چي داديوې درختي نوم دی. **تفضيلي**: هغه دی چي د (فُعلَی) پر وزن وي او په هغه کښې دزياتي معنی معتبره وي لکه (ضُربَی) په معنی سره دډيري وهونکي ښځي.

**صفتي:** هغه دی چي د (فُعلَی) پر وزن وي او معنی صفتي په کښې لحاظ سوې وي لکه (حُيکی) هغه ښځه چي په ناز او نخرو سره ګرځي.

**دريمه فائده:** د (فَعلاَءُ) وزن پر دوه قسمه دی: **(۱)اسمي (۲)صفتي**

**اسـمي:** هغـه تـه ويـل کيـږي چـي پـروزن د (فَعـلاَءُ) بانـدي وي او ديـو چـا نـوم وي لکـه (صَحرَآءُ). او **صفتي:** هغه ته ويل کيږي چي په هغه کښې صفتي معنی لحاظ سوې وي. لکه (بَيضَآءُ) په معنی سره د سپيني ښځي.

**اول حکـم:** (يـا) پـه واو سـره بـدلول واجب دي. **اول شـرط** يـاء بـه سـاکنه وي احـترازي مثال( بُيِعَ) دلته متحرکه ده. **دوهم شرط** (يا) به ښکاره وي احترازي مثال( مُيِّزَ)دلته مدغمه ده. **دريـم شـرط:** دبـاب افتعـال پرفـاء کلمې بـه نـه وي راغلـې احـترازي مثـال (

أُيتُسِرَ). **ثلورم شرط:** ماقبل به ئې مضموم وي احترازي مثال (بَيعٌ) دلته يې ماقبل مفتوح دی. **پنځم شرط:** په دغه دروځايونو کښې به په يوه کښې هم نه وي راغلې. يعني په جمعې کښې د (اَفعَلُ، فَعلآءُ) صفتي کښې به نه وي راغلې احترازي مثال (بُيضٌ) چې داد ابيَضُ او بَيضَآءُ) مشترکه جمع ده. **شپږم شرط:** په (فُعلى صفتي) کښې به هم نه وي راغلې احترازي مثال لکه (حُيکی). **اووم شرط:** په اسم مفعول کښې دباب ځخه داجوف يايې به هم نه وي راغلې. احترازي مثال: مَبيُوعٌ چې داداجوف دباب اسم مفعول دی. **اتفاقي مثال:** ديُيسَرُ څخه يُوسَرُ ويل واجب دي.

**دوهم حکم**: ديادماقبل ضمه په کسرې سره بدلول واجب ده. څلوروشرطونه هغه داول حکم دي. **پنځم شرط** په دغو دروځايو کښې به يو وي يعني يابه جمع د (اَفعَلُ، فُعلاءُ) صفتي وي، يابه فُعلى صفتي وي، يابه داجوف يايې دباب څخه داسم مفعول صيغه وي احترازي مثال يُيَسرُ. **اتفاقي مثال** دبُيضٌ څخه چيد (اَفعَلُ، فَعلآءُ) صفتي جمع ده: بِيضٌ ويل او دحُيکی څخه حِيکی اودمَبيُوعٌ څخه مَبِيعٌ ويل واجب دي.

## د يُيسَرُ دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| يُوبَسُ | يُيبَسُ | د( يُيسَرُ ) قانون |
| يُوقنُ | يُيقنُ | ===== |
| يُوقِنونَ | يُيقِنونَ | ===== |
| يُونَعُ | يُينَعُ | ===== |
| يُوتَمُونَ | يُيتَمُونَ | === |
| نُوسِرُ | نُيسِرُ | === |

| | | |
|---|---|---|
| يُونَمُ | يُينَمُ | ===== |
| مَبِيعٌ | مَبيُوعٌ | ===== |
| مُوقِنِينَ | مُيقنِينَ | ===== |

## پنځه څلويښتم (۴۵) قانون

هر واو، ویا متحرک بحرکت لازمی که ماقبلش مفتوح باشد، از آن یک کلمه بالف مبدل شود وجوباً بشرطیکه آن واو، ویا مقابله فا کلمه، وعین کلمه ناقص ودر حکم عین کلمه ناقص نباشد، ومابعدش مده زائده که لازم بود تحقق وسکون او وحرف تثنیه، والف جمع مونث سالم، ویائ مشدده، ونون تاکید نباشد، وآن کلمه بروزن (فَعَلانٌ وفَعَلٰی) وبمعنٰی آن کلمه که در آن تعلیل نیست نباشد، ومقابله عین کلمه ملحق، ومقابله عین کلمه بدل از حرف صحیح ومقابله عین کلمه فعل تعجب نباشد.

**دقانون خلاصه:** هغه واو او یا چې حرکت لازمي ولري او ماقبل یې مفتوح وي په هغه یوه کلمه کښې نو دغه واو او یا په الف سره بدلول واجب دي خو په دې شرط سره چې هغه واو او یا به پر برابري د فا کلمې او عين کلمې د نا قص او یا به په حکم کښې د عین کلمې د نا قص نه وي راغلي . او وروسته به تر دغه واو او یا داسې مده زائده هم نه وي چې د هغه ثابت پريښوول او ساکن ګرځول لازمي وي . او دغه شان به په هغه کلمه کښې چې واو او یا په کښې راغلي دي حرف تثنيه او الف د جمع مؤنث سالم، او يا يې مشدده، اونون تاکيد هم نه وي، او هغه کلمه به پر وزن د (فَعَلَانٌ او فَعَلَى) او په معنی سره د هغې کلمې چې په هغې کښې تعليل نه وي سوی هم نه وي او همدا شان به دغه واو او يا پر برابري د عين کلمې بدل د حرف صحيح او ملحق نه وي راغلي او په مقابله کښې د عین کلمې د فعل تعجب به هم نه وي راغلي .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (قَالَ، بَاعَ) قانون دی. ددې لپاره يو حکم او اتلس شرطونه دي. څلور شرطونه يې وجودي دي او څوارلس يې عدمي دي. **حکم**: واو او يا په الف سره بدلول واجب دي. **اول شرط**: (واو او يا) به متحرک وي احترازي مثال (قولٌ، بَيعٌ) دلته ساکن دي. **دوهم شرط**: حرکت به يې لازمي وي احترازي مثال (لَوِاستَطَعنَا) دلته عارضي دی چې هغه د ساکن د حرکت د وجې دی. يعني په اصل کښې واو دلته ساکن دی. **دريم شرط**: ماقبل به يې مفتوح اوور سره به په يوه کلمه کښې وي احترازي مثال (سَيَقُوْلُ) دلته ماقبل او يا جلا جلا کلمې دي. **څلورم شرط**: په مقابله کښې به د فا کلمې نه وي راغلي احترازي مثال (تَوَعّدَ) پر وزن د (تَفَعَّلَ) **پنځم شرط**: په مقابله کښې به د عين کلمې د ناقص (يعني د لفيف مقرون د عين کلمې په مقابله کښې به نه وي راغلي) **فائده**: لفيف مقرون ته مجازاً ناقص هم وايې. احترازي مثال (قَوِيَ، حَيِيَ) **شپږم شرط**: د ناقص حکمي د عين کلمې پر برابر به هم نه وي راغلي. احترازي مثال (اِرعَوَوَا، اِرمَيَيَ) دلته اول (واو) او اوله (يا) په حکم کښې د عين کلمې د ناقص دي.
**فائده**: ناقص حکمي دې ته وايې چې د رباعي د باب کلمه وي او د اول لام په مقابل کښې حرف علت راسي نو دا سي سولکه د عين کلمې په مقابل کښې چې راسي ځکه چې وروسته بل حرف يعني لام ثاني په پسې دی. **اوم شرط**: وروسته به ترواو او يا دا سي مده زائده نه وي راغلی چې د هغه پريښوول او ساکنول لازمي وي احترازي مثال: لکه (سَوادٌ، بَيَاضٌ) دلته الف مده لازمي دی او دلون د معنی د حصول د پاره راوړل سوی دی او ثابت ساتل يې ضروري دي. **اتم شرط**: وروسته تر هغه واو او يا به الف د تثنيې نه وي راغلی احترازي مثال (عَصَوَانِ، رَحَيَانِ) **نهم شرط**: وروسته به تر هغه واو او يا الف د جمع مونث سالم نه وي راغلی احترازي مثال (عَصَوَاتٌ) **لسم شرط**: وروسته به

تـر هغـه واو او يـا ( يـا ) مشـدده نـه وي راغلـې احتـرازي مثـال (عَصَوِيٌّ) **يولسـم شرط:** وروسته به تر هغوی نون دتاكيد يعني ثقيله وخفيفه نه وي راغلی احترازي مثال (اِخشَيَنّ ،اِرمَيَنّ ) **دولسم شرط:** په كومه كلمه كښې چې واو او يا راغلي وي هغه به پروزن د (فَعَلاَنٌ ) نه وي احترازي مثال (حَيَوَانٌ ، مَوَتَانٌ ) **ديارلسم شرط:** دواړه به په داسي كلمه كښې نه وي راغلي چې هغه وزن د (فَعَلَى ) وي احترازي مثال (صَوَرَى او حَيَدَى ) **څورلسم شرط:** واو او يا چې په كومه كلمه كښې وي هغه كلمه به دداسي كلمې په معنى نه وي چې په هغې كښې تعليل نه وي سوى . احترازي مثال (عَوِرَ عَيِنَ) پـه معنـى د (اِعوَرَّ او اِعيَنَّ ) سره دي او پـه دې كښـې دواو او يـا مـا قبـل سـاكن دي نـو داعلال څخه مانع دي . **پنځلسم شرط:** واواويا به په مقابله كښې دعين كلمې بدل د حرف صحيح څخه نه وي راغلي احترازي مثال (شَيَرَ ) چي پـه اصل كښـې شَجَرَ وو . **شپاړسـم شـرط:** واو او يـا بـه پـه مقابلـه كښـې دعـين كلمـې د ملحق نـه وي راغلـي . احترازي مثال لكه ( قَوَلُوْلٌ، بَيَعُوعٌ ) داكلمي ملحقي د (قَرَبُوسٌ ) دي . **اولسم شرط:** واو او يا به په مقابله كښې دعين كلمې دفعل تعجب نه وي راغلي احترازي مثال (قَوُلَ بَيُعُ). **اتلسم شرط:** دواو او يا ماقبل به مفتوح وي احترازي مثال : (قُوِلَ او بُيِعَ ) دلته مكسوره دي . اتفاقي مثال دقَوَلَ، بَيَعَ څخه قالَ باعَ اودبَوَبٌ ،نَيَبٌ څخه باَبٌ نابٌ ويل واجب دي .

## د (قَاَلَ او بَاَعَ) دقانون اجراء .

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| خافَ | خَوَفَ | د( قَالَ او بَاعَ ) قانون |
| كَانَ | كَوَنَ | ===== |
| نَامَ | نَوَمَ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| لَامَ | لَوَمَ | ===== |
| عَفَا | عَفَوَ | === |
| طَالَ | طَوَلَ | === |
| مَالَت | مَیَلَت | ===== |
| قَامَةٌ | قَوَمَةٌ | ===== |
| قَالَةٌ | قَوَلَةٌ | ===== |
| قَلٰی | قَلَیَ | ===== |

## شپږ څلویښتم (۴۶) قانون

التقاء ساکنین بردو قسم است علی حده و علی غیر حده، علی حده آنکه ساکن اول مده یایای تصغیر، وساکن ثاني مدغم ووحدت کلمه باشد وماسوای این علی غیر حده است، وحکم علی حده خواندن ساکنین است مطلقاو حکم علی غیر حده خواندن ساکنین است درحالت وقف و نه خواندن ساکنین درحالت غیر وقف، پس درحالت غیر وقف اگرساکن اول مده، یانون خفیفه باشد حذف کرده می شود التقا قاسوايي سه حبا دراجوف، یعني مصدر باب اِفعال، واِستِفعال، واسم مفعول چراکه دراینجااختلاف است بعضی صرفیان اولٰی راحذف می کنند وبعض ثاني را، واگرساکن اول مده بانون خفیفه نباشد حرکت داده شود ساکنی که درآخر کلمه است

وا گر در آخر نباشد اول را کسره زیرا که کسره در تحریک ساکن اصل

است و غیر او بسبب عارضه.

**دقانون خلاصه:** التقاء ساکنین (یعني یوځای کیدل د دوو ساکن حرفونو) دا پر دوه قسمه ده علی حدِّه. او علی غیر حدِّه. علی حده دې ته وایي چې اول ساکن مده یا (یا) دتصغیر وي، او دوهم ساکن مدغم وي، او دواړه په یوه کلمه کښې وي. او ماسوا ددې څخه نورټولـه علی غیرحده ده، **حکم دعلی حده:** دادی چې دواړه ساکنین به مطلقاً ویل کیږي (که حالت دوقف وي او که دوصل) او **حکم دعلی غیر حده:** دادی چې په حالت کښې د وقف ویل کیږي او دوصل په حالت کښې بیا نه ویل کیږي اوس نو که چیري په حالت کښې دغیروقف اول ساکن مده وي او یانون خفیفه وي نو په اتفاق سره اول حذف کیږي البته په درې ځایونو کښې نه حذف کیږي په اجوف کښې یعني په مصدر دباب افعال او باب استفعال کښې اوپه اسم مفعول کښې ځکه چې په دې ځایونو کښې اختلاف دی بعض صرفیان اول حذف کوي او بعض دوهم. او که چیري اول ساکن مده یانون خفیفه نه وي نو حرکت به وهغه ساکن ته ورکول کیږي چې دکلمې په اخر کښې وي او که چیري دکلمې په اخر کښې نه وي نو واول ته حرکت ورکول کیږي او کسره دساکن په حرکت ورکولو کښې اصله ده یعني چې وساکن ته حرکت ورکول کیدی نو په کسرې سره ورکول کیږی. او که چیري ویو ساکن ته نور حرکات لکه فتحه یا ضمه ورکول کیدل نو هغه به دیو عارضي سبب دوجې څخه وي لکه په (لَم یَحمرَّ کښې دلته فتحه داخف الحرکات دوجې ورکړل سویده.

## دقانون شرح او تفصیل

**فایده:** التقائي ساکنین دې ته وایي چې دوه ساکن حرفونه داسې سره جمع سي چې په مینځ کښې یې متحرک حرف نه وي. بیا التقایې ساکنین پر دوه قسمه ده: **علی حدِّه او علی غیر حدِّه:** علی حده درې شرطونه لري **اول شرط:** اول ساکن به مده یا یایي

تصغير وي .**دوهم شرط:** دوهم ساكن به مدغم وي .**دريم شرط:** دواړه به په يوه كلمه كښې وي لكه (اِحمارَّ ، اُحمُورَّ خُويصَةٌ ).او كه دغه شرطونه نه وه نو بيا على غير حده ورته ويل كيږي او ددې اووه صورتونه جوړيږي چي په لاندي نقشه كښې يې تاسي كتلاى سئ.

| اووم صورت | شپږم صورت | پنځم صورت | څلورم صورت | دريم صورت | دوهم صورت | اول صورت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| انتفاء دټولو شرطونو | انتفاء شرط اول ودريم | انتفاء شرط دوم ودريم | انتفاء شرط اول ودوم | انتفاء شرط ثالث | انتفاء شرط ثاني | انتفاء شرط اول |
| قُلِ الحَقّ | لِتُدعَوْنَّ | اِضرِبُوا القوم | مُدُّ | اِضرِبُونَّ | قَالْنَ | يَخِصِّمُ |

ددې قانون نوم د (التقاء ساكنين) قانون دی ددې لپاره پنځه حكمونه دي يو د على حده دپاره دی او څلور د على غير حده دپاره دي . **اول حكم:** دواړه ساكنين خپل پر حال پريښول واجب دي .**شرط:** التقاء ساكنين به على حده وي احترازي مثال يَخِصِّمُ **اتفاقي مثال :** (اِحمارَّ ،اُحمُورَّ، خُوَيصَّةٌ )**دوهم حكم:** ساكن حرفونه خپل پر حال باندي پريښول واجب دي ددې لپاره دوه شرطونه دي .**اول شرط:** التقاء ساكنين به على غير حده وي احترازي مثال (اِحمارَّ) **دوهم شرط:** حالت به دوقف وي احترازي مثال ( قُلِ الحِقَّ )**اتفاقي مثال:** نستَعِين .**دريم حكم:** اول ساكن حذف كول واجب دی ددې لپاره دري شرطونه دي.**اول شرط:** التقاء ساكنين به على غيرحده وي احترازي مثال (اِحمارّ) **دوهم شرط:** حالت به دوقف نه وي احترازي مثال( نستعِين ) **دريم شرط:** اول ساكن به مده يانون خفيفه وي احترازي مثال( يَخِصّمُ )**اتفاقي مثال** د (قَالْنَ څخه قُلْنُ )او د (لا تُهِينَن الفَقِيرَ څخه لاتُهِينَ الفِقِير ) ويل واجب دي .**فائده:** ددې قاعدي څخه داجوف درې صيغي مستثنى دي يعني اول ساكن په كښې حذف كول

www.jamairahmani.org

جائزدی واجب نه دی . **ثلورم حکم:** واخر ساکن ته حرکت ورکول واجب دي اول او دوهم شرط يې دتيرسوي حکم دشرطونو په شان دی . **دريم شرط:** اول ساکن به مده يانون خفيفه نه وي احترازي مثال (قالنَ) **ثلورم شرط:** ددوو ساکنينو څخه به يوپه اخر کښې دکلمې راغلی وي احترازي مثال (يَخِصِّمُ) دلته يو لا هم نسته په آخر کښې . **اتفاقي مثال:** چي ساکن اول په آخر کښې دکلمې وي د (قُل اَلحَقّ ) څخه قُلِ الحَقَّ ويل واجب دي او چي ساکن ثاني په آخر کښې دکلمې وي لکه لم يَحمَرَّ ويل واجب دي . **پنځم حکم:** اول ساکن ته حرکت دکسري ورکول واجب دي اول، دوهم ،دريم شرط يې دثلورم حکم دشرطونو په شان دی . **ثلورم شرط:** ددوو ساکنينو څخه به يو په اخر کښې دکلمې نه وي احترازي مثال (قُلِ الحَقَّ) **اتفاقي مثال:** د يَختَصِمُ څخه يَخَصَصِمُ بيايخِصِّمُ ويل واجب دي.

## د(التقاء ساكنينو) د قانون اجراء

| موزون | قسمونه | قانون |
|---|---|---|
| احمارَّ | على حده | د(التقاء ساكنينو ) قانون |
| اُحمُورّ | على حده | ===== |
| تَرِثُوا النسآء | على غير حده | ===== |
| قُلِ الحَمدُ | على غير حده | ===== |
| قالتِ اليَهودُ | على غير حده | === |
| مُدهَامَّتانِ | على حده | === |
| مَرِيضٌ | على غيرحده | ===== |
| قَالنَ | على غيرحده | ===== |
| اِضرِبُونَّ | على غير حده | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| اِضرِبُواالقوم | علی غیر حده | ===== |

## اووه ځلويښتم (۴۷) قانون

هر واو غیر مکسور که در ماضي ثلاثي مجرد اجوف الف شده بیفتد فا کلمه اورا حرکت ضمه مي دهند وجوبًا .

**دقانون خلاصه:** هر هغه واو چي مکسور نه وي د ثلاثي مجرد د اجوف په ماضي کښې يو ځل په الف سره بدل سوی وي او بيا حذف سوی وي هغه چي په کومه کلمه کښې وي دهغې وه فا کلمي ته حرکت دضمي ورکول واجب دی .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (قُلنَ طُلنَ) قانون دی ددې لپاره يو حکم او پنځه شرطونه دي **حکم:** دماضي معلومي فا کلمې ته حرکت دضمي ورکول واجب دی . **اول شرط:** واو به غير مکسور وي احترازي مثال (خَوِفَ) **دوهم شرط:** ماضي معلوم به وي احترازي مثال (قُوِلنَ) دامجهوله ده . **دريم شرط:** ثلاثي مجرد به وي احترازي مثال (اَقوَمنَ) داثلاثي مزيد فيه دی . **ځلورم شرط:** باب به داجوف وي احترازي مثال (دَعَت) چي په اصل کښې دَعَوَت وودا ناقص دی **پنځم شرط:** په الف سره به بدل سوی وي او بيا به حذف سوی وي احترازي مثال (قَال، بَاعَ) په الف سره بدل سوی دی خو حذف سوی نه دی . **اتفاقي مثال:** لکه قَوَلنَ په قانون دقال سره (قَالنَ) سو بيا الف د التقاء ساکنينو دوجي ځخه ولاړی قَلنَ سو بيا په دغه قانون سره (قُلنَ) سو . او همداشان اعلال په طَوَلنَ کښې کيږي چي طُلنَ ويل يې واجب دي .

## د (قُلنَ طُلنَ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| مُتنَ | مَوَتنَ | د ( قُلنَ طُلنَ ) قانون |
| خُرنَ | خَوَرنَ | ===== |
| خُتنَ | خَوَتنَ | ===== |
| جُزنَ | جَوَزنَ | ===== |
| طُلنَ | طوَلنَ | === |
| صُلنَ | صَوَلنَ | === |
| عُذتُ | عَوَذتُ | ===== |
| دُرنَ | دَوَرنَ | ===== |
| لُمتُ | لَوَمتُ | ===== |
| تُبتُ | تَوَبتُ | ===== |

## اته ثلویښتم (۴۸) قانون

هر واو مکسور و یای مطلقا در ماضي معلوم ثلاثي مجرد اجوف الف شده بیفتد

فا کلمه او را حرکت کسره می دهند وجوبا.

**دقانون خلاصه:** هرمکسوره واو او (یا) مطلقاً یعني چي هرډول وي چي د ثلاثي مجرد اجوف په ماضي معلوم کښي یو وار الف سوی وي او بیا حذف سوی وي دغه واو او یا چي په کومه کلمه کښې وي دهغې وفا کلمي ته حرکت د کسرې ورکول واجب دی .

www.jamairahmani.org

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د ( خِفنَ او بِعنَ ) قانون دی. ددې لپاره يو حکم او پنځه شرطونه دي **حکم:** فا کلمې ته حرکت د کسرې ورکول واجب دی. **اول شرط** ( واو ) به مکسور او (يا ) به **مطلقاً** وي که مکسوره وي که نه وي احترازي مثال ( قَوَلَ طَوُلَ) دلته مکسوره نه دی. **دوهم شرط:** په ماضي معلوم کښې به وي احترازي مثال (**يخوَفُ**) دلته په مضارع کښې دی. **دريم شرط:** په ثلاثي مجرد کښې به وي احترازي مثال (اَطَرَنَ) چه په اصل کښې اَطيَرنَ وو او دا مزيد دی. **څلورم شرط:** په اجوف کښې به وي احترازي مثال (رَضِيَت، رمَيَت) دا ناقص دی. **پنځم شرط:** واو او يا به يو واري الف سوي وي وروسته تر الف کيدو به حذف سوي وي احترازي مثال ( خَافَ، باعَ ) دلته بدل سوي دي خو بيا نه دي حذف سوي. **اتفاقي مثال:** (خِفنَ، بِعنَ ) چه په اصل کښې خَوِفنَ،بَيَعنَ وو.

### د( خِفنَ، بِعنَ) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| طِبنَ | طَيَبن | د( خِفنَ، بِعنَ ) قانون |
| هِئنَ | هَيُئنَ | ===== |
| بِعنَ | بَيَعنَ | ===== |
| نِمتُ | نَوِمتُ | ===== |
| زِدتُ | زَيَدتُ | === |
| صِدنَا | صَيَدنَا | === |
| صِرنَا | صَيَرنَا | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| بِتنَا | بَيَتنَا | ===== |
| كِلنَا | كَيَلنَا | ===== |
| طِحنَ | طَيَحنَ | ===== |

## نهه څلويښتم (۴۹) قانون

هر واو، ويا مضموم يامكسور متوسط يادر حكم متوسط كه دراصل نمانده باشد درناقص ثلاثي مجرد مطلقًادر فعل متصرف يادر متعلقات وي بجز (فُعِلَ) حقيقي وحكمي ازاجوف و (تَفَعُلِيْنَ) ازناقص حركت آن واويانقل كرده بماقبلش ميدهند وجوبا بشرطيكه ان واويابدل از همزه ضمه وكسره انها منقول از همزه نباشد وماقبل آنها مفتوح ومده ولين زائده نباشد ودر فُعِلَ ازاجوف نقل حركت، وحذف، واشمام وى جائزاست ودر (تَفَعُلِيْنَ) ازناقص نقل حركت واثبات وى جائزاست.

**دقانون خلاصه:** هرهغه واوچي مضموم يامكسور وي اوپه مينځ كښې دكلمې راسي ياپه داسي كلمه كښې وي چي هغه كلمه په حكم كښې د (مينځ دكلمې) وي او چي په اصل كښې سلامت نه وي پاتـه سوى اوپه ناقص كښې د ثلاثي مجرد مطلقا بيله دغه قيده اوشرطه اوپه فعل متصرف كښې به وي او يابه په متعلقاتو كښې دفعل متصرف وي خو داجوف دباب په (فُعِل) حقيقي ياحكمي كښې به نه وي اودناقص دباب په (تَفْعُلِيْنَ) وزن كښې به نه وي نوحركت دهغه واو وايا نقل كول وماقبل ته وركول واجب دى خوپه دې شرط چي هغه واو وابه دهمزې ځخه بدل نه وي راغلي اونه به ئي هم ضمه اوكسره دهمزې ځخه رانقل سوي وي اوماقبل به دهغوى مفتوح اومده زائده هم نه وي.

www.jamairahmani.org

او داجوف څخه د (فُعِلَ) په وزن کښې درې وجې ويل رواه دي .(۱) دحرکت نقل کول (۲) حذف کول دحرکت (۳) او اشمام کول. اوپه (تَفْعُلِيْنَ) وزن کښې دناقص حرکت او اثبات دحرکت دغه دواړې طريقې ويل رواه دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (يَقُولُ او يَبِيعُ) قانون دی، ددې قانون درې حکمونه دي .داول حکم دپاره دوولس شرطونه دي . درې وجودي دي او نه دانې عدمي دي . ددوهم حکم دپاره درې شرطونه دي . او ددريم حکم دپاره يې يو شرط دی.

**اول حکم:** حرکت د (واو) او (يا) نقل کول و ماقبل ته ورکول واجب دی .**اول شرط:** (واو او يا) به مضموم يا مکسور وي احترازي مثال (قَولٌ، بَيعٌ) دلته ساکن دي- **دوهم شرط:** (واو، يا) به حقيقتًا په مينځ کښې راغلي وي يا به په حکم کښې د مينځ راغلي وي احترازي مثال (دلوٌ، ظبىٌ) دلته دلام کلمې په مقابله کښې راغلي دي . **دريم شرط:** (واو او يا) به په اصل ماضي کښې سلامت نه وي پاته سوي احترازي مثال (يعوُر، يَصيِدُ) ددې اصل (عَوِرَ او صَيِدَ)وو دلته سلامت پاته سوي دي . **څلورم شرط:** په فعل متصرف يا به دهغه په متعلقاتو کښې وي (يعني دهغه څخه چې کوم اسمونه جوړسوي وي لکه اسم فاعل، اسم مفعول) احترازي مثال (قَوُل بَيُعَ اَدوُرٌ ، اَعيُنٌ) دانه فعل متصرف دی او نه هم دفعل متصرف متعلقات دي .

**فائده:** متصرف هغه فعل دی چې دهغه څخه مضارع او اسم فاعل جوړيږي. **پنځم شرط:** (واو اويا) به په (فُعِلَ) حقيقي يا حکمي کښې نه وي راغلي . احترازي مثال (قُوِلَ، بُيِعَ) دا فُعِلَ حقيقي دی او (اُنقُوِدَ او اُختُيِرَ) دا فُعِلَ حکمي دی . **فائده:** حکمي هغه فعل دی چې اول دوه حروف څني حذف کړل سي نود (فُعِل) وزن څني جوړيږي لکه (اُنقُوِدَ) . **شپږم شرط:** په (تَفعُلِين) ناقص کښې به نه وي راغلي احترازي مثال

www.jamairahmani.org

(تَدعُوِینَ) **اوم شرط:** هغه (واو اويا) به بدل دهمزې څخه په ابدال جوازي سره نه وي راغلي احترازي مثال (يَستَهزِيُونَ، سُوِلَ) چې په اصل کښې (يستَهزِؤن ،سُؤِلَ) **اتم شرط:** ضمه وکسره دهغه (واو اويا) به دهمزې څخه نه وي رانقل سوې احترازي مثال (يَسُوُ، يَجِيُ) چې په اصل کې (يَسُوءُ يَجِيءُ )وو. **نهم شرط:** ماقبل به دهغه واو اويا مفتوح نه وي احترازي مثال ( قَوِي حَيِی ). **لسم شرط:** دواو او يا څخه به مخکښې الف مده نه وي احترازي مثال (قاوِلٌ ،بَايِعٌ) **يوولسم شرط:** دواو او ياماقبل به لين زائده نه وي . احترازي مثال :لکه (مُقَيوِلٌ مُبَيِيعٌ )دلته ماقبل لين زائده دی . **دوولسم شرط:** واو او يا به داسم په يوه داسي کلمه کښې نه وي چي دقانون دجاري کيدلو دوجي ديو مشهور فعل هم وزن سوی وي احترازي مثال لکه (تَحوِيلٌ تَمیِيزٌ ). دلته بياکه قانون جاري سي د (تَحِيلُ او تَمِيزُ ) وزن ځيني جوړيږي . **اتفاقي مثال** ديَقوُلُ، يَبِيعُ څخه يقُولُ يَبِيعُ ويل واجب دي . **دوهم حکم:** واواويا پردرې ډوله ويل رواه دي ۱ نقل دحرکت ۲ حذف دحرکت ۳ اشمام. **اول شرط** دغه واو او يا به په ( فُعِل ) حقيقي يا حکمي اجوف کښې وي احترازي مثال لکه (يقُولُ يبيعُ )دا نه حقيقي (فُعِلَ ) دی او نه حکمي .**دوهم شرط:** ماقبل به دهغه (واو اويا) مضموم وي احترازي مثال (طَيِبَ، خَوِفَ ) **دريم شرط:**واواو يا به په اصل ماضي کښې سالم نه وي پاته سوي . احترازي مثال (عَوِرَ صَيِدَ )دلته سالم پاته دي . **اتفاقي مثال:** دنقل حرکت لکه د (قُوِلَ بُيِعَ )څخه ( قِيلَ او بِيعَ )ويل رواه دي .او دحذف حرکت مثال : لکه د (قُوِلَ بُيِعَ )څخه (قُولَ او بُيعَ )ويل رواه دي .او داشمام په صورت کښې د (قِيلَ او بِيعَ )په شان ويل کيږي .البته دفاکلمې کسره دضمې طرفته مائله وي او ديا کلمه دواړه طرفونو ته مائله وي . **فائده شهيدزاده:** اشمام په لغت کښې بوی ورکولو ته وايي اوپه

www.jamairahmani.org

اصطلاح کښې دقاریانو (په شونډانو داسې چم او طریقه کول لکه ضمه چې اداء سي خو حقیقةً ضمه نه وي )

**دریم حکم:** (واو او یا) پردوو و طریقو ویل رواه دي ١ نقل دحرکت ٢ اثبات دحرکت .

**شرط:** کلمه به دناقص دباب څخه د (تَفعُلینَ) پر وزن باندې راغلې وي احترازي مثال (تَقُولِینَ) داناقص نه دی . **اتفاقي مثال** (تدعُوِینَ) په اثبات سره دحرکت (یعنې پر خپل دغه موجوده حالت باندې ویل) او دا هم رواه دی چی نقل دحرکت دواو وعین ته وسي (تَدعِوینَ) بیا واو د (مِیعادٌ) په قانون سره په یا سره بدل سي او بیا یوه یا دالتقاء ساکنین دوجې حذف کړل سي نو (تدعِینَ) به څینې جوړ سي .

## د(یَقُولُ او یَبِیعُ) دقانون اجراء .

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| یَفُوزُ | یَفوُزُ | د ( یَقُولُ او یَبِیعُ ) قانون |
| یَحُولُونَ | یَحوُلُونَ | ===== |
| یَطُولُ | یَطوُلُ | ===== |
| یَغُوثُ | یَغوُثُ | ===== |
| یَنُوبُ | یَنوُبُ | === |
| تَجُوزُ | تَجوُزُ | === |
| اَعُوذُ | اَعوُذُ | ===== |
| یَصُوتُ | یَصوُتُ | ===== |
| نَسُوقُ | نَسوُقُ | ===== |
| اَجُوزُ | اَجوُزُ | ===== |

www.jamairahmani.org

## پنځوسم (۵۰) قانون

هر واو، ویا متوسط مفتوح که در اصل سلامت نمانده باشد در فعل متصرف یا متعلقات وي سوايي كلمه اسم که بر وزن (أَفْعَلُ) ما قبلش حرف صحیح ساکن مظهر باشد فتحش را نقل کرده بما قبل داده آن را به الف بدل کننده وجوبًا بشرطیکه آن کلمه ملحق و بمعنٰی لون وعیب وبین الساکنین حقیقتًا یا حکمًا نباشد.

**دقانون خلاصه:** هرهغه واو اویاچي دکلمې په مینځ کښې وي او مفتوح وي چي خپل په اصل کښې سلامت نه وي پاته سوی په فعل متصرف یاپه متعلقاتو کښې دهغه راغلی وي . نه په داسي کلمه کښې چي پروزن د (اَفعَلُ) وي . او ماقبل یې حرف صحیح ساکن ښکاره وي فتحه یې رانقل کول و ماقبل ته ورکول او هغه واو اویا په الف سره بدلول واجب دي خوپه دې شرط چي هغه کلمه به ملحق او په معنی درنګ او عیب سره نه وي او دغه واو او یا به دووساکنینو په مینځ کښې هم نه وي راغلي یعني داسم آلې صیغه به نه وي .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (یُقَالُ او یُبَاعُ) قانون دی. ددې دپاره یو حکم او لس شرطونه دي .
**حکم:** دواو او یا حرکت ماقبل ته نقل کول او (واو) او (یا) په الف سره بدلول واجب دي . **اول شرط:** (واو او یا) به حقیقةً په مینځ کښې راغلي وي احترازي مثال (وَعَدَ یَسَرَ) **دوهم شرط:** دواړه به مفتوح وي احترازي مثال (قُوِلَ، بُیِعَ) دلته دواړه مکسور دي. **دریم شرط:** په اصل کښې به سلامت نه وي پاته سوي . احترازي مثال (یُعورُ، یُصیَدُ) داد (عَوِرَ او صَیِدَ) څخه دي . **څلورم شرط:** په فعل متصرف کښې به راغلي

وي يابه دهغه په متعلقاتوكښې راغلي وي احترازي مثال (مَااَقوَلَهُ ، مَاابيَعَهُ) دانه فعل متصرف دی او نه دهغه دمتعلقاتو څخه دی. **پنځم شرط:** په داسی کلمه کښې به دا اسم نه وي چې پروزن د (اَفعَلُ) وي احترازي مثال (اَقوَلُ ،اَبيَعُ).
**شپږم شرط:** مخکښې به يې حرف صحيح ساکن راغلی وي احترازي مثال (قَوَلَ بَيَعَ) دلته يې ماقبل مفتوح دی. **اووم شرط:** دواړه به مظهر وي احترازي مثال (قَوَّلَ بيَّعَ) دلته مدغم دي. **اتم شرط:** په ملحق کلمه کښې به نه وي راغلي. احترازي مثال (جَهوَرَ او شَرَيَفَ چې ملحق د (دَحرَجَ) دي. **نهم شرط:** په کومه کلمه کښې چې واو ويا وي په هغې کښې به د رنګ او عيب معنى نه وي احترازي مثال (اِسوَدَّ، اِعوَرّ) دلته رنګ او عيب دواړه موجود دي. **لسم شرط:** هغه واو ويا به ددوو ساکنينو حقيقي يا حکمي په مينځ کښې چې سکون يې لازم وي نه وي راغلي احترازي مثال د حقيقي (مِقوَالٌ مِبياعٌ) او د حکمي مثال (مِقوَلٌ مِقوَلَةٌ) دلته واو او يا ددوو ساکنينو په مينځ کښې راغلي دي.
**اتفاقي مثال:** د يُقوَلُ ،يُبيَعُ څخه يُقَالُ، يُبَاعُ ويل واجب دي.

## د (يُقَالُ او يُبَاعُ) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| يُطَالُ | يُطوَلُ | د (يُقَالُ او يُبَاعُ) قانون |
| يُضَاعُ | يُضيَعُ | ===== |
| يُشَارُ | يُشيَرُ | ===== |
| يُهَابُ | يُهيَبُ | ===== |
| يُرَاحُ | يُروَحُ | === |
| يُصَامُ | يُصوَمُ | === |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| يُخَانُ | يُخوَ نُ | ===== |
| يُصَاتُ | يُصوَتُ | ===== |
| يُسَاقُ | يُسوَقُ | ===== |
| يُجَازُ | يُجوَزُ | ===== |

## يو پنځوسم (۵۱) قانون

هر واو و یا کہ واقع شود بعد از الف (فَاعِلٌ) و در اصل سلامت نماندہ باشد یا اصل او نباشد آن واو، و یا را بہ همزه بدل کنند وجوبًا.

**دقانون خلاصه:** هرهغه واو او يا چي وروسته تر الف د (فاعِلٌ) راسي او په اصل کښي سلامت نه وي پاته سوي يا د سره څخه اصل نه لري هغه واو او يا په همزه سره بدلول واجب دي.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (قَائِلٌ او بَائِعٌ) قانون دی، ددې د پاره يو حکم او درې شرطونه دي.
**حکم:** (واو او يا) په همزه سره بدلول واجب دي. **اول شرط:** واو او يا به د الف څخه وروسته راغلي وي. احترازي مثال: (قولٌ او بَيعٌ) دلته الف نسته. **دوهم شرط:** واو يا به وروسته تر الف د (فَاعِلٌ) واقع سوي وي احترازي مثال (مَقاوِلُ مَبَايِعُ) دلته د الف (مَفاعِلُ) څخه وروسته راغلي دي. **دريم شرط:** په اصل کښي به سلامت نه وي پاته سوي يا به کرسره اصل نه لري احترازي مثال (عَاوِرٌ صَايِدٌ) ددې اصل (عَوِرَ او صَيِدَ) دی او هلته سلامت پاته دی. **اتفاقي مثال:** د (قَاوِلٌ، بَايِعٌ) څخه (قَائِلٌ، بَائِعٌ) ويل واجب دي

www.jamairahmani.org

## د ( قَاۤئِلٌ او بَاۤئِعٌ) دقانون اجراء .

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| دَائِرَةٌ | دَاوِرَةٌ | د ( قَائِلٌ او بَائِعٌ ) قانون |
| غَائِبَةٌ | غَايِبَةٌ | ===== |
| صَائِمٌ | صَاوِمٌ | ===== |
| حائِلَاتٌ | حَايِلاتٌ | ===== |
| طائِلَةٌ | طَاوِلٌ | === |
| خَائِفُ | خَاوِفٌ | === |
| فائِدَةٌ | فَايِدَةٌ | ===== |
| قَائِمُونَ | قَاوِمُونَ | ===== |
| نَائِمٌ | نَاوِمٌ | ===== |
| دَائِمٌ | دَاوِمٌ | ===== |

## دوو پنځوسم (۵۲) قانون

هر واو کہ واقع شود در مقابلہ عین کلمہ مصدر، یا جمع ودر فعل وواحد سلامت نہ ماندہ باشد ویا در واحد ساکن ودر جمع ماقبل الف باشد ما قبلش مکسور آن واو را بہ یا بدل کنند وجوبًا بشرطیکہ لام کلمہ وی معلّل نباشد .

**دقانون خلاصه:** هرهغه واوچي پربرابري دعين كلمي دمصدر يا جمعي راسي اوپه فعل اوواحد كښي سلامت نه وي پاته سوی، اويا په واحد كښي ساكن وي اوپه جمع كښي تر الف مخكي اغلی وي اوماقبل يې مكسور وي هغه واوپه ياسره بدلول واجب دي خوپه

دې شرط چي د هغه لام کلمه به يې معلّله نه وي (يعني په لام کلمه کښې به يې قانون نه وي جاري سوی.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (قِيَامٌ، قِيَالٌ، حِيَاضٌ) قانون دی: ددي قانون لپاره يو حکم او د شرطونو د پاره يې **درې جماعته** د اول او دوهم جماعت لپاره څلور څلور شرطونه دي د دريم جماعت د پاره پنځه شرطونه دي. **حکم:** واو په يا سره بدلول واجب **دي** **اول شرط:** واو به د عين کلمې په مقابل کښې راغلی وي احترازي (وِصالٌ) دلته د فا کلمې په مقابله کښې راغلی دی. **دوهم شرط:** صيغه به د مصدر وي احترازي مثال (قِوَالٌ) دا جمع مکسره ده. **فائده:** که څه هم د غه قانون په دې صيغې کښې هم جاري کيږي خو په حيثيت د مصدر نه جاري کيږي بلکي په حيثيت د جمعي مکسري جاري کيږي.
**دريم شرط:** په فعل کښې به سلامت نه وي پاته سوی احترازي مثال (قِوامٌ) چي د باب مفاعله مصدر يې کړې) نو ماضي يې (قَاوَمَ) راځي او دلته ثابت پاته دی. **څلورم شرط:** ماقبل به يې مکسور وي احترازي مثال (جَوَادٌ) دلته مفتوح دی.
**اتفاقي مثال:** دقام د باب د (قِوامٌ) څخه (قِيَامٌ) ويل واجب دي.
**دوهم جماعت: اول شرط:** واو به د عين کلمې په مقابل کښې راغلی وي احترازي مثال (وَعَدٌ) دا فا کلمه ده. **دوهم شرط:** صيغه به د جمعي وي احترازي مثال لکه (قِوامٌ) دا مصدر دی. **فائده:** که څه هم د غه قانون په دې صيغې کښې هم جاري کيږي خو په حيثيت د جمعي نه جاري کيږي بلکي په حيثيت د مصدر جاري کيږي. **دريم شرط:** واو به په واحد کښې ثابت نه وي پاته سوی احترازي مثال (عِوَارٌ) مفرد يې (عاوِرٌ) دی او دلته ثابت پاته سوی دی. **څلورم شرط:** د واو ماقبل به مکسور وي احترازي مثال (قَوَلَةٌ) دلته يې ماقبل مفتوح دی. **اتفاقي مثال:** د (قِوَالٌ) څخه

www.jamairahmani.org

(قِيَالٌ) ويل واجب دي**دريم جماعت:** ددريم جماعت لپاره پنځه شرطونه دي .خو اول او دوهم شرط يې ددوهم جماعت دشرطونو په شان دي .**دريم شرط:** واوبه په واحد کښې ساکن وي احترازي مثال (طِوالٌ جمع دطوِيلٌ) ده دلته په واحد کښې واو متحرک دی .**څلورم شرط:** واوبه دالف او کسرې په مينځ کښې راغلې وي احترازي مثال ( اَقوالٌ ) دلته نه دی راغلې .**پنځم شرط :** په لام کلمه کښې به يې قانون نه وي جاري سوی احترازي مثال (رِوَاءٌ چې په اصل کې رِوَایٌ )دلته یا په همزه سره بدله سويده او مفرد يې رُويَانٌ دی. **اتفاقي مثال** د (حِوَاضٌ، رِوَاضٌ ) څخه (حِيَاضٌ، رِيَاضٌ) ويل واجب دي

## د (قِيَامٌ، قِيَالٌ، حِيَاضٌ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| صِيَالٌ | صِوَالٌ | د (قِيَامٌ، قِيَالٌ، حِيَاضٌ) قانون |
| شِيَابٌ | شِوَابٌ | ===== |
| ثِيَابٌ | ثِوَابٌ | ===== |
| صِيَانٌ | صِوَانٌ | ===== |
| عِيَاذٌ | عِوَاذٌ | === |
| نِيَامٌ | نِوَامٌ | === |
| دِيَارٌ | دِوَارٌ | ===== |
| جِيَادٌ | جِوَادٌ | ===== |
| رِيَاغٌ | رِوَاغٌ | ===== |
| زِيَاحٌ | زِوَاحٌ | ===== |

www.jamairahmani.org

## درو پنځوسم (۵۳) قانون

هر واووياكه جمع شوند دريک كلمه يا حكم وي سوائي كلمه اسم بروزن (اَفعَلُ) اول ايشان ساكن لازم غير مبدل باشد ان واوراياكرده درياادغام می كنند وجوبًا سوائي واوعين كلمه بعد از ياتصغيركه درمكبر سلامت باشد چراكه آن واوراب يابدل كرده شود جوازا.

**دقانون خلاصه:** هرهغه واواويا چي په يوه كلمه كښې ياپه حكم كښې ديوې كلمې سره يوځاى سي ماسوا د اسم ترهغي كلمي چي پروزن د (اَفعَلُ ) وي خو اول به د دوى څخه ساكن لازم غير بدل وي نو هغه واو په يا سره بدلول اوياپه يا كښې مدغمول واجب دي نه هغه واو چي پرعين كلمې راغلى وي تر (يا) دتصغيرو روسته او چي خپل په اسم مكبر كښې متحرک او سلامت پاته وي ځكه چي هغه واو په يا سره بدلول جائز دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (قُوَيّلٌ، قُوَيِّلَةٌ ) دى. ددې لپاره دوه حكمه دي داول حكم لپاره يې اوه شرطونه دي او ددوهم حكم لپاره يو شرط دي **اول حكم:** واوپه ياسره بدلول اويا په يا كښې مدغمول واجب دي .**اول شرط:** واو او يا به سره يو ځاى وي احترازي مثال (وَشيٌ )دلته سره جلا جلا دي . **دوهم شرط:** په يوه كلمه كښې به وي كه حقيقةً يوه كلمه وي او كه حكمًا احترازي مثال ( اَبُو يَعقوبَ ) دا نه حقيقةً يوه كلمه ده او نه حكماً **دريم شرط:** په داسي كلمه كښې به دا اسم نه وي راغلي چي پروزن د اَفعلُ وي احترازي مثال (اَيوَمُ ) **څلورم شرط:** اول به ساكن وي احترازي مثال (طَوِيلٌ )دا متحرک دى. **پنځم شرط:** سكون به يې لازمي وي .احترازي مثال : ( قُويَ )چي په اصل كي قَوِيَ وو بياد (عَلِمَ شَهِدَ)په جوازي قانون سره يې (قُويَ ) ويل هم رواه دي خو لازمي نه دي .

www.jamairahmani.org

**شپږم شرط:** په واو او یا کښې چې کوم یو اول وي هغه به بدل د بل شي څخه نه وي راغلی. احترازي مثال ( بُوَيع ) چې په اصل کښې ( بَايَعَ ) وو د باب مفاعلې څخه چې یې واخلې نو واو بدل دالف څخه راغلی دی. په قانون سره د ( ضُورِبَ، مَضَارِيبُ ). **اووم شرط:** داسي واو به نه وي چې دغه درې صفتونه ولري : (۱) چې پر مقابله د عین کلمې راغلی وي (۲) او چې وروسته دیاد تصغیر څخه راغلی وي (۳) په خپل مکبر یعنې واحد کښې متحرک یعنې پر اصل پاته وي په دغه درو کښې به یو لا هم نه وي. احترازي مثال ( مُقَيوِلٌ مُقَيوِ لَةٌ ) چې صیغه د اسم تصغیر د اسم آلې یې وبولې دلته واو د عین کلمې په مقابله کښې راغلی دی. او تر یا د تصغیر وروسته هم راغلی دی. او په مکبر کښې یعنې په ( مِقوَلٌ او مِقوَلَةٌ ) کښې هم سالمه او متحرک پاته دی. **اتفاقي مثال** د ( قُوَيوِلٌ، قُوَيوِلَةٌ ) څخه قُوَيِّلٌ ،قُوَيِّلَةٌ ویل واجب دي. **دوهم حکم:** واو په یا سره بدلول جائزاو بیا یا په یا کښې مدغمول واجب دي : ددې حکم لپاره یو شرط دی. **شرط:** داسي واو به وي چې دغه درې صفتونه به په کښې وي. یعنې په مقابله کښې به د عین کلمې راغلی وي او وروسته به تریاد تصغیر راغلی وي او په مکبر کښې به متحرک او سلامت پاته وي یعنې اعلال به نه وي پکښې سوی احترازي مثال ( مُقَيوِلٌ او قُوَيوِلٌ ) داد اسم ظرف د ( مَقَالٌ ) او د اسم فاعل ( قَائِلٌ ) تصغیرونه دي. او په واحد کښې یې اعلال سوی دی. چې واحد یعنې مکبر یې ( مَقَالٌ او قَائِلٌ ) دي او په دوی کښې واو سالم نه دی پاته سوی نو دلته بدلول واجب دي نه جائز. **اتفاقي مثال:** د ( مُقَيوِلٌ ) څخه چې تصغیر د اسم آلې یې وګڼې مُقَيِّلٌ ویل جائز دي.

## د ( قُوَيِّلٌ، قُوَيِّلَةٌ ) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| مُخَيِّفَةٌ | مُخَيوِفَةٌ | د ( قُوَيِّلٌ، قُوَيِّلَةٌ ) قانون |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| صَيِّبٌ | صَيوِبٌ | ===== |
| خُوَيِّفٌ | خُوَيوِفٌ | ===== |
| خُوَيِّفَةٌ | خُوَيوِفَةٌ | ===== |
| طُوَيِّحٌ | طُوَيوِحَةٌ | === |
| سَيِّدٌ | سَيوِدٌ | === |
| مُقَيِّلٌ | مُقَيوِلٌ | ===== |
| هَيِّنٌ | هَيوِنٌ | ===== |
| هُوَيِّبَةٌ | هُوَيوِبَةٌ | ===== |
| مُطَيِّحٌ | مُطَيوِحٌ | ===== |

## څلور پنځوسم (۵۴) قانون

هر حرف علت که بباعث بیفتد بوقت دور شدن آن باز آید وجوبًا.

**دقانون خلاصه:** هرچېري چې حرف علت ديو سبب په وجه حذف كړل سي نوپه وخت كښې دليري كيدو دهغه سبب او باعث بيرته راګرځول دهغه حرف علت وخپل ځاى ته واجب دي.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (قُوْلَنّ) قانون دى ددې لپاره يو حكم او دوه شرطونه دي **حكم:** حرف علت وروسته ترحذف كولو بيرته راوړل واجب دي. **اول شرط:** په يو سبب به حذف كړل سوى وي احترازي مثال (قالَ) چې دلته پرخپل ځاى پاته دى نه دى حذف سوى. **دوهم شرط:** سبب دحذف كولو به يې لېري سوى وي احترازي مثال( قُلنَ ) دلته دحذف كولو علت نه دى ليري سوى . **اتفاقي مثال** د (قُل) شخه چې نون تاكيد ورسره

متصل سي (قُولَنّ) دواوپه ښکاره کولو سره ويل واجب دي. ځکه چي واو دالتقاء ساکنيونو دوجي څخه ليري سوی، وو کله چي په آخر کښي نون تاکيد ورسره متصل سو نو لام متحرک سو د حذف کيدلو سبب ختم سو هغه واو بيرته راغی۔

## د (قُولَنّ) دقانون اجراء.

| موزون | داعادي مثال | قانون |
|---|---|---|
| سُق | سُوقَنَّ | د (قُولَنّ) قانون |
| لُم | لُومَنَّ | ===== |
| خَف | خَافَنَّ | ===== |
| دُم | دُومُوا | ===== |
| رِم | رِيمُو | === |
| خَف | خَافَا | === |
| سِر | سِيرُوا | ===== |
| سِر | سِيرَا | ===== |
| رِع | رِيعَنَّ | ===== |
| قُل | قُولاَ | ===== |

# دناقص قوانين

## پنځه پنځوسم (۵۵) قانون

هر واو یا که واقع شود بعد از الف زائده بر طرف یا در حکم طرف آن را به همزه بدل کنند وجوبًا .

**دقانون خلاصه:** هرچيري چي واو اويا وروسته تر الف زائده په اخركښې راسي اويا په حكم كښې داخر راسي هغه واو او يا په همزه سره بدلول واجب دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (دُعاءٌ) قانون دی . ددې لپاره يو حكم اودرې شرطونه دي .
**حكم:** واواويا په همزه سره بدلول واجب دي .**اول شرط:** واواويا به ترالف وروسته راغلي وي احترازي مثال ( واعِدٌ ياسِرٌ ) دلته مخكښې راغلي دي. **دوهم شرط:**ترالف زائده وروسته به راغلي وي احترازي مثال (ثَایٌ، رَایٌ ) دلته ديا مخكښې الف اصلي دی په اصل كښې ثَوَیٌ وو (دپسونو دپنډيودلو دځای په معنی ) او رَوَیٌ وو (په معنی دنيزې ) دی . **دريم شرط:** په آخر يا په حكم كښې دآخر به راغلي وي احترازي مثال (شِقَايَةٌ دِرَايَةٌ) دا نه حقيقة او نه حكما آخر دكلمې دی .**اتفاقي مثال:** دحقيقةً د (دُعَاوٌ اوبِنَایٌ څخه دُعاءٌ اوبِناءٌ ) او دحُكماً مثال : د (مِدعَاوانِ اومِرمَايَانِ څخه مِدعَاءَانِ او مِرمَاءَانِ )ويل واجب دي .

## د (دُعاءٌاوبِناءٌ) دقانون اجراء .

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| طِلاءٌ | طِلایٌ | د (دُعاءٌ اوبَناءٌ) قانون |
| بَلاءٌ | بَلایٌ | ===== |
| اِنجِلاءٌ | اِنجِلاوٌ | ===== |
| اِعتِداءٌ | اِعتِداوٌ | ===== |
| شِواءٌ | شِوایٌ | === |
| اِستِدعاءٌ | اِستِدعاوٌ | === |
| اِدِّعاءٌ | اِدِّعاوٌ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| اَهواءٌ | اَهوایٌ | ===== |
| رِداءٌ | رِدایٌ | ===== |
| كِساءٌ | كِسایٌ | ===== |

## شپږ پنځوسم(۵۶) قانون

هر واو که واقع شود مفتابله لام کلمه وماقبل او مکسور باشد آن واورا بیابدل کنند جوبًا.

**دقانون خلاصه:** هرواوچې پربرابري دلام کلمې راسي او ماقبل دهغه مکسور وي هغه واوپه یاسره بدلول واجب دي

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (دُعِیَ) قانون دی. ددې لپاره یوحکم او دوه شرطونه دي **حکم:** واوپه یا سره بدلول واجب دي. **اول شرط:** واوبه دلام کلمې په مقابل کښې راغلي وي احترازي مثال (عِوَضٌ) دلته د عین کلمې پر برابری راغلی دی. **دوهم شرط:** ماقبل به یې مکسور وي احترازي مثال (دَعَوَ) دلته مفتوح دی. **اتفاقي مثال:** د (دُعِوَ څخه دُعِیَ) ویل واجب دي.

## د (دُعِیَ) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| دَاعِيَةٌ | دَاعِوَةٌ | د (دُعِیَ) قانون |
| عَالِيَةٌ | عَالِوَةٌ | ===== |
| دُعِيَا | دُعِيوا | ===== |
| دُعِيَا | دُعِوَا | ===== |

| | | |
|---|---|---|
| دَاعٍ | داعِوٌ | === |
| يُعلِيَانِ | يُعلِوَانِ | ===== |
| رَضِيُوا | رَضِوُا | ===== |
| تَالِيَاتٌ | تَالِوَاتٌ | ===== |
| نُجِّيَ | نُجِّوَ | ===== |

## اووه پنځوسم (۵۷) قانون

هر یاء که واقع شود در اخر فعل و فتح غیر اعرابی وما قبلش مکسور باشد کسره ماقبلش را بفتحه بدل کنند جوازًا یا را بـه الف بدل کنند بکلیه قالَ برلغت بنی طي.

**دقانون خلاصه:** هرهغه یا چي په اخر کښې د فعل راسي او فتحه يې غیر اعرابي وي .او ماقبل يې مکسور وي نو دماقبل کسره يې په فتحه سره بدلول جايزدي او (يا) بيا په الف سره د (قَالَ) په قانون سره بدليږي . د (بني طی ) قبيلې دلغت موافق دغه قاعده جاري کيږي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (دُعَى) قانون دی .ددې لپاره يو حکم او پنځه شرطونه دي **حکم :** ديا دماقبل کسره په فتحې سره بدلول جائزده او (يا )د (قَالَ) په قانون سره په الف بدلول واجب ده **اول شرط:** يا به په اخر کښې راغلې وي احترازي مثال (يَسَرَ ) دلته په شروع کښې راغلې ده **دوهم شرط:** صيغه به د فعل وي احترازي مثال دَاعِيَةٌ )دا اسم دی . **دريم شرط:** هغه يا به مفتوح وي احترازي مثال (يَرمِىُ ) دلته مضمومه ده . **څلورم شرط:** فتحه به غير اعرابي وي احترازي مثال ( لَن يَّرمِىَ ) دلته اعرابي او عاملي ده .

www.jamairahmani.org

**پنځم شرط:** ماقبل به يي مكسور وي احترازي مثال (رَمَیَ) دلته مفتوح دی. **اتفاقي مثال** د (دُعِیَ څخه دُعَیَ) ويل جائز او بيا (دُعَی) ويل واجب دي.

## د (دُعَی) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| وُقَی | وُقِيَ | د (دُعَی) قانون |
| بُکَی | بُكِيَ | ===== |
| قُوَی | قُوِيَ | ===== |
| غُزَی | غُزِيَ | ===== |
| بُهَی | بُهِيَ | === |
| عُلَی | عُلِيَ | ===== |
| جُثَی | جُثِيَ | ===== |
| رُضی | رُضِيَ | ===== |
| مُحَی | مُحِيَ | ===== |
| رُخَی | رُخِيَ | ===== |

## اته پنځوسم (٥٨) قانون

هر واو، ويا مضموم يا مكسور كه واقع شود به مقابله لام كلمه بعد از ضمه و كسره حركت آن را حذف ميكنند وجوبًا بشرطيكه يا در ميان كسره و (واو)، و (واو) در ميان ضمه و (يا) نه باشد وآن (واو) ويا بدل از همزه بابدال جوازي و حركتش منقول از همزه نه باشد .

**دقانون خلاصه:** هرهغه مضموم اومکسور (واو)او (یا) چې دلام کلمې پربرابرۍ راسي مخکښې تر هغوی ضمه اوکسره وي نودهغوی حرکت حذف کول واجب دي خوپه دې شرط چې (یا) به په مینځ کښې دکسرې او (واو) نه وي راغلې او (واو) به په مینځ کښې دضمې او (یا) نه وي راغلی . اوهغه (واواویا) به بدل دهمزې څخه په ابدال جوازي سره هم نه وي راغلي اوحرکت به یې هم دهمزي څخه رانقل سوی نه وي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (يَدعُو او يَرمِي) قانون دی .ددې لپاره یوحکم اوشپږ شرطونه دي **حکم:** دواو اویا حرکت حذف کول واجب دي **اول شرط:** واواویابه مضموم یا مکسوره وي احترازي مثال (لَن يَدعُوَ لَن يَرمِيَ) دلته مفتوح دی . **دوهم شرط:** واواویا به پر برابري دلام کلمې راغلي وي احترازي مثال (قُولَ بُيعَ) دلته دعین کلمې په مقابله کښې راغلي دي . **دریم شرط:** دواومخکښې حرف به مضموم وي د(یا)مخکښې حرف به مکسور وي احترازي مثال يُدعَوُ اويُرمَىُ ) دلته مفتوح دي . **څلورم شرط :** یابه په مینځ کښې دکسرې او (واو) نه وي راغلې او (واو) به په مینځ کښې دضمې اویا نه وي راغلی احترازي مثال ( تَدعُوِين يرمِيُونَ ) دلته راغلي دي . **پنځم شرط :** هغه (واواویا) به بدل دهمزې څخه په قانون جوازي سره نه وي راغلي احترازي مثال (يَستهزِيُ ) چې په اصل کښې (يَستَهزِءُ ) وو . **شپږم شرط :** حرکت به دهغه (واواویا) دهمزي څخه هم نه وي رانقل سوی احترازي مثال (يَسُوُ ، يَجِيُ چې په اصل کښې يَسُوءُ يَجِيءُ ) **اتفاقي مثال:** دیَدعُوُ يُرمِيُ څخه (يَدعُو يَرمِی ) ویل واجب دي .

## د(یَدعُو او یَرمِی) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| يَغزُو | يَغزُوُ | د (يَدعُو او يَرمِي) قانون |
| تُعلِي | تُعلِيُ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| يَلهُو | يَلهُوُ | ===== |
| تَكنُونَ | تَكنُوُنَ | ===== |
| يَلقُونَ | يَلقُوُنَ | === |
| تَبغِينَ | تَبغِوُنَ | ===== |
| مَرَاقٍ | مَرَاقِيُ | ===== |
| سَوَاقٍ | سَوَاقِيُ | ===== |
| يَجثِي | يَجثِوُ | ===== |
| داعٍ | داعِوٌ | ===== |

## نهه پنځوسم (۵۹) قانون

هر واو که واقع شود سیوم حــاچون صاعد شود آن را یا بدل کنـنـد وجوبًا بشـرطیکه ماقبلش مضموم وواو ســاکن نباشـد

**دقانون خلاصه:** هرهغه واوچي په اصل کښې يعني په ماضي کښې او يا په مصدر کښې پر دريم ځای راغلی وي او بيا تر هغه ځای مختـه ولاړ سي نوهغه واو په ياسره بدلول واجب دي خوپه دې شرط چې ماقبل به يې مضموم او ساکن واو نه وي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قــانون نــومـد (يُـدعَی) قــانون دی . ددې لپــاره يــوحکم او ثلــور شــرطونه دي.

**حکم :** واو په يا سره بدلول واجب دي

**اول شرط :** په ماضي کښې به په دريم ځای کښې راغلی وي احترازي مثال (قَوَلَ) دلته دوهم ځـای راغلـی دی . **دوهــم شــرط :** تـر دريـم ځـای بـه يـې مختـه ترقـي کـړې وي احترازي مثـال (دَعَونَ) دلتـه دريـم ځـای پـروت دی . **دريــم شــرط :** دواو ماقبـل بـه

مضموم نه وي احترازي مثال : لکه (يَدعُو) دلته يې ماقبل مضموم دی . **څلورم شرط:** دواو ماقبل به بل واو ساکن نه وي احترازي مثال : لکه (مَدعُوٌّ) دلته دواو څخه مخکي بل واو ساکن پروت دی . **اتفاقي مثال** د (يُدعَوُ) څخه (يُدعَيُ) ويل بيا دقال په قانون سره (يُدعی) ويل واجب دي .

## د (يُدعَی) دقانون اجراء .

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| يُعلَی | يُعلَوُ | د (يُدعَی) قانون |
| تُعلَی | تُعلَوُ | ===== |
| يُجثَی | يُجثَوُ | ===== |
| مُصطَفَی | مُصطَفَوٌ | ===== |
| يُستَدعَی | يُستَدعَوُ | === |
| يُمحيَانِ | يُمحوَانِ | ===== |
| اَعليَانِ | اَعلَوَانِ | ===== |
| يُمحَی | يُمحَوُ | ===== |
| مُعلَيانِ | مُعلَوَانِ | ===== |
| غَازِيَاتُ | غَازِوَاتُ | ===== |

## شپېتم (۶۰) قانون

هر واو لازم غیر بدل از همزه که واقع شود در اخر اسم متمکن، ماقبلش مضموم باشد، یا مده زائده باشد در جمع آن را یا بدل کنند وجوبًا، و در مفرد مانع از وجوب

www.jamairahmani.org

اعلال است آن واو مده زائده، مگر وقتیکه ما قبلش دیگر واو متحرک باشد و کر نه جائز است .

**دقانون خلاصه:** هرهغه واو چې لازم وي او بدل د همزې څخه نه وي راغلی چې کله په اخر کښې د اسم متمکن راسي او ماقبل ي مضموم وي ، یا واو مده زائده وي او په جمعه کښې وي هغه په یا سره بدلول واجب دي او که په مفرد کښې وي بیا نو دا مفرد والی د هغه واو مده زائده د اعلال دواجب کیدلو څخه مانع دی مگر هغه وخت چې مخکښې تر هغه واو بل متحرک واو راغلی وي نو بیا اعلال پکښې واجب کیږي او که نه وو نو جایز دی .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم (اَدلٍ تَبَنٍ) قانون دی .ددې لپاره دوه حکمونه دي . د اول حکم د شرطونو دپاره یې درې جماعته دي . د اول جماعت دپاره شپږ شرطونه دي . د دوهم جماعت دپاره اووه شرطونه دي . ددریم جماعت دپاره اته شرطونه دي . او ددوهم حکم دپاره یې هم اته شرطونه دي . **اول حکم:** واو په ( یا ) سره بدلول واجب دي. **داول جماعت شرطونه : اول شرط:** واو به لازم وي احترازي مثال (ضَارِبُو) چې دلته واو لازم نه دی ځکه چې په اصل کښې ضاربٌ وو . **دوهم شرط:** واو به بدل د همزې څخه نه وي راغلی . احترازي مثال ( كُفُوًا چې په اصل کښې كُفُوءاً ) وو . **دریم شرط:** واو به د کلمې په اخر کښې راغلی وي احترازي مثال (مِقْوَلٌ) دلته په مینځ کښې راغلی دی. **څلورم شرط:** د اسم په اخر کښې به راغلی وي احترازي مثال ( يَدعُو ) دلته د فعل په آخر کښې راغلی دی. **پنځم شرط:** په اخر کښې به د اسم متمکن راغلی وي احترازي مثال (هُوَ،ذُو) دا اسم غیر متمکن دی . **شپږم شرط:** د واو ماقبل به مضموم وي احترازي مثال (يُدعَوُ) دلته د واو ماقبل مفتوح دی . اتفاقي **مثال:** د (اَدْلُوٌ،تَبَنُّوٌ) څخه په دغه قانون سره (اَدْلُيٌّ،تبنُّيٌّ) جوړ سو بیا د (دِعِيٌّ) په قانون سره چې ( اوس په مخکښې

راځي) هغه دلام او نون ضمه په کسرې سره بدله کړل سوه (اَدلِيٌّ، تَبَنِيٌّ) سوله او بیاد (يَدعُويَرمِی) په قانون سره يې ضمه ديا حذف کړه، بيا التقاد ساکنينو راغله په مينځ کښې د (يا) او نون تنوين اول مده وو هغه يې حذف کړي نو (اَدْلٍ او تَبَنٍّ) سو. **ددوهم جماعت شرطونه:** ددې جماعت پنځه شرطونه دهغه اول جماعت د شرطونو په شان دي. **شپږم شرط:** ترهغه واو مخکښې به بل واو مده زائده راغلې وي احترازي مثال (حُوْ) دلته دواو څخه مخکښې بل واو مده سته خو زائده نه دی بلکې اصلي دی. **اوم شرط:** دغه واو به جمع کښې راغلې وي احترازي مثال (مدعُوٌّ) دلته په مفرد کښې دی. **اتفاقي مثال: (دُعُوٌّ)** داد (داعٍ) جمع ده. دوهم واو په يا سره بدل سوی دی نو (دُعُوىٌ) سو بيا د (قُوَيّلٌ) په قانون سره اول واو هم په يا سره بدل سو بيا دواړي ياګاني يو په بل کښې مدغمي سوي بيا د (دِعِيٌّ) په قانون سره هغه مخکښې دواړي ضمې يې په کسرې سره بدلي سوې نو (دِعِيٌّ) ورڅخه جوړ سو. **ددريم جماعت شرطونه:** ددې جماعت شپږ شرطونه هم دهغه مخکني جماعت د شرطونو په شان دي. **اوم شرط:** واو به د مفرد په صيغه کښې وي احترازي مثال (دُعُوٌّ) داد جمع صيغه ده. **اتم شرط:** دهغه واو مده زائده مخکښې به بل واو متحرک وي احترازي مثال (مَدعُوٌّ) دلته عين دی واو نسته. **اتفاقي مثال:** د (مَقوُوٌّ) آخري واو په يا سره بدل سو نو (مَقوُوىٌ) سو او دوهم واو **دقَوِيِّلٌ** په قانون سره په (يا) سره بدل سو نو (مَقوُىٌّ) بيا ترادغام وروسته **ددِعِيّ** په قانون سره ديا څخه مخکې ضمه هم په کسرې سره بدله سوه (مَقوِيٌّ) سو. **دوهم حکم:** (واو په يا) سره بدلول جائز دي. ددې حکم اوه شرطونه ددريم جماعت داوو شرطونو په شان دي. **اتم شرط:** مخکې ترهغه واو مده زائده به بل متحرک واو نه وي راغلې. احترازي مثال لکه (مَقوُوٌّ) **اتفاقي مثال** (مَدعُوٌّ) آخيري

www.jamairahmani.org

واو يې په يا سره بدل کړی نو (مَدعُويٌ) سو بيا د (قُوَيِّلٌ) په قانون سره (مَدعُيٌّ) سو . وروسته بيا د (اَدلٍ) ثاني په قانون سره (مَدعِيٌّ) سو .

## د (اَدلٍ تَبَنٍ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| مَمحِيٌّ | مَمحُوىٌ | د (اَدلٍ تَبَنٍ) قانون |
| مَطوِيٌّ | مَطوُوٌ | ===== |
| مَرضِيٌّ | مَرضُوٌ | ===== |
| مَدئِيٌ | مَدئُوٌ | ===== |
| عُصِيٌّ | عُصُوٌّ جمع عَصًا | === |
| مشوِيٌّ | مَشوُوٌ | ===== |
| مالِيٌّ | مَالُوٌ | ===== |
| قِسِيٌّ | قُسُوٌّ | ===== |
| جِثِيٌّ | جُثُوٌّ | ===== |
| عِنِيٌّ | عُنُوٌّ | ===== |

## يو شپېتم (٦١) قانون

هر يا مشدد و مخفف که واقع شود در اخر اسم متمکن ما قبلش اگر يک حرف مضموم باشد ضمه آن را به کسره بدل کننده وجوبًا اگر دو باشند چون (دُعُيٌ) ضمه متصل را وجوبًا، وغير متصل جوازا.

**دقانون خلاصه:** هرهغه يايي مشدده يا مخففه چي د اسم متمکن په اخر کښې راسي که چيري د دې ځخه مخکي يو حرف مضموم وي نو ضمه د هغه (يا) په کسره سره بدلول

www.jamairahmani.org

واجب ده او که چیري دوه حرفه ترهغې مخکښې مضموم وي لکه (دُعُيٌّ) نو هغه متصله ضمه په کسرې سره بدلول واجب ده او هغه غیر متصله ضمه په کسرې سره بدلول جائز ده

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (دِعِيٌّ) قانون دی .ددې لپاره یو حکم او پنځه شرطونه دي. **حکم:** دیاڅخه دمخکښې متصل حرف ضمه په کسرې سره بدلول واجب ده او دیاڅخه مخکښې دغیر متصل حرف ضمه په کسرې سره بدلول جایز ده. **اول شرط:** یا به مخففه یامشدده وي احترازي مثال (بيَعٌ) **دوهم شرط:** یا به په اخرکښې داسم راغلې وي احترازي مثال (بُيِعَ) دلته په فعل کښې راغلې ده **دریم شرط:** یا به په آخرکښې داسم متمکن راغلې وي احترازي مثال (هِيَ) دا اسم غیر متمکن دی. **څلورم شرط:** ماقبل به یې مضموم وي احترازي مثال (مَرمِيٌّ) دلته مکسور دی. **پنځم شرط:** دیا څخه به ماقبل یوه ضمه یا دوې ضمې وي که یوه ضمه وه نو په کسره سره اړول واجب ده .او که دوې ضمې وې نو جائز ده . احترازي مثال : (رَمِيَ) دلته یوه ضمه لاهم نسته. **اتفاقي مثال:** د (دُعُيٌّ څخه دُعِيٌّ) ویل واجب دي اودِعِيٌّ ویل جائز دي.

## د(دِعِيٌّ) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| بُكِيٌّ | بُكُّيٌ | د (دِعِيٌّ) قانون |
| عِتِيٌّ | عُتُّيٌ | ===== |
| مَاتِيٌّ | مَاتُّيٌ | ===== |
| مَرضِيٌّ | مَرضُّيٌ | ===== |
| قِسِيٌّ | قُسُيٌّ | === |
| مسلمِيَّ | مُسلمُيَّ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| مَغشِيٌّ | مَغشُيٌ | ===== |
| مَقوِيٌّ | مَقوُيٌ | ===== |
| مَطوِيٌّ | مَطوُيٌ | ===== |
| مَقضِيٌّ | مَقضُيٌّ | ===== |

## دوو شپېتم(٦٢) قانون

هر حرف علت که واقع شود در آخر فعل مضارع وقت دخول جوازم وبنا کردن امر حاضر معلوم حذف کرده می شود وجوبًا .

**دقانون خلاصه:** هرغه حرف علت چي په آخر کښې د فعل مضارع راسي په وخت کښې دداخلېدو پرمضارع د حروف جوازمو او په وخت کښې د جوړولو د امرحاضرمعلوم ددغه حرف علت حذف کول واجب دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (لَم يَدعُ او لَم يَرمِ) قانون دی . ددې لپاره يو حکم او درې شرطونه دي **حکم:** حرف علت حذف کول واجب دي **اول شرط** : حرف علت به په اخر کښې د کلمې راغلی وي .احترازي مثال (يَقُولُ، يَبِيعُ) **دوهم شرط** په اخر کښې به د فعل مضارع راغلی وي احترازي مثال (دَعَوَ رَمَی) داماضي ده **دريم شرط** : يابه حرف جازم پرداخل سوی وي ،اويابه امرحاضر ورڅخه جوړسوی وي احترازي مثال (يَدعُو ) دلته هيڅ شی هم نه دی جوړ سوی ځيني . **اتفاقي مثال** ( لم يدعُ ،لم يرَمِ ) چی په اصل کښې( لم يدعُو ،لم يَرمِی ) وو .

www.jamairahmani.org

## د(لَم یَدعُ او لَم یَرمِ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
| --- | --- | --- |
| اَلقِ | اَلقِوُ | د ( لَم یَدعُ او لَم یَرمِ ) قانون |
| لم یرجَ | یرجوُ | ===== |
| اُرخُ | اُرخُوُ | ===== |
| اُتلُ | اُتلُو | ===== |
| وَلتَاتِ | تَأتِيِ | === |
| اِخشَ | اِخشَو | ===== |
| اِرضَ | اِرضَی | ===== |
| لم یَرضَ | یَرضَیَ | ===== |
| اُمحُ | اُمحُو | ===== |
| لَاترمِ | لَاترمِی | ===== |

## درو شپیتم(۶۳) قانون

در التقاء ساکنین علی غیر حده اگر ساکن اول غیر مده واو جمع باشد ان

را حرکت ضمه مید هند وجوبًا واگر ساکن اول غیر مده یایٔ واحده باشد

آن را حرکت کسره می دهند وجوبًا.

**دقانون خلاصه:** په التقاء ساکنین (علی غیرحده) کښې که چیري ساکن اول غیرمده واو دجمعي وي وهغه واو ته حرکت دضمې ورکول واجب دی او که چیري اول ساکن غیرمده نه وي بلکه (یا) د واحدي صیغې وي نو وهغې ته حرکت دکسرې ورکول واجب دی.

www.jamairahmani.org

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (لَتُدعَوُنّ او لتُدَعَيِنَّ ) قانون دی. ددې دپاره دوه حکمه دي دهرحکم لپاره يويو شرط دی. **اول حکم:** واو دجمع ته حرکت دضمې ورکول واجب دی. **شرط:** په ( التقاء ساکنين علي غير حده ) کښې به واو غيرمده علامه د ( جمع مذکر ) وي احترازي مثال( لَوِاستَطَعنَا ) دلته واو علامه دجمع نه دی. **اتفاقي مثال:** د (لتُدعَونَّ) څخه ( لَتُدعَوُنَّ ) ويل واجب دي. **دوهم حکم:** يادواحدې ته حرکت دکسرې ورکول واجب دی. **شرط** په ( التقا ساکنين علي غير حده ) کښې به اول ساکن( يا ) علامه د تانيث وي احترازي مثال ( ضَارِبَي القَوم ) دلته يا دتثنيې علامه ده دتانيث علامه نه ده **اتفاقي مثال:** د ( لتُدَعَينَّ ) څخه ( لتُدَعِينَّ ) ويل واجب دي.

### د(لَتُدعَوُنّ او لتُدَعَيِنَّ) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| لِتُرضَوُنَّ | لِتُرضَونَّ | د (لَتُدعَوُنّ او لتُدَعَيِنَّ ) قانون |
| لِتُرضَيِنَّ | لِتُرضَينَّ | ===== |
| لِتُرخَوُنَّ | لِتُرخَونَّ | ===== |
| لِتُرخَيِنَّ | لِتُرخَينَّ | ===== |
| لِتُمحَوُنَّ | لِتُمحَونَّ | === |
| لِتُجثَوُنَّ | لِتُجثَونَّ | ===== |
| لِتُجثَيِنَّ | لِتُجثَينَّ | ===== |
| لِتُمحَيِنَّ | لِتُمحَينَّ | ===== |
| لِتُجلَوُنَّ | لِتُجلَونَّ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| لِتُجلَيِنَّ | لِتُجلَينَّ | ===== |

## خلور شپېتم (۶۴) قانون

واولام کلمہ( فُعْلٰی )اسمی یا میشو دو جو با، و(یا) لام کلمہ( فَعْلٰی )اسمی واو می شو دو جو بًا

**دقانون خلاصه:** د(فُعلَی اسمي) دلام کلمی( واو )په یاسره بدلول واجب دی، او د(فَعلَی اسمي ) دلام کلمی( یا)په واوسره بدلول واجب ده .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (تَقوَای فَتوَی اوډُعیَا ) قانون دی .ددې لپاره دوه حکمه دي اودهرحکم لپاره درې درې شرطونه دي .**اول حکم:** واوپه یا سره بدلول واجب د ی . **اول شرط:** واوبه په مقابل کښې دلام کلمې راغلی وي .احترازي مثال( وُعدَای) **دوهم شرط:**په فُعلی وزن کښې به راغلی وي احترازي مثال (دَعوَی )داوزن د(فَعلَی ) دی .**دريم شرط:** په (فُعلَی اسمي ) کښې به وي احترازي مثال : (غُزوَی ) دافُعلی صفتي دی .په معنی دجنګ کوونکي ښځي دی . **اتفاقي مثال** د (دُعوَای، دُنوَی) څخه دُعیاَ او دُنیا ویل واجب دي **دوهم حکم:** یاپه واوسره بدلول واجب ده **اول شرط:**یابه دلام کلمې په مقابله کښې راغلې وي احترازي مثال (بَيضَا) دلته دعین کلمې په مقابله کښې راغلې ده .**دوهم شرط:** په( فَعلی )وزن کښې به وي احترازي مثال : (رُمیَا) داوزن د( فُعلَی دی نه د فَعلَی ) **دريم شرط:**په (فَعلی اسمي )کښې به راغلې وي احترازي مثال : (صَدیَی )په معنی د تږي ښځي . دافَعلی صِفتي دی نه اسمي .
**اتفاقي مثال:** د (بَقیَا اوتَقیا ) څخه (بَقوَی او تَقوَی ) ویل واجب دي .

www.jamairahmani.org

## د( تَقوَای فَتوَی اودُعیَا) دقانون اجراء.

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| رُضیَا | رُضوَا | د ( تَقوَای فَتوَی اودُعیَا ) قانون |
| رُخیَا | رُخوَا | ===== |
| فَتوَی | فَتیَا | ===== |
| غُنیَا | غُنوَا | ===== |
| عُلیَا | عُلوَا | === |
| بَقوَی | بَقیَا | ===== |
| تَقوَی | تَقیَا | ===== |
| کُنیَا | کُنوَا | ===== |
| کُبیَا | کُبوَا | ===== |
| قُضیَا | قُضوَا | ===== |

## پنځه شپېتم (۶۵) قانون

هر همزه که واقع شود بعد از الف (مَفاعِلُ) قبل یا ودر مفرد قبل از یاء نبود، آن را بیا مفتوحه بدل کنند وجوبًا، مگر آن همزه که واقع شده بود در مفردش بعد از الف چهارم جا چرا که آن همزه را در جمع بواو مفتوحه بدل کنند وجوبًا.

**دقانون خلاصه:** هرهغه همزه چې د (مَفَاعِلُ) تر الف وروسته راسي اوتر (یا) مخکښې وی اوپه مفرد کښې تر (یا) مخکښې نه وي راغلی هغه همزه په یا مفتوحه سره بدلول واجب دی. مګرهغه( واو) چې په مفرد کښې وروسته تر الف ثلورم ځای

www.jamairahmani.org

راسي ځکه چې په داسي صورت کښي همزه په جمع کښې په واو مفتوحه سره بدلول واجب دی .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د ( رَخاَيَا او خَطَايَاَ ) قانون دی . ددې لپاره دوه حکمونه دي دهرحکم لپاره يې درې درې شرطونه دي **اول حکم:** همزه په ( يايي ) مفتوحه سره بدلول واجب دی .**اول شرط:** همزه به وروسته تر الف د (مَفَاعِلُ ) راغلې وي احترازي مثال ( جاءٍ) داالف د ( فاعِلٌ )دی . **دوهم شرط:** همزه به تر ( يا ) مخکښې راغلې وي احترازي مثال (شَرَائِفُ )دلته يا نسته فا ده . **دريم شرط:** همزه به په مفرد کښې تر ( يا ) مخکښې نه وي راغلې . احترازي مثال ( جَوَائِيُ ) داد ( جَائِيَةٌ ) جمع ده . دلته په مفرد کښې همزه تر يا مخکښې راغلې دی . **اتفاقي مثال**( رَخايَا، خَطَايَا ) چې په اصل کښې ( رَخَاءِیُ، خَطَاءِیُ ) وو. **دوهم حکم:** همزه په واو مفتوحه سره بدلول واجب دی . **اول شرط**:همزه به دالف (مَفَاعِلُ ) څخه وروسته راغلې وي . احترازي مثال : ( سَئَلَ ) دلته الف مفاعِلُ نسته . **دوهم شرط:** همزه به تر ( يا ) مخکښې راغلې وي احترازي مثال (شَرَائِفُ )دلته يا نسته فا ده . **دريم شرط:** واو به په مفرد کښې څلورم ځای وروسته تر الف راغلې وي . احترازي مثال (رَخَائِيُ مفرد يې ( رَخِيوَةٌ) دی . دلته واو تر الف وروسته نه دی راغلې . **اتفاقي مثال** د (اَدَائِوُ) څخه (اَدَائِیُ) اوبيا د ( اَدَائِیُ) څخه ( اَدَاوَیُ ) بيا (اَدَاوَای ) ويل واجب دي .

## د ( رَخاَيَاَ او خَطَاَياَ ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| مَطَايَاَ | مَطَائِيُ | د ( رَخاَيَا او خَطَايَاَ ) قانون |
| بَلاَيَا | بَلاَئِيُ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| هَدَایاَ | هَدَائِيُ | ===== |
| بَقَایاَ | بَقَائِيُ | ===== |
| ضَحاَیا | ضَحاَئِيُ | === |
| سَرَایا | سَرَائِيُ | ===== |
| قَضَایَا | قَضَائِيُ | ===== |
| عَشَایاَ | عَشَائِيُ | ===== |
| حَوَایَا | حَوَائِيُ | ===== |
| رَکَایَا | رَکَائِيُ | ===== |

## شپږ شپیتم (۶۶) قانون

هر جائکه سه یا در یک کلمه جمع شوند باین طور که اول مدغم در ثاني وثالث مقابله لام کلمه آن ثالث را حذف کنند وجوبًا بانسیا منسیا بشرطیکه در مصغر باشد هم چنین اگر دو یا جمع شوند حذف یکی جائزاست چون (سَیِّدٌ) که اورا (سَیدٌ) خواندن

**دقانون خلاصه:** هرځای چې درې دانې (یاګاني) په یوه کلمه کښې سره یوځای سي په داسي شکل سره چې اوله په دوهمي کښې مدغمه وي او دریمه پربرابری دلام کلمې راغلې وي نوهغه دریمه ګرسره حذف کول واجب ده خو په دې شرط چې په اسم مصغر کښې به وي . همدا شان که چیري په یوې کلمه کښې دوې یاګاني جمع کړل سي نو دیوې حذف کول جائز دي لکه د (سَیِّدٌ) څخه (سَیدٌ) ویل رواه دي .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (رُخَيٌّ،رُخَیَّةٌ) قانون دی . ددې لپاره یوحکم او پنځه شرطونه دي .

**حکــم:** دد ریمي (یـا) حـذف کـول نسیًا او منسیًا (یعنی پـر مـخ ګـر سـره) واجب دي

www.jamairahmani.org

**اول شرط:** دري ياګاني به سره يوځای سوي وي احترازي مثال (حَيَّ) دلته دوې داني دي اصل يې (حَيِيَ) وو **دوهم شرط :** درې سره به په يوه کلمه کښې وي احترازي مثال (حَيٌّ يَعقوبَ) دلته په دوو کلمو کښې دي . **دريم شرط :** په يوه کلمه کښې به اوله يا په دوهمې يا کښې مدغمه وي احترازي مثال : (حَيِيٌّ) دلته دوهمه يا په دريمې کښې مدغم سوې ده . **څلورم شرط:** دريمه (يا) به په مقابل کښې دلام کلمې راغلې وي احترازي مثال (مُقَيِّلٌ) دلته دريمه (يا) دلام کلمې په مقابله کښې نه ده راغلې . **پنځم شرط :** صيغه به د تصغير وي احترازي مثال (حَيِّيَ، مُحَيِّيٌ) داد فعل او جار مجرى فعل صيغې دي . **اتفاقي مثال** (رُخَيِّوٌ، رُخَيِّوَةٌ) چې د دِعِيٌّ په قانون سره يې و او په يا بدل سو نو (رُخَيِّيٌ، رُخَيِّيَةٌ) بيا په دغه قانون سره يې يوه يا ورځخه حذف کړه نو (رُخَيٌّ،رُخَيَّةٌ) ځني جوړ سوله .

## د (رُخَيٌّ،رُخَيَّةٌ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| رُضَيٌّ | رُضَيِّيٌ | د (رُخَيٌّ،رُخَيَّةٌ) قانون |
| رُضَيَّةٌ | رُضَيِّيَةٌ | ===== |
| اُدَيَّةٌ | اُدَيِّيَةٌ | ===== |
| مُعَيٌّ | مُعَيِّيٌ | ===== |
| مُعَيَّةٌ | مُعَيِّيَةٌ | === |
| عُطَيٌّ | عُطَيِّيٌ | ===== |
| عُطَيَّةٌ | عُطَيِّيَةٌ | ===== |
| قُوَيٌّ | قُوَيِّيٌ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| قُوَيَّةٌ | قُوَيِّيَةٌ | ===== |
| نُهيَّةٌ | نُهيِّيَةٌ | ===== |

## اووه شپږتم (۶۷) قانون

هر واو و یاء که واقع شود قبل تاي تانیث یا زیادتي (فَعُلان) ماقبلش واو مضموم باشد، ضمه ماقبلش را بکسره بدل کنند وجوبًا اگر غیر واو باشد آن یا را بواو بدل کنند. و واو بر حال خود باشد .

**دقانون خلاصه:** هرهغه (واواویا) چې ترتادتانیث مخکښې راسي یاد (فَعُلانٌ) ترزائدو حروفو مخکښې راسي او ترهغوي مخکښې بل واو مضموم هم وي نو دماقبل ضمه یې په کسرې سره بدلول واجب ده او که چیري مخکې ترهغه (واواویا) بل واو نه وي نو (یا) په (واو) سره بدلول او (واو) پرخپل حال پریښوول واجب دی .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د (قَوِیةٌ، قَوِیَانِ) قانون دی .ددې لپاره دوه حکمه او دهرحکم لپاره درې درې شرطونه دي. **اول حکم:** د(واواویا) څخه مخکښې ضمه په کسرې سره بدلول واجب ده. **اول شرط:** واو او یا به وي احترازي مثال : (ضَرَبَت ، سَمِعَت) **دوهم شرط:** (واواویا) به مخکښې ترتادتانیث یا ترزیادتي د(فَعُلانٌ) واقع وي احترازي مثال (رَخُوَ، نَهُیَ) دلته یو لا هم نسته . **دریم شرط:** ترواواویامخکښې به بل واو مضموم هم راغلی وي احترازي مثال (رَخُوَت، نهُیَت) دلته نسته **اتفاقي مثال:** د (قَوُوَةٌ، قَوُوانِ، څخه قَوِوَةٌ، قَوِوانِ) جوړ سوله وروسته بیاد (دُعِيَ) په قانون سره قَوِیَةٌ قَوِیانِ سوله .هم دغه حکم د طَوِیَةٌ او طوِیَانِ دی . **دوهم حکم:** یا په واو سره بدلول او واو پرخپل حال پریښودل واجب دی .**اول شرط:** یا او واو به وي احترازي مثال :

(ضَرَبَت ، سَمِعَت ) دلته واو او يا نسته . **دوهم شرط:** واو او يا به مخكښې ترتاد تانيث يا مخكښې تر زيادتي د ( فَعُلانٌ ) راغلي وي احترازي مثال:( نَهُوَ طَوُیَ ) دلته يو هم نسته . **دريم شرط :** ترواو او يا مخكښې به بل مضموم واو نه وي راغلی احترازي مثال (قَوُوَت طَوُوُت) دلته راغلی دی . **اتفاقي مثال:** د ( رَخُيَةٌ رَخُيَانِ ،او نهُيَةٌ، نَهُيَانِ ) ځځه (رَخُوَةٌ، رخُوَانِ ،نهُوَةٌ، نهُوَانِ ) ويل رواه دي .

## د ( قَوِيةٌ،قَوِيَانِ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| طَوِيَانِ | طَوُوَانِ | د ( قَوِيةٌ، قَوِيَانِ ) قانون |
| رَخُوةٌ | رَخُيَةٌ | جوازي |
| طَوِيَةٌ | طَوُوَةٌ | وجوبي |
| رَخُوَانِ | رَخُيَانِ | جوازي |
| رَمُوَانِ | رَمُيَانِ | جوازي |
| رَمُوَةٌ | رَمُيَةٌ | جوازي |
| نَدُوَانِ | نَدُيَانِ | جوازي |
| هَوِيَةٌ | هَوُوَةٌ | وجوبي |
| يَدُوَة | يَدُيَةٌ | جوازي |
| نَوِيَةٌ | نَوُوَةٌ | وجوبي |

## اته شپيتم(۶۸) قانون

هر ياء كه واقع شود در اخر فعل وما قبل او مضموم باشد آن را بواو بدل كنند وجوبًا .

**دقانون خلاصه:** هرهغه (يا )چې په اخركښې دفعل راسي او ماقبل يې مضموم وي هغه

یاپه واوسره بدلول واجب ده .

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د ( رَمُو ) قانون دی . ددې لپاره یوحکم اودوه شرطونه دي **حکم:** یاپه واوسره بدلول واجب ده **اول شرط:** یابه په اخرکښې دکلمې راغلې وي احترازي مثال (بُيِعَ ) دلته په مینځ کښې راغلې ده . **دوهم شرط:** دیاماقبل به مضموم وي احترازي مثال (رَمَی) دلته مفتوح دی. **اتفاقي مثال:** د (رَمُيَ) څخه (رَمُوَ) ویل واجب دي.

## د ( رَمُو) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| خَشُوَ | خَشُيَ | د ( رَمُو) قانون |
| كَنُوَ | كَنُيَ | ===== |
| يَكْنُو | يَكنُيُ | ===== |
| نَهُوَ | نَهُيَ | ===== |
| سَعُوَ | سَعُيَ | === |
| ينهُوُ | ينهُيُ | ===== |
| نَدُوَ | نَدُيَ | ===== |
| يَدُوَ | يَدُيَ | ===== |
| نَمُوَ | نَمُيَ | ===== |
| يَندُو | يَندُيُ | ===== |

www.jamairahmani.org

# دمهموز قوانين

## نهه شپېتم(۶۹) قانون

هر همزه، ساکن، مظهر که ماقبلش متحرک باشد همزه در دیگر کلمه ماسوائی همزه مطلقاً آن همزه ساکن رابوفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جوازاً بشرطیکه باعث تحریکش موجود نباشد.

**دقانون خلاصه:** هرهغه همزه چي ساکن او ښکاره وي او ماقبل يي متحرک وي که ماقبل يي بل همزه وو نو دا شرط دی چې په جلا جلا کلمه کښې به وي او که مخکښې حرف يې همزه نه وو نو بيا حکم مطلقًا دی، که په يوه کلمه کښې وي او که په جلا جلا کلمو کښې وي نو هغه ساکنه همزه په داسي حرف علت سره چي د ماقبل حرکت يي خپل د جنس څخه وي بدلول جائزده خو په دې شرط چې سبب د متحرک والي به يي موجود نه وي.

## دقانون شرح او تفصيل

دا قانون د ددې قانون نوم د (يَأْمَنُ، يُؤْمِنُ) قانون دی.ددې لپاره يو حکم او پنځه شرطونه دي **حکم:** همزه په داسي حرف علت سره بدلول جائزدی چي د ماقبل حرکت يي د خپل جنس څخه وي. **اول شرط:** همزه به ساکنه وي احترازي مثال (سَاَلَ) دلته مفتوح دی. **دوهم شرط:** همزه به مظهره يعني ښکاره به وي احترازي مثال( سَأَّلَ ) دلته مدغم دی. **دريم شرط:** ماقبل به يي متحرک وي احترازي مثال (يَسْئَلُ) دلته ساکن دی. **څلورم شرط:** تردغي همزې مخکښې به بله همزه په دغه کلمه کښې نه وي راغلې. احترازي مثال ( اءمَنَ ) دلته راغلې ده لهذا دلته همزه په حرف علت سره بدلول واجب ده او زموږ قانون جوازي دی. **پنځم شرط:** ددغي همزې دمتحرک کيدلو يو سبب او وجه به هم نه وي موجوده. احترازي مثال لکه (يأْمُمُ )چي دادغام په صورت کښې به (يَأُمُّ )سي

www.jamairahmani.org

يعني دميم حركت به همزه ته وركړل سي. **اتفاقي مثال** د (يُؤمِنُ شخه يُومِنُ اوديأمَنُ شخه يامَنُ) ويل جائزدي او همداشان د (اَلقَارِئُ أتُمِنَ) شخه (اَلقَارِئُ أتُمِنَ) ويل جائز دي.

## د ( يَأمَنُ ،يُؤمِنُ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| ذِيبٌ | ذِئبٌ | د ( يَأمَنُ ، يُؤمِنُ) قانون |
| ياخَذُ | يأخَذُ | ===== |
| مُومِنُونَ | مُؤمِنُونَ | ===== |
| يُوخَذُ | يُؤخَذُ | ===== |
| يُوفَكُونَ | يُؤفَكُونَ | === |
| رَاسٌ | رَأسٌ | ===== |
| مُوصَدَةٌ | مُؤصَدَةٌ | ===== |
| مِيخَذٌ | مِئخَذٌ | ===== |
| مُوتَمَرٌ | مُؤتَمَرٌ | ===== |
| تَامِيرٌ | تَأمِيرٌ | ===== |

## اويايم (٧٠) قانون

هر همزه ساکن، مظهرکه ماقبلش دیگر همزه متحرک باشد از آن کلمه، آن همزه ساکن رابوفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند وجوبًا بشرطیکه باعث تحریکش موجود نباشد اگر همزه وصلی باشد دردرج کلام بیفتد و همزه ثاني بصورت خود عود میکنند وجوبًا مسکر (کُل و مُر و خُذ) شاذاند

**دقانون خلاصه:** هرهغه همزه چي ساكنه وي اوښكاره وي مخكښې تر هغې په هغه يوه كلمه كښې بله متحركه همزه هم وي نو هغه ساكنه همزه په داسې حرف علت سره چې دماقبل حركت يي دهغه سره موافق وي بدلول واجب ده خوپه دې شرط چې دمتحرك والي سبب به يي موجودنه وي كه چيري اوله همزه وصلي وي نوپه مينځ كښې دكلام به حذف كيږي اودوهمه همزه بيا بيرته راګرځي مګرپه( كُل، خُذ،مُر) كښې چې دامرحاضرصيغې دي خو بيا هم همزي عود او راګرځېدل نه دي كړي داد (قاعدې مخالف داستعمال موافق ) شاذ دی كوم چې قاعدې ته تاوان نه سي رسولاى .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د ( اَمَنَ اُومِنَ ) قانون دی . ددې لپاره دوه حكمه دي داول حكم لپاره پنځه شرطونه اوددوهم حكم لپاره اووه شرطونه دي

**اول حكم:** همزه په داسي حرف علت سره چې دماقبل حركت يي دخپل جنس څخه وي بدلول واجب ده **اول شرط:** همزه به ساكنه وي احترازي مثال ( سُئِلَ ) **دوهم شرط:** همزه به ښكاره وي احترازي مثال (سَئّلَ ) دلته مدغمه ده . **دريم شرط:** مخكښې به يي بله متحركه همزه وي احترازي مثال( قَرَءٌ ) دلته يې مخكښې ساكنه همزه ده . **څلورم شرط:** دواړي همزې ګاني به په يوه كلمه كښي وي احترازي مثال ( أ أَنذرْتُم )دلته دوې كلمې دي . **پنځم شرط:** سبب دمتحرك والي به يي موجودنه وي احترازي مثال ( أءُمٌّ )چې په اصل كښې (اَئمُمُ )وو دادغام دوجې څخه (أءُمٌّ ) سو او همدغه ادغام سبب دی دمتحرك كيدلو . **اتفاقي مثال:** د ( اَءمَنَ أءمِنَ اِءمانًا ) څخه ( اَمنَ اُومِنَ اِيمانًا) ويل واجب دي . **دوهم حكم:** دهمزه وصلي دحذف كيدلو څخه وروسته بيرته دوهمه همزه وخپل اصلي حالت ته راګرځول واجب ده .ددغه حكم اولني پنځه شرطونه دتير حكم دپنځو شرطونو په شان دي . **شپږم شرط:** اوله همزه به وصلي وي احترازي مثال( اَءمَنَ )دا همزه قطعي ده ځكه چې دافعال باب دی.

**اووم شرط:** همزه وصلي به دكلام په مينځ كښې واقع وي احترازي مثال ( أُءتُمِنَ) دلته په مينځ كښې نه دی واقع .

**اتفاقي مثال** (ضارِبٌ ءُتُمِنَ ) ددغه قانون په تير سوي حكم سره (ضارِبُ اُو تُمِنَ ) سو . اوس بيا ددغه حكم مطابق همزه وصلي حذف كوو او دوهمه همزه چي په واو سره بدله سوېده بيرته خپل اصلي حالت ته راګرځوو نو (ضارِبُنِ ؤ تُمِنَ ) ويل واجب دي .

## د (اَمَنَ اُومِنَ ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| اِيتَمَرَ | اِءتَمَرَ | د ( اَمَنَ اُومِنَ ) قانون |
| اُوتُمِرَ | اُءتُمِرَ | ===== |
| اِيتِمَاراً | اِءتِمَاراً | ===== |
| آكُلُ | اءكُلُ | ===== |
| آخُذُ | اَءخُذُ | === |
| آدَبُ | اَءدَبُ | ===== |
| اِيدَاباً | اِءدَاباً | ===== |
| آتِيكَ | آءتِيكَ | ===== |
| آمَنُوا | اَءمَنُوا | ===== |
| اُومِنَ | اُءمِنَ | ===== |

## يو اويايم (۷۱) قانون

هر همزهٔ مفتوحه که ماقبلش مضموم یامکسور باشد همزه در دیگر کلمه ماسوای همزه مطلقًا همزهٔ مفتوحه بوفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جوازًا

www.jamairahmani.org

**دقانون خلاصه:** هرهغه همزه چې مفتوح وي او ماقبل يي مضموم يا مکسور وي که يي مخکښې بله همزه وه هغه به په جلا کلمه کښې وي او که بل حرف وونو مطلقًا دغه حکم دی (يعني که په يوه کلمه کښې وي او که په جلا کلمه کښې وي) هغه همزه په داسي حرف علت سره چې ماقبل حرکت يي خپل دجنسه څخه وی بدلول جائز دي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (سُوِلٌ، مِيَرٌ) قانون دی . ددې لپاره يو حکم او درې شرطونه دي.

**حکم:** همزه په داسي حرف علت سره چې دماقبل حرکت يې دخپل جنس څخه وي بدلول جائزده **اول شرط:** همزه به مفتوح وي احترازي مثال (سُئِلَ) **دوهم شرط:** ماقبل به يي مضموم يا مکسور وي احترازي مثال (سَئَلَ) **دريم شرط:** که چيري ترهمزي مخکښې بله همزه وي نو په جلا کلمه کښې به وي احترازي مثال (اُؤَ ىدِمُ) دلته په يوه کلمه کښې دي .**اتفاقي مثال** د (سُؤِلٌ مِئَرٌ)څخه (سُوِلٌ، مِيَرٌ) ويل جائز دي .

### د (سُوِلٌ، مِيَرٌ) د قانون اجراء

| قانون | اصل | موزون |
|---|---|---|
| د (سُوِلٌ، مِيَرٌ) قانون | اُؤلِفَ | اُولِفَ |
| ===== | جُئَنٌ | جُوَنٌ |
| ===== | غُلامُ اَحمَدَ | غُلامُ وَحمَدَ |
| ===== | يُؤَدِّبُ | يُوَدِّبُ |
| === | مؤَيمِنٌ | مُوَيمِنٌ |
| ===== | سِئَمٌ | سِيَمٌ |
| ===== | تِئَمٌ | تِيَمٌ |
| == === | يُؤَا خِذُ | يُواخِذُ |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| مُوَكَّدٌ | مُؤَكّدٌ | ===== |
| سُوَالٌ | سُؤَالٌ | ===== |

## دوو اویایم (۷۲) قانون

هر دو همزه متحرکه اگر جمع شوند در یک کلمه اگر یک از ایشان مکسور باشد ثاني را بیا بدل کنند وجوبًا سوالي (اَئِمّةٌ) که درین جا جائزاست اگر هیچ یکی از ایشان مکسور نه باشد ثانی را بواو بدل کنند وجوبًا مگر (أءكرِمُ) شاذاست.

**دقانون خلاصه:** هرغه دوه متحرک همزه ګان چي په یوه کلمه کښې سره راسي که چیري یو ددې دواړو څخه مکسوره وي دوهم په یا سره بدلول واجب دی ماسواد (اَئِمَّةٌ) دکلمې څخه چي په دې ځاي کښې بدلول جائز دي. اوکه چیري یولاهم مکسوره نه وو نو دوهم همزه په واو سره بدلول واجب دی مګر (أُءَكرِمُ) شاذدی یعني دلته چي همزه ثاني په واوسره نه سوبدل بلکه حذف سو نو دا شاذدی.

## دقانون شرح او تفصیل

ددې قانون نوم د(جاءٍ ، شاءٍ) قانون دی. ددې لپاره دوه حکمه دي اودهرحکم لپاره څلور څلور شرطونه دي **اول حکم:** همزه په یا سره بدلول واجب دی. **اول شرط:** دوې همزې به وي احترازي مثال( سَئَلَ ) **دوهم شرط:** دواړي به متحرکي وي احترازي مثال (اَءمَنَ) دلته یوه ساکنه ده. **دریم شرط:** داوړي به په یوه کلمه کښې وي احترازي مثال( اَءَنذَرْتُم ) دلته په دوو کلمو کښې دي. **څلورم شرط:** یوه به دهغوی څخه مکسوره وي احترازي مثال (اَءَادِمُ) دلته دواړي مفتوحه دي. **اتفاقي مثال** د (جاءٍ شاءٍ) څخه ( جَاءِيٌ شَاءِيٌ ) جوړ سو بیا د ( یَدعُو او یَرمِي ) په قانون سره چي دیا ضمه حذف سوه نو ( جَائِین او شَائِین ) جوړ سو بیا دالتقاء ساکنینو دوجي څخه (ي) حذف سو

www.jamairahmani.org

(جاءٍ،شاءٍ) جوړ سو .

**دوهم حکم:** دوهم همزپه واوسره بدلول واجب دی . ددې حکم اول درې شرطونه داول حکم ددرو شرطونو په شان دي . **څلورم شرط:** ددواړوهمزه ګانو څخه بـه یـوه همزه لامکسوره نه وي احترازي مثال (جاءِءٌ) دلته یو مکسوره دی .**اتفاقي مثال:** د (اَءَادِمُ او اُءَیدِمُ څخه اَوَادِمُ،اُوَیدِمُ) ویل واجب دي .

## د (جاءٍ،شاءٍ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| بَاءٍ | بَاءِءٌ | د (جاءٍ ، شاءٍ) قانون |
| ضَاءٍ | ضَاءِءٌ | ===== |
| شَاءٍ | شَاءِءٌ | ===== |
| جَاءٍ | جَاءِءٌ | ===== |
| اَوَاسِفُ | اَءَاسِفُ | === |
| اَوَامِرُ | اَءَامِرُ | ===== |
| اَوَامِلُ | اَءَامِلُ | ===== |
| اُوَیمِلٌ | اُءَیمِلٌ | ===== |
| اَوَابِنُ | اَءَابِنُ | ===== |
| اَوَاخِرُ | اَءَاخِرُ | ===== |

## درو اویایم(۷۳) قانون

هر همزه متحرک که ماقبلش ساکن مظهر قابل حرکت باشد سوائی یائی تصغیر، ونون انفعال، وواوویائ مده زائده دریک کلمه حرکت آن همزه رانقل

کردہ بما قبل دادہ جوازًا همزہ را حذف کنند وجوبًا مگر (مَرَاَةٌ) شاذاست .

**دقانون خلاصه:** هرهغه همزه متحرکه چې ماقبل يې ساکن اوبنکاره وي اوقابل دحرکت وي خود تصغيريا به نه وي اونه به هم نون دانفعال وي اونه به هم (واو) و (يا) مده زائده وي اوپه يوه کلمه کښې راغلي وي . نو دهغې همزې حرکت رانقل کول وماقبل ته ورکول جائزدی اوهمزه حذف کول واجب دی مګر (مَرَاَةٌ) شاذ دی ځکه چې دهمزې حرکت دلته نه دی نقل سوی .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (يَسَئَلُ) قانون دی . ددې لپاره يوحکم او اوه شرطونه دي څلوروجودي دي اودرې عدمي دي . **حکم:** دهمزه حرکت رانقل کول وماقبل ته ورکول جائز دی او حذف کول يې واجب دي . **اول شرط:** همزه به متحرک وي احترازي مثال (يَأمنُ) **دوهم شرط:** ماقبل به يې ساکن وي احترازي مثال (سَئَلَ) **دريم شرط:** مظهر يعني غير مدغم به وي احترازي مثال يُسَئَّلُ) دلته مدغم دی . **څلورم شرط:** دهمزې ماقبل به دحرکت قابل وي احترازي مثال (سَاءَلَ تَسَاءلَ) دلته دهمزې ماقبل الف دی قابل دحرکت نه دی . **پنځم شرط:** دهمزې مخکښې به (يا) دتصغيرنه وي راغلې احترازي مثال (سُوَيئِلٌ) **شپږم شرط:** دهمزې مخکښې به نون دانفعال هم نه وي راغلی احترازي مثال (اِنئَطَسَ) **اوم شرط:** دهمزي مخکښې به واو يا (يا) مده زائده په يوه کلمه کښې نه وي راغلي . احترازي مثال( مَقرُوئَةٌ ،خَطِيئَةٌ) دلته په يوه کلمه کښې راغلي دي . **اتفاقي مثال** د (نَسئَلُ) څخه( يَسَلُ ) ويل جائز دي .

## د (يَسَئَلُ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| مَسَلَةٌ | مَسئَلَةٌ | د (يَسئَلُ) قانون |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| يَسَمُونَ | يَسَئَمُونَ | ===== |
| شَيٌ | شيءٌ | ===== |
| مُقٍ | مُقئِيٌ | ===== |
| اَسَامَ | اَسئَامَ | === |
| سِلالٌ | اِسئِلالٌ | ===== |
| حَمَاةٌ | حَمئَاةٌ | ===== |
| مُرٍ | مُرئِيٌ | ===== |
| خَبٌ | خباءٌ | ===== |
| يَسَلُ | يَسئَلُ | ===== |

## ثلور اويايم(٧٤) قانون

هر همزه كه واقع شود بعـد از يائي تصغير وواو ويامده زائده دريك كلمـه ان همزه را جنس ماقبـل كرده جوازا ادغـام ميكنند وجوبًا.

**دقـانون خلاصـه:** هرهغـه همزه چي وروستـه تريـا دتصـغيراو وروستـه تـرواو او يامـده زائده راسي په يوه كلمه كښې هغه همزه په جنس سره دماقبل كول جائزدی اوادغام كـول يي واجب دی .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د ( خَطيّةٌ مَقروّةٌ ) قانون دی .ددې لپاره يوحكم اودوه كامل شرطونه دي **حكم:** همزه په جنس سره دماقبل بدلول جائزدی اوجنس پـه جنس كښـې مدغمول واجب دی .**اول شرط :** همزه به وروسته تر ياد تصغير راغلی وي احترازي مثـال (اِنئَطَرَ) دلتـه همزه دنون انفعال وروسته راغلی دی .**اتفاقي مثال** د ( اُفَيئِسٌ شخه اُفييِسٌ ) ويـل جائز

www.jamairahmani.org

اوبيا (اُفيِّسٌ) واجب دي **دوهم شرط:** ترهمزي مخکښې به يود (واو ويامده زائده) څخه په يوه کلمه کښې راغلې وي احترازي مثال (شَرَكُو اَمَرَالله) دلته واو مده زائده په جلا کلمه کښې راغلې دی. **اتفاقي مثال** د (مَقرُوءَةٌ اوخَطِيئَةٌ) څخه (مَقرُووَةٌ اوخَطِييَةٌ) ويل جائز دي او بيا (مَقرُوّةٌ خَطيَّةٌ) ويل واجب دي.

## د (خَطيّةٌ مَقروّةٌ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| مَشِيَّةٌ | مَشِيئَةٌ | د (خَطيّةٌ مَقروّةٌ) قانون |
| مَطِيَّةٌ | مَطِيئَةٌ | ===== |
| سُوَيَّلٌ | سُوَيئِلٌ | ===== |
| قُوَيِّمٌ | قُوَيئِمٌ | ===== |
| اُفَيِّدَةٌ | اُفَيئِدَةٌ | === |
| اُبَيِّسٌ | اُبَيئِسٌ | ===== |
| اُلَيِّمٌ | اُلَيئِمٌ | == === |
| اُزَيِّرٌ | اُزَيئِرٌ | ===== |
| كَثِيَّةٌ | كَثِيئَةٌ | ===== |
| اُلَيِّمةٌ | اُلَيئِمَةٌ | ===== |

## پنځه اويايم (٧٥) قانون

هر دو همزه که جمع شوند در کلمه (غیر موضوع علی التضعیف) اول ساکن ثاني متحرک باشد آن را یا بدل کنند وجوبًا.

**دقانون خلاصه:** هرهغه دوه همزګان چې په داسي کلمه کښې سره يوځای سي چې

وضع يې دتضعيف لپاره نه وي (يعني مشدده به نه وي ) سوې اول همزه ساکن او دوهم متحرک وي نوهغه دوهمه همزه په( يا ) سره بدلول واجب دی.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (قِرَءیٌ) قانون دی. ددې لپاره يو حکم او درې شرطونه دي.

**حکم:** دوهمه همزه په ( يا ) سره بدلول واجب ده **اول شرط** چې دوي همزې به متصلې سره جمع سوي وي احترازي مثال (لُؤلُؤٌ) دلته سره متصلې او جمع نه دي. **دوهم شرط:** دوې همزې به په داسي کلمه کښې نه وي چې واضع مضاعفې جوړې کړې وي (يعني مشددې به نه وي ) احترازي مثال (سَأَّلَ تَسَائّلَ ) دلته کلمه موضوع على التضعيف ده (يعني مشدده ده ) .**دريم شرط:** اوله همزه به ساکنه او دوهمه همزه به متحرکه وي . احترازي مثال( اٰءمَنَ ) دلته بر عکس دي .**اتفاقي مثال** دقِرَءءٌ څخه (قِرَءیٌ ) ويل واجب دي .بيا د (يَامَنُ )په قانون سره ( قِرَایٌ ) ويل جائز دي .

## د (قِرَءیٌّ) دقانون اجراء

| قانون | اصل | موزون |
|---|---|---|
| د (قِرَءیٌ) قانون | فِرَءْءٌ | فِرَایٌ |
| ===== | طِرَءءٌ | طِرَايٌ |
| ===== | مُلَأءٌ | مُلَايٌ |
| ===== | قِرَءءٌ | قِرَایٌ |

## شپږ اويايم(۷۶) قانون

هر همزه متحـــرکه منفــردہ راکه ماقبلش نیز متحـــرکـــ باشد آن حـــرکت بوفق حـــرکت ماقبــل بحـــرفـــ علتـــ بدل کنند جوازًا نزد بعض.

www.jamairahmani.org

**دقانون خلاصه:** هرهغه همزه متحرکه چې يوازې وي او ماقبل يې هم متحرک وي په هغه حرکت سره : نو هغه همزه په داسې حرف علت سره چې د ماقبل د حرکت سره موافق وي بدلول جائز دي د ځينو صرفيانو په نزد .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (سَالَ) قانون دی . ددې لپاره يو حکم او څلور شرطونه دي.
**حکم:** همزه په داسې حرف علت سره بدلول چې د ماقبل حرکت يې ورسره موافق وي جائز دی **اول شرط:** همزه به متحرک وي احترازي مثال (رأسٌ) دلته ساکن دی . **دوهم شرط:** همزه به منفرده او يوازې وي احترازي مثال ( أُءَيدِمُ ) دلته دوه دي . **دريم شرط:** ماقبل به يې هم متحرک وي احترازي مثال( نَسئَلُ ) دلته يې ماقبل ساکن دی .
**څلورم شرط:** د ماقبل حرکت به هم هغه وي کوم چې پرهمزې باندې دی . احترازي مثال (سُئِلَ) دلته داسې نه دی . **اتفاقي مثال** د (سَئَلَ څخه سَال) او (کُفُوءٌ څخه کُفُوْ) ويل جائز دي.

## د (سَاَلَ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| مُطَّرِيَينِ | مُطَّرِءَينِ | د ( سَالَ) قانون |
| يَجرَوُونَ | يَجرَئُونَ | ===== |
| فَوَادَكَ | فَؤادكَ | ===== |
| مَنسَاةٌ | مَنسَئاةٌ | ===== |
| کُفُوٌ | کُفُءٌ | === |
| زَاَرَ | زَارَ | ===== |
| کَابَةٌ | کَأَبَةٌ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| مُتَبَارِيِينِ | مُتَبَارِءِين | ===== |
| اَنشَا | اَنشَاَ | ===== |
| اِستَاجِرنَ | اِستَأجِرنَ | ===== |

## اووه اویایم(٧٧) قانون

هر همزه منفرده مکسوره که ماقبلش مضموم باشد و مضموم بعد از کسره بواو، ویابدل کرده شود جوازاً نزد اخفش رحمة الله علیه .

**دقانون خلاصه:** هرهغه يوازي همزه مكسوره چي ماقبل يي مضموم وي او هغه مضمومه همزه چې ماقبل يې مكسوروي دامام اخفش رحمة الله عليه په نزد په واوسره(په اول صورت كښې )اوپه ياسره (په دوهم صورت كښې )بدلول جايزده.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د(سُوِلَ مُستَهزِئُونَ) قانون دی. ددې لپاره دوه حكمه اودهرحكم لپاره درې درې شرطونه دي. **اول حكم:** همزه په واوسره بدلول جائز ده. **اول شرط:** يوه همزه به وي احترازي مثال (جاَءٍٔ) دلته دوې دانې دي **دوهم شرط:** همزه به مكسوره وي احترازي مثال (سَئَلَ) دلته مفتوحه دی. **دريم شرط:** ماقبل به يې مضموم وي احترازي مثال( يَئِسَ ) دلته مفتوح دی. **اتفاقي مثال:** د(سُئِلَ ښخه سُوِلَ ) ويل جائز دي . **دوهم حكم:** همزه په ياسره بدلول جائز ده. **اول شرط:** يوه همزه به وي احترازي مثال (جاءٍٔ) دلته دوې دي . **دوهم شرط:** همزه به مضمومه وي احترازي مثال( سُئِلَ ) دلته مكسوره ده . **دريم شرط:** ماقبل به يې مكسوره وي احترازي مثال (لَئُمَ ) دلته مفتوح دی. **اتفاقي مثال** د(مُستهزِءُونَ ښخه مُستَهزِيُونَ ) ويل جائزدي .

www.jamairahmani.org

## د (سُوِلَ مُستَهزِئُونَ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| سُوِمَ | سُئِمَ | د (سُوِلَ مُستَهزِئُونَ) قانون |
| لُوِمَ | لُئِمَ | ===== |
| يَستفدِئُ | يَستفدِءُ | ===== |
| جَبَلٍ يَحُد | جَبَلُ أُحُدٍ | ===== |
| قَارِيٌ | قَارِءٌ | === |
| رُوِسَ | رُءِسَ | ===== |
| زُوِرُوا | زُءِرُوا | ===== |
| مُستَهزِيُونَ | مُستهزِءُونَ | ===== |
| سُوِلَ | سُئِلَ | ===== |
| مَشُومٌ | مَشئُومٌ | ===== |

## اته اويايم(۷۸) قانون

هر همزه وصلي مفتوحه که داخل شود بر آن همزه استفهام به الف کرده شود وجوبًا بمع باقي داشتن التقاء ساکنين.

**دقانون خلاصه:** هره همزه وصليه مفتوحه چې داخل سي پرهغې باندي همزه داستفهام هغه همزه په الف سره بدلول واجب ده سره دپاته ساتلو دالتقاءساکنينو پر خپل حال باندي .

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (آلآنَ، آلحَسَنُ) قانون دی. ددې لپاره يو حکم اودرې شرطونه دي

**حکم:** همزه په الف سره بدلول او التقاءساکنین پرخپل حال پریښوول واجب دي **اول شرط:** همزه به وصلي وي احترازي مثال ( ءَاَکْرَمَ ) دلته همزه قطعي ده . **دوهم شرط:** پر همزه وصلي باندي به همزه داستفهام داخل سوې وي احترازي مثال ( جَاءَ أَلحَسَنُ ) دلته همزه داستفهام نه ده پر داخله سوي .**دريم شرط:** همزه به مفتوحه وي . احترازي مثال : لکه (اِکتَسَبَ ) دلته مفتوح نه ده . **اتفاقي مثال:** دأَآلآنَ أَأَلحَسَنُ ثخه آلانُ او ألحَسنُ ويل واجب دي.

## د (آلآنَ،آلحَسَنُ ) دقانون اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| آمُنُ | اَءَامُنُ | د (آلآنَ، آلحَسَنُ ) قانون |
| آللهُ | اَاَللهُ | ===== |
| آالّذكَرَينِ | ءالذّكَرينِ | ===== |
| آلرَّجُلُ | ءآلرَّجُلُ | ===== |
| آلمَرءةُ | ءآلمَرءةُ | === |
| آلشّمسُ | ءَآلشَّمسُ | ===== |
| آلنَّاسُ | ءَآلنّاسُ | ===== |
| آلكَعبَةُ | ءَاَلكَعبَةُ | ===== |
| آلقَمَرُ | ءَآلقَمَرُ | ===== |
| آلنَّجمُ | ءَآلنّجمُ | ===== |

## نهه اويايم( ۷۹ ) قانون

هر کلمه که در آن زیاده از دو همزه جمع شوند تخفیف کرده میشود دوم

www.jamairahmani.org

چهارم باقی بر حال باشند.

**دقانون خلاصه**: په هر هغه کلمه کښې چي تر دوه زيات همزه راسي که چيري درې دانې همزه ګان وه نو دوهم همزه حذف کيږي . او که چيري څلور دانې يا پنځه دانې وه نو دوهم او څلورم حذف کيږي.

## دقانون شرح او تفصيل

ددې قانون نوم د (اَوَءىَ ءٌ) قانون دی . ددې يو حکم او يو شرط دی . **حکم**: په دوهم او څلورم همزه کښې تخفيف کول او نور پر خپل حال باندي پريښوول واجب دي .
**شرط**: دغه همزه ګان به تر دوو زيات وي . احترازي مثال (جَاءِءٌ) دلته دوه دانې دي **اتفاقي مثال**: د (ءَءَءِ ءَءٌ) څخه (اَوَءىَ ءٌ) ويل واجب دي . دوهم همزه د (اَوَادِمُ) په قانون سره په واو بدل سو او څلورم همزه د (قَرِءيٌ) په قانون سره په يا بدل سو . او پنځم پر خپل حال باندي پاته سو . لهذا د (ءَءَءِ ءَءٌ) څخه (اَوَءىَ ءٌ) جوړ سو .

## اتيايم (۸۰) قانون

## دمضاعف اول قانون

هر گاه که دو حرف متجانسين جمع شوند دراول کلمه ثلاثي مجرد و رباعي مجرد مطلقًا ادغام ممتنع است و دراول کلمه ثلاثي مزيد فيه جائزاست مطلقًا سوائي مضارع چرا که در مضارع وقتي جائزاست که حاجت سبب همزه وصلي نيفتد.

**دقانون خلاصه**: ددې قانون نوم دمضاعف يعني دمتجانسينو قانون دی . که چيري دوه حرفه ديوه جنسه څخه يو ځای ديوې کلمې په شروع کښې راسي بيا نو برابره خبره ده که هغه کلمه ثلاثي مجرد وي او رباعي مجرد وي او که رباعي مزيد فيه وي نو په دغه

دوو همجنسه حروفو کښي ادغام منع دی .دثلاثي مثال :لکه ( طَطَمَ ) درباعي مجرد مثال : لکه ( ضَضرَبَ ) درباعي مزيد فيه مثال : ( تَتَدَحرَجَ ) او که چيري دوه حرفه ديوه جنسه څخه دثلاثي مزيد فيه دماضي په شروع کښې راسي مطلقاً د (مطلقاً مطلب دادی که دماضي په شروع کښې دهمزه وصلي ضرورت وي او که نه وي ) نو هلته بيا ادغام جائز دی .که دهمزه وصلي ضرورت وي دهغه مثال : د ( تَتَارَکَ ) څخه اِتّارک او د ( تَتَرَّکَ ) څخه اِتَّرّکَ ويل رواه دي .او که دهمزه وصلي ضرورت نه وي دهغه مثال د ( فَتَتَارَکَ ) څخه( فَتَّارَکَ )ويل رواه دي .

او که په مضارع کښې دوه حرفه په شروع کښې ديوه جنسه څخه جمع سي او دهمزه وصلي ضرورت هم وي بيا ادغام ناجائز دی .لکه (تَتَضَارَبُ )په دې کښې ادغام نه دی جائز ځکه که ادغام وکړو دتا په تا کښې نو بيا دهمزه وصلي دراوړلو ضرورت دی .او که په مضارع کښې دهمزه وصلي دراوړلو ضرورت نه وو نو بيا ادغام جائز دی لکه د (فَتَتَضَارَبُ ) څخه فَتَّضَارَبُ ويل ځکه چي دلته دهمزه وصلي ضرورت نسته ( فا ) موجود ده .

## يواتيايم( ۸۱ ) قانون

## دمضاعف دوهم قانون

وا گردو متجانسين دراول نباشد اول ساکن ثاني متحرک باشند پس ادغام واجب است بوجود پنج شرائط. اول آن متجانسين دو همزه در کلمه غير موضوع على التضعيف نباشد. يعني در کلمه مخفف نباشد چنانچه (قَرِءِیْ که دراصل قرِءْءٌ بود). دوم آنکه اول متجانسين هاءوقف نباشد چنانچه (اَغَرَّهْ هِلَالُ) سوم آنکه اول متجانسين مده مبدل ابدال

جائز نباشد چنانچه (رِيَا) که دراصل رِءْيَا) بود. چهارم انکه اول متجانسین مده درآخر کلمه نباشد چنانکه (فِي يَومٍ) پنجم آنکه ادغام باعث التباس یک وزن قیاسي بدیگر وزن قیاسی نباشد چنانچه (قُووِلَ وتُقُووِلَ) که ملتبس میشود بـ قُوِّلَ وتُقُوِّلَ .

**دقانون خلاصه:** كه چيري دوه حرفه ديوه جنسه څخه دكلمې په شروع كښې نه وي بلكي په مينځ كښې يا په آخر كښې وي ليكن اول ساكن او دوهم متحرک وي ادغام كول واجب دی .

## دقانون شرح او تفصيل

ددغه قانون يو حكم او پنځه شرطونه دي . **حكم:** هر چيري چي دوه حرفه ديوه جنسه څخه جمع سي اول ساكن او دوهم متحرک وي نو ادغام كول واجب دی . **اول شرط:** دوه حرفه به ديوه جنسه څخه دوه همزه ګان په كلمه غير موضوع على التضعيف كښې نه وي (يعني دغه دوه حرفه به په كلمه مخففه كښې نه وي راغلي . احترازيې د قرِءْیٌ ) څخه وكړی دا په اصل كښې قَرِءٌ وو نو دلته دوه همزه په كلمه مخففه كښې راغلي دي لهذا زموږ قانون نه جاري كيږي . **دوهم شرط:** ددوو همجنسه حرفونو څخه به اول حرف ها دوقف نه وي احترازيې ( اَغَرَّهُ هِلالٌ ) څخه وكړی ځكه دلته ها دوقف انفصال غواړي كه چيري ادغام وسي انفصال بيا دمينځه څخه ځي نو زموږ دغه قانون په دغه مثال كښې نه جاري كيږي . **دريم شرط:** د دوو همجنسه حرفونو څخه به اول ساكن مده وي احتراز يې د (رِيَا) څخه وكړی ځكه دا په اصل كښې ( رِءْ يَا ) وو اول ساكن په اصل كښې همزه دی هغه په جوازي قانون سره په يا بدل سوی دی او دا يا اصلي نه ده لهذا قانون نه جاري كيږي . **څلورم شرط:** ددغه دوو همجنسه حرفونو څخه اول ساكن مده به دكلمې په آخر كښې نه وي احترازيې د (فِي يَومٍ )څخه وكړی دلته د (فِي )يا مده ده خو ليكن دكلمې

www.jamairahmani.org

په آخره کښې ده لهذا قانون نه جاري کيږي . **پنځم شرط:** د دغه دوو همجنسه حرفونو دادغام دوجي به ديوه باب صيغې دبل باب دصيغو سره نه مشابه کيږي . او که چيري التباس او مشابهت راتلی نو بيا قانون نه جاري کيږي .احترازيې دد ( قُووِلَ، او تُقُووِلَ) څخه وکړی ځکه دا تر ادغام وروسته (قُوِّوِلَ وتُقُوِّلَ )کيږي نو دباب تفعيل او تفعُّل دماضي مجهولي سره به يې مشابهت راسي . **اتفاقي مثالونه:** د (اِضرِب بِعَصَاکَ الحَجَرَ ) مخفف څخه : (اِضرِبّ بِعَصَاکَ الحَجَرَ ) مشدد ويل واجب دي .او د (مِن نَا )منفصل څخه (مِنَّا )مشدد متصل ويل واجب دي .

## دوو اتيايم(۸۲) قانون

## دمضاعف دريم قانون

اگر آن متجانسين هر دو متحرک باشد ادغام واجب است بوجود نو شرائط . اول آنکه : متجانسين مدغم فيه نباشد چنانچه (حَبَّبَ). دوم آنکه کسی از متجانسين زايد براي الحاق نباشد چنانچه (جَلبَبَ وشَملَلَ). دريم آنکه اول متجانسين تاي افتعال نباشد چنانچه (اِقتَتَلَ) چهارم: آنکه آن متجانسين دو واو در باب (اِفعِلاَل) نباشد چنانچه (اِرعَوَی) که دراصل (اِرعَوَوَ) بود. پنجم آنکه کسی از متجانسين مقتضی اعلال نباشد چنانچه (قَوِیَ) که دراصل (قَوِوَ) بود. ششم آنکه حرکت ثانی را عارضی نباشد چون: (اُردُدِ القَومَ) هفتم آنکه آن متجانسين دريک کلمه باشد چون (مَکَّنَنِي) واگر در دو کلمه باشد پس اگر ماقبل متحرک يا لين غير

مدغم باشد ادغام جائز است ورنه ممتنع. هشتم آنکه ان متجانسین دو یا نباشد چون (حَيِيِ) (رَمِيَيَانِ). نهم آنکه آن متجانسین در اسم بریکی ازین پنج اوزان نباشد. وآن اوزان این است. ( فَعَلٌ ، فِعِلٌ ، فُعُلٌ ، فِعَلٌ ، فُعَلٌ )

چون ( سَبَبٌ ، رِدِدٌ ، سُرُرٌ ، عِلَلٌ ، دُرَرٌ )

**دقانون خلاصه:** هر هغه کلمه چي دوه حرفه ديوه جنسه څخه په کښې راسي او دواړه هم متحرک وي نو په هغوی کښې ادغام کول واجب دی.

## دقانون شرح اوتفصيل

ددغه قانون يو حكم او يوولس شرطونه دي : **حكم:** په دوو متجانسينو حروفو کښې ادغام کول واجب دی.

**اول شرط:** دمتجانسينو څخه به اول حرف مدغم فيه نه وي احترازي مثال ( حَبّبَ ) دلته اول حرف با مدغم فيه ده **دوهم شرط:** دمتجانسينو څخه به يو حرف دپاره دالحاق نه وي اضافه سوی احترازي مثال جَلبَبَ ،شَمللَ دلته با ثاني او لام ثاني ديوه باب په بل باب پسې دالحاق دپاره راغلي دي . **دريم شرط:** دواړه متجانسين به متحرک وي احترازي مثال (مَددٌ ) داول دال په سکون سره يعني دلته اول دال ساکن دی **څلورم شرط:** متجانسين به دکلمې په سرکښې نه وي راغلي احترازي مثال (تَتَرّك ) دلته دکلمې په شروع کښې راغلي دي . **پنځم شرط:** دمتجانسينو څخه به اول حرف (تا ) دافتعال نه وي احترازي مثال (اِقتَتَلَ ) . **شپږم شرط:** دمتجانسينو څخه به يو حرف لا هم داعلال غوښتونکی نه وي يعني دمعتل دقوانينو څخه به يو لا هم نه په کښې جاري کيږي احترازي مثال ( قُوِوَ ) چې په اعلال سره ( قُوِیَ ) ګرځي .**اوم شرط:** متجانسين به دباب افعلال دوه واوه نه وي راغلي احترازي مثال (اِرعَوَوَ ) دلته دباب افعلال دوه واوه دي .

www.jamairahmani.org

**اتـم شـرط** د متجانسـينو څخـه بـه ددوهـم حـرف حركـت عـارضـي نـه وي احتـرازي مثـال (أُرْدُدِالقَومَ) دلته ددوهم دال حركت عارضي دى . دالتقاء ساكنينو دوجي وركړل سوى دى چي هغه دال ثاني او لام دي . **نهـم شـرط:** متجانسين بـه پـه يـوه كلمـه كښـې وي احترازي مثال ( مَكّنَنِي ) دلته پهدوو كلمو كښې راغلي دي . **لسم شرط:** متجانسين به دوې ياګاني نه وي احترازي مثال (حَيِيَ رُمَيِّيَانَ) **يوولسـم شـرط:** متجانسين بـه پـه يوداسي اسم كښې نه وي راغلي چي ددغو پنځو اوزانو څخه وي لكه: (فَعَلٌ، فِعِلٌ، فُعُلٌ، فِعَلٌ، فُعَلٌ ) چون (سَبَبٌ، رِدِدٌ، سُرُرٌ، عِلَلٌ، دُرَرٌ ) **اتفاقي مثال:** (مَدّ،فَرّ) چي په اصل كښې (مَدَدَ فَرَرَ) وو .

## د(مضاعف دقوانينو ) مختصره اجراء

| موزون | اصل | قانون |
|---|---|---|
| يَزَّكّى | يَتَزَكّى | د ( مضاعف ) قوانين |
| مُكَظِّمٌ | مُكتَظِمٌ | ===== |
| مُدَثِّرٌ | مُدتثِرٌ | ===== |
| اِطّهَّرَ | تَطهَّرَ | ===== |
| خَصَّمَ | اِخصَصَمَ | === |
| كَظَّمَ | اِكظَظَمَ | ==== |
| قَتَّلَ | اِقتَتِلَ | ===== |
| يخِصِّمُونَ | يَختَصِمُونَ | ===== |
| اِثَّاقَلتُم | تَثَاقَلتُم | ===== |
| غُلَّتَ | غُلِلَتَ | ===== |

www.jamairahmani.org

| | | |
|---|---|---|
| لَم يُصِرُّوا | لَم يُصرِرُوا | ===== |
| تُحِبُّوا | تُحبِبُوا | ===== |

## درو اتیایم (۸۳) قانون

هر اسم کي بروزن فِعّالٌ ماسوائي مصدر باشد اول حرف تضعیف ان

را بیا بدل کنند وجوبًا.

**دقانون خلاصه:** هرهغه اسم چې دفِعّالٌ پروزن وي ماسِوا دمصدر دصیغې څخه نو هغه مدغم حرف په یا سره بدلول واجب دی لکه (دِینَارٌ او شِیرَازٌ).

## دقانون شرح اوتفصیل

ددې قانون نوم د (دِینَارٌ او شِیرَازٌ) قانون دی ددې لپاره یو حکم او دوه شرطونه دي.

**حکم:** ددومتجانسینو حروفو څخه مدغم حرف په یا سره بدلول واجب دی. **اول شرط:** دغه اسم به پروزن د (فِعَّالٌ) وي احترازي مثال (غَفّارٌ) داد (فَعَّالٌ) پر وزن دی. **دوهم شرط:** هغه اسم به مصدر نه وي احترازي مثال (كِذّابٌ) داد باب تفعيل مصدر دی یعني اسم مصدر دی. **اتفاقي مثال:** د(شِرّازٌ دِنّارٌ) څخه (شِیرازٌ دِینارٌ) ویل واجب دي.

دچهار شنبې ورځ دماپښنین پا وبالا څلوربجې دشعبان دمیاشتې اووم تاریخ دالله جل جلاله په فضل او توفیق سره ددغه شرحي دتکمیل څخه فراغت حاصل سو. الله جل جلاله دي دغه ادنی کوشش زموږ او زموږ داستاذانو او شاګردانو او دمدرسې دټولو متعلقینو څخه په خپل لوړ او لوی دربار کښې قبول او مقبول وګرځوي آمین

الراقم العبدالضعیف عبدالحنان غفر له المنان

(۱۳۹۰ / ۴ / ۷ سرطان. ۱۴۳۳ / ۸ / ۷)

www.jamairahmani.org